څنګه چې الوتکه سرعت ترلاسه کوي ، هوا يی د وزرونو پرمخو ګړندي او ګړندي کیږی او لفټ رامینځته کوی. کله چې الوتکه یوه ټاکلې سرعت ته ورسیږي پیلوټ د الوتکې په لکی کی پنلونه برابره وی ترڅو د الوتکې پوزه پورته خوا ته وګرځي. دا حرکت قوي لفټ رامینځته کوي او الوتکه ځمکه پریږدي او د فضا په خوا حرکت وکا.



انځور 10.12  الوتکه په رنوی کی د بورته کیدو( ټیک اف) په حالت کی-پوزه یي له ځمکی پورته شوي (ویب پاڼه)



انځور 10.13  الوتکه له ځمکی هوا ته جګه  شوي (ویب پاڼه)

درنه الوتکه ، ډیر لفټ ، او په دې توګه ډیر سرعت ته اړتیا لری ترڅو دا له ځمکې څخه پورته شی. الوتکه هم اړتیا لري چې به توده ورځ د سړی ورځې په پرتله د الوتلو لپاره ګړندي لاړه شي.
توده هوا د سړی هوا په پرتله لږ تراکم (dense) لری. لږ کثافت د ورته سرعت لپاره لږ لفټ تولیدوي. په ورته ډول هر څومره چې الوتکه لوړیږی د هوا غلزت  کمیږی. الوتکې د نیویارک په څیر ځای کې د ډینور په څیر ځای ته چې لوړ دی د ځمکې نه د پورته کیدو  لپاره ډیر سرعت ته اړتیا لري ، کله چې نور ټول فکترونه (حالتونه) لکه دروند والي سره مساوي وی.
ډیری لویی جیټ الوتکې په ساعت کې شاوخوا ۱٦۰ مایلو حرکت ته ضرورت لری چی له مځکی پورته کیږی او د حرکت د میلان زاویه یی په پیل کی  تر15 درجو زیاته وی. هوا ته د الوتکې د وزرونو او د شاوخوا هوا د حرکت زاویې (angle of attack) د  لفټ ساتلو لپاره خورا مهم دي.
که چیرې د اټک زاویه یوه خطرناک حد (پنځه لس تر شل درجو پوری) کی وی په هغه حالت کی  د وزر په شاوخوا د هوا جریان ګډوډیږي او الوتکه لفټ له لاسه ورکوي.
د الوتکې د لا ډیرو ایروډینامیکه موثره کولو لپاره ، هغه ویلونه چې په کوم کې الوتکه په ځمکه کې حرکت کوی د الوتکې په پټ ځای کې بیرته هوا ته وړل کیږي وروسته له هغه چې  په هوا کی ځوړند وی چی پدی حالت کی به لږ ډرګ (د باد مقاومت) ولري  او  الوتکه کولی شي ګړندۍ الوتنه وکړي.



انځور 10.14 د الوتکی لنډینګ ویلونه د څوړند نه پټ ځای ته داخلیږي (ویب پاڼه)

### 10.10.3کروز

یوځل چې الوتکه په هوا کې خپل کروزینګ لوړوالي ته ورسیږي نو ټاکل شوی سرعت دوام لري کوم چې د پیلوټ لخوا ټاکل شوی او د هوایی ترافیک کنټرول لخوا تصویب شي. پدې حالت کې ، د انجین قوت له هغه ترتیب څخه چې جټ کولو ته اړتیا وه کموی ، او الوتکه یو منظم سرعت او د مځکی څخه معین لوړوالی ساتي. پدی حالت کی د الوتکې وزن او د وزرونو لخوا رامینځته شوي لفټ قواوی په دقیقه توګه مساوي دي. د کروز کولو لپاره هیڅ یومعیاري لوړوالی نشته. په عمومی توګه دا لوړ والی ۳۵،۰۰۰ فوټو په شا او خواکی دی . پدی لوړوالی کی د الوتني اوږدوالي ، د هوا شرایط ، د تنفس هوا او په اسمان کې د نورو الوتکو د موقعیت سره تړاو لری. د تګ راتګ سرعت (کروزینګ سرعت) یو ثابت ماک (Mach) نمبر چی د غږ د سرعت شاوخوا ۸۲ سلنه کیږی. دا په ساعت کې د ۵۵۰ میلو په یوه ساعت په شا او خواکی د ځمکې په سر سرعت دی.



انځور 10.15 الوتکه د کروز په حالت کی (ویب پاڼه)



انځور 10.16   الوتکه د کروز په حالت کی (ویب پاڼه)

د الوتنې په جریان کې ، پیلوټان معمولا په اسمان کې ټاکل شوي هوایی لارې ، یا لویې لارې تعقیبوي ، چې د الوتنې په نقشو کې په نښه شوي. ځینې جټ الوتکې په الوتکه کې د نیویګیشن سیسټمونه هم لري ترڅو له پیلوټانو سره مرسته وکړي چې خپله لاره ومومي. ځینې الوتکې د دې وړتیا هم لري چې د فضایی سپوږمکیو د سیګنلونو په مرسته خپل موقعیت په ګوته کړي. اوس دا د نړیوال موقعیت سیسټم په توګه پیژندل شوی. تجارتي الوتکې په ډیری توګه د GPS نه ګټه اخلی. د هوایی ترافیک کنټرول په لار ښونه او اجازه سره الوتکو ته  ټاکل شوي هوایی لارې تعینیږی او دوی په خوندي ډول ګټه تری اخلی.

## 10.10.4  د الوتکی راټیټیدل او لنډینګ

 پدې مرحله کې ، پیلوټ په تدریج سره الوتکه بیرته د ځمکې په لور راوړي . نهایی یا وروستی لاره له هوایی ډګر څخه په څو مایلوکی چې الوتکی په لوړوالی پوری تړاو لری پیل کیږي. پدې توګه د هوایی ترافیک کنټرول الوتکه د ځمکې ته د ښکته کیدو په ترتیب کې ځای ورکوی. په احتیاط سره یې د نورو ټولو الوتکو څخه چې نوموړی هوایی ډګر ته ځي جلا کوی. د کبنیناستو له پاره ګیر ټیټیږی او الوتکه نوره ورو کوي. سربیره پردې ، د الوتکې د وزرونو پورتنی څنډو پنلونه چې د فلپونو (Flaps) په نوم پیژندل کیږي ، د هوا جریان تیریدو زیاتوالي لپاره لاس په کار کیږي او پدې توګه سرعت او لوړوالی کموي. نور پنلونه ، چې دالیویټر او رډډر (elevator and rudder)   په نوم پیژندل شوي ، هم په کار اچول کیږی. او  هم د وزرونو  په مخ برخه کی پنلونه چی د سپویلرپه نامه دی شتون لری او دا راپورته کیږی او د هوا جریان مخه نیسی او د الوتکی سرعت راکموی.  د وزرونو په پورتنی برخه کې د پنلونو بل سیټ پورته کوي ، چې سپویلرز نومیږي ، چې د هوا جریان ګډوډوي او د باد مقاومت زیاتوي ، د انجنونو زور بیرته راټیټوي. البته د بریکونو پلي کول،  په ټکسي کې او پارکینګ د الوتنې وروستی مرحله د لومړي پړاو څخه برعکس ده. الوتکه د خپل قوت لاندې په سست رفتار کې د ټکسي په لاره او له هغه ځایه یوې معینی دروازې ته وړل کیږي. څنګه چې ډیری دروازې پوښ شوي رمپونو سره مجهز دي ، الوتکې عموما د دوی په نیږدی کی د خپل قوت لاندې پارک کیږي.



انځور 10.17 الوتکه د ټیټیدو په مرحله کی (ویب پاڼه)



انځور 10.18 الوتکه د ټیټیدو په مرحله کی (ویب پاڼه)




انځور 10.19 د الوتکی د شا یا عمده (Main Landing Gear) ټایرونه پر ځمکه لګیدلی او وروسته له هغه د پوزی ویل په خمکه لګیږي. *(ویب پاڼه)*




انځور 20 .10د الوتکی تول ټایرونه پر ځمکه لګیدلی *(ویب پاڼه)*

## 10.11 هغه قواوی چی په الوتکه عمل کوي

هغه قواوی چی په الوتکه عمل کوي په دی لاندی ډول دی:




انځور 10.21 هغه قواوی چی په الوتکه عمل کوی

**د لوډونو ډولونه:** په عمومی توګه دوه ډوله لوډونه شته چی په تحلیل او ټیستونو(ازموینو) کی باید په نظر کی ونیول شي.
ستاټیک لوډونه (Static Loads) چی ثابت حالت لری
فټیګ لوډونه (Fatigue Loads) چی د حرکتومحصول دی
ددی لوډونو د هر یوه اغیزی په الوتکه باندی باید و څیرل شی.

## 10.12 ایروډینامیک قواوی

په اساسي ډول په الوتکه څلور قواوی عمل او فعالیت کوي لکه لفټ (lift)، ډرګ (drag) ، زور(thrust)  او ثقل (gravity) (یا وزن).

په ساده اصطلاحاتو کې ، ډرګ د هوا مقاومت دی (شاته قوه) ، زور (ترست) د الوتکې د انجن قوه ده (مخ په وړاندې قوه) ، لفټ د پورته لور قوه ده او ثقل د ښکته لوري قوه ده.
نو د هوایی الوتکو د الوتلو لپاره ، زور باید د ډرګ څخه لوی وي او د لفټ قوه باید د ثقل قوی څخه لوړه وي. دا په حقیقت کې د حل یوه قضیه ده کله چې الوتکه الوتنه کوي یا پورته ځي. کله چې الوتکه په مستقیم او یوه سطحه کی الوتنه کې وي د لفټ او ثقل مخالفی قوی  متوازنی (انډول) دي. د ښکته کیدو په حالت کی، د جاذبې قوه له پورته کیدو ( lift) څخه لوړیږي او د الوتکې ډرګ باید د زور مخه ونیسي. لاندې انځور ښیي چې دا څلور قواوی  څنګه په الوتکه عمل کوي




انځور 10.22 هغه قواوی چې په الوتکه عمل کړي

## 10.13 وزن(تول) (Weight)




انځور 10.23 انر شیایي قوه چې په الوتکه عمل کړي

د الوتکی وزن چی انر شیايي قوه  (Inertia and gravity) جوړه وی عبارت دی لدی لاندی شیانو:
د مسافرینو، د الوتکی د چلولوعمله، د  مسافرینو د وړلو شیان  اود *کڅوړو وزن* (baggage) ، کارګو او داسی نور بار ونه وړونکی شیان، د الوتکی وزن، خوراکه او نوری زخیره شوی بارونه او د الوتکی د تیلو وزن د داخلی  ټرل شوی سیستمونو او ټول هغه نور شیان چی په الوتکی کی د ننه ټرل شوی.

## 10.14 لفټ (Lift)

لفټ دهوا فشار دی چی الوتکه له ځمکی پورته لور ته خیژوی او د الوتکی وزن سره تعادل جوړوی




انځور 10.24 د لفټ قوه   چی په الوتکه عمل کړي

## 10.15زور (Thrust)

**زور  (Thrust) یا په قوت سره مخ په وړاندی عمل**

ټرسټ (Thrust) یا زور او مخ په وړاندی قوه ده چی انجن  يي جوړه وی. د انجن جوړ شوی قواوی عبارت دی له  مخ په وړاندی زور (Thrust) ، او په شاه تګ زور (Reverse Thrust)

د انجن کمپرسور ر اتلونکی هوا تر فشار لاندی راولی او شاه لور ته يي لیګی. کله چی تر فشار لاندی هوا د سوځیدونکی خونی څخه تیریری د تیلو سوځولو څخه انرژی تر لاسه کوی.

ګرمه پراخه شوی هوا توربین په څرخولو راولی. هغه هوا چی له توربین  څخه بهر ته وځی سرعت یی له راتلونکی هوا په پرتله ډیر لوړ دی او دا زور یا مخ په واندی قوه مینځ ته راولی.




انځور 10.25 د زور قوه چې په الوتکه عمل کوی

زور د الوتکي انجن (پروپیلر یا جیټ) لخوا رامینځته ته کیږی ، د جاذبې قوه طبیعي قوه ده چې په الوتکه عمل کوي او ډرګ د هوا له استحکاک نه پیدا کیږی، کله چې الوتکه د هوا مالیکیولونو څخه په حرکت تیریږی. ډرګ د پورته کولو لپاره عکس العمل هم دی ، او دا لفټ باید په الوتني کې د الوتکي لخوا تولید شي. دا لفټ د الوتکي د وزرو لخوا چې په حرکت کې وی ترسره کیږي.




انځور 10.26 د ډرګ قوه چې په الوتکه عمل کوی

## 10.16ډرا ګ (Drag)




انځور 10.27 د ډرګ او لفټ قوی چې په الوتکه عمل کوی

د پورته کیدو (Lift) مستقیم عکس العمل ډرګ (drag) مینځ ته راتلل دی او دا هم د هوا له سرعت سره تړاو لري. د هوا پوټوکي (airfoil) اړتیا لري چې باید داسي ډیزاین شي تر څو پورته کیدل یا لفټ اعظمي او ډرګ لږ کړي .
د لفټ د را مینځ کیدو یو مهم فکتور د برید زاویه (angle of attack) ده - دا هغه زاویه ده چې وزر یي د افقي هوا د جریان په لور جوړه وي . څومره چې د برید زاویه ډیریږي ، لفټ هم

زياتوالي پيداکوي. مگر دا تر يو حد پوري که چيري د هوا جريان د وزر له پاسه مات شي د لفت دوام له مينځ ځی او بیاهوا د الوتکی وزن ساتلي نشی او د ستال (stall) حالت مينځ ته راځي.

## 10.17ځمکني بارونه (Ground Loads)

ځمکنی بارونه (ground loads) عبارت دی له: هغو لوډو نو څخه چې د الوتکی توینګ (Towing)، په رنوی تکسی روانیدل تر څو چې له ځمکی هوا ته پورته شی ( Taxi and takeoff)، او د لنډینګ (Landing) په و خت کی چې الوتکه مځکی ته کوزیږی.

## 10.18د الوتکی عمومي مو منټ او شير ډايګرام

د الوتکی مومنټ او شير دايگرامونه په لاندی ډول دی:




انځور 10.28 د الوتکی مومنټ او شير دايګرامونه

## 10.19د الوتکی محوری سيستم پيرندنه او خوځښت يی په هر محور

د الوتکی لپاره دا لاندی محوري سیستم کارول کیږي. خوځښت یی په هر محور هم بنودل شوي.




انځور10.29 د الوتکی محوری سیستم او تاویدل یا حرکت په هرمحور

## 10.20د الوتکی د منځنی فشار (Body internal pressure)




د کبین داخلی فشار (Internal Pressure) د الوتکي په پوټوکی ، سترینګرونو (تارونو) (stringers)، او فریم ( Frame) باندی اغیزمنی دی اوپه دوی کی عکسالعملی داخلی قواوی جوړه وی.




انځور 10.30 د الوتکی د جوړښت داخلی غړی

داخلی قواوی او سترسونه د فیوسلاج په پوستکی نارمل فشارونه دی چی په دی لاندی انځور کی ښودل شوي




انځور 10.31 د داخلی فشار څخه جوړ شوي قواوی د فیوزلاج په پتوکی کي







انځور 10.32 د داخلی فشار او بهرنی لوډونو جوړ شوي قواوي د فیوزلاج په تارونو (stringers) کی

د جوړښت انجنیران د الوتکو خوندي الوتنی، د بدنی هر برخی د لړ وزن لاسته راوړلو لپاره ډیری اړتیاو ته توازن ورکوي، د الوتکی د غړیو لړ وزن د الوتکی اختستونکی ته اعظمي ارزښت لری. هر څومره چی د الوتکی د برخو مړ یا ثابت وزن لړ وی الوتکه کولای شی چی ډیر بار او مسافرین د یوه ځاي نه بل ځاي ته یوسی.

د الوتکی پوستکی فشارونه یا سترسونه د الوتکی د فیوسلاج په داخل کی د هوا له امله عبارت دی :

## 10.21د فیوسلاج حلقوي (هوپ) فشار

د فیوسلاج حلقوي (هوپ) فشار

$$\sigma = \frac{PR}{t}$$

په دی معادله کی (P) د فیوسالاج د هوا فشار ، (R) د فیوسلاج شعاع او (t) د فیوزلاج د پوستکی ضخامت دي.

د مثال په توګه، که چیری دا لاندی ارزښتونه ولرو:

فیوزلاج د پتوکی ضخامت t = 0.130 cm

د فریم مساحت= $1.62\ cm^2$

= فیوزلاج شعاع 200 cm

فشار د فیوزلاج په پتوکی فرض کوو
چی په سلوکی پنځه اتیا (85%) د سلیندرد فشار دی، او په فریم کی به (65%) فرض کړو.

که چیری د فیوزلاج مابین فشار ($0.774\ kg/cm^2$) وی موږ د یو سلندر پتوکی داخلی فشار په اساس داسی لیکلی شو

$$\sigma = \frac{PR}{t}$$

$$\sigma = \frac{(0.85)(0.774)(200cm)}{.130}$$

$$\sigma = 1{,}012\ \ kg/cm^2$$

داخلی فشار په فریم کی:

$$\sigma = \frac{(0.65)(0.774)(200cm)}{.130}$$

$$\sigma = 774\ \ kg/cm^2$$

قوه په فریم کی یا د فریم لوډعبارت دي: فشار ضرب د مساحت د فریم

د فریم لود = σ (area) = 774 x (1.62) = 1,254 kg

## 10.22د الوتکی د فرش د بیم شیر او مومنت ډایگرام:







انځور 10.33 د الوتکی د فرش بیمونه چی د مسافرینو څوکی وربانديی اینودل شوی

د مسافر وزن د څوکی په واسط سیټ ترک (Seat Track) او له هغه انتر کاستل او بیا بیم ته لیږدول کیږی

د مسافرینو څوکی لوډ په اینتر کاستل اینودل شوی.

د فرش د بیم شیر او مؤمنت دایگرام




| د فیکسد ایند مؤمنت ارز بنتونه | فیکسد ایند بیم |
|---|---|
| $FEM_{AB} = -\frac{Pab^2}{L^2}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{Pa^2b}{L^2}$ |  |



| Example Numbers | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | $P_1$ | $P_2$ | a | b | L |
| | 600 | -580 | 50 | 200 | 250 |
| $M_L1$ | -19,200 | | | | |
| $M_L2$ | 4,640 | | | | |
| $M_L$ | -14,560 | | | | |
| **$M_L$** | **-5,824** | | | | |
| $M_{R1}$ | 4,800 | | | | |
| $M_R2$ | -18,560 | | | | |
| $M_R$ | -13,760 | | | | |
| | | | | | |
| **$M_R$** | **-5,504** | | | | |



40 % Fixity assumed
600 kg
580 kg
40 % Fixity assumed
M_L =-5,824kg cm
M_R =-5,504 kg cm
50 cm
50 cm
250 cm
R_L
R_R




409 kg
389
-191




146 kg m
55.04 kg m
-58.24 kg m
-140 kg m




Deflection
6
4
2
0
-2
-4
-6
0.5
1
1.5
2
2.5

# يولسم فصل

## د جوړښت د موادو ستړيا (فتيګ) او د ژوبلی تحمل
## (Fatigue and Damage Tolerance )

### 11.0 پيژندنه

دجوړښت د موادو ستړيا، يا فتيګ (Fatigue) د بهرنی پرله پسي بارونو د پلي کيدو اغيزه ده، چې په جوړښت کی ژوبله را مينځ ته کوي. په دی پروسه د جوړښت موادو کی د پر له پسی بار له امله راټول شوي ژوبله مخ په زياديدو وده کوی، اوکه چيری دا راټول شوی ژوبله يو جدي حد **(ماتيدو حد)** ته ورسيږی په موادو کی درزونه پيل کيږی او وروړو ډيريږی، په پايله کی د جوړښت ماتيدل مينځ ته راولي.




*انځور 11-1 د درز د بريده او وده په يوه فلزی عضو کی. منبع: د نړي ويب پانه*

پر له پسي بار په جوړښت کی داخلي فشار يا سترس (stress) او سترين (strain) جوړه وی . که چيری يو بار چی اندازه يي د موادو له ايلستيک حد لږ وي ، او په جوړښت يو ځل عمل وکړي خطرناک ندی د درز جوړيدل او د جوړښت د ژوبليدو او ماتيدو سبب نګرځي. اما که چيری په پر له پسی توګه، ځنګه چي په دی لاندی انځورونو کی ښودل شوی، دا بارعمل وکړی د جوړښت په موادوکی ژوبله راټوليږی او داخلی فشار چی پر له پسي (متواتر) تغير مومی ايجاد کيږي. او دا د وخت په تيريدو سره جوړښت درز پيدا کوي او وروسته ماتيږي.



انځور 11-2 د پله يوه برخه چی د فتيګ بار له مله ماته شوي. *د نړي ويب پانه*




انځور 11-3 دی هولند کامت (De Havilland Comets) الوتکی د موادو ستړیا درز او ماتیدل : د نړي ویب پاڼه




انځور 11-4 دی هولند کامت (De Havilland Comets) الوتکی د فتیګ (موادو ستړیا)درز په فریم: د نړي ویب پاڼه




انځور 11-5 دی هولند کامت (De Havilland Comets) الوتکی ماتیدل د فتیګ درز له امله: د نړي ویب پاڼه




انځور 11-6 دوه متره اوږد فتیګ درز د یوه پله په ګادر کی : د نړي ویب پاڼه

کله یو بهرنی بار چې اندازه يي د موادو له اعظمی توان ($F_{tu}$) سره برابره وی او په جوړښت عمل وکړی د اعظمی حد په رسیدو جوړښت ماتیږي.




انځور 7-11 بهرنی بار یو ځل عمل کړي

په دی لاندی انځور (8-11) کی بهرنی بار د موادو له ایلستیک حد لړ دی، اما د پر له پسی عمل له کبله فشار راټول شوي ژوبله په جوړښت کی وروسته له پنځه (5 cycles) سایکله **ماتیدو حد** ته رسیږی او په جوړښت کی درزونه پیدا او وروسته جوړښت ماتیږي.




انځور 8-11 بهرنی لود د موادو له ایلستیک حد لړ دی جوړښت سالم او په پنځه سایکله کی خطر ناک حد ته ورسیده.

پدی بل انځور کی (9-11) د بهرنی بار لوړحد د موادو له ایلستیک حد څخه لږ اما د پر له پسی عمل له کبله راتول شوی ژوبله په جوړښت کی وروسته له لس (10 cycles) سایکله **ماتیدو حد** ته ورسیده او په جوړښت کی درزونه پیدا او وروسته مات شو.




*انځور 9-11 بهرنی لود د موادو له ایلستیک حد لږ دی جړلښت سالم او په لس سایکله کی خطر ناک حد ته ورسیده.*

د فلزی جوړښتونو ژوبله او ماتیدل د موادو د ستړیا (فتیګ) له امله را مینځه ته کیږي، او ددی حقیقت په اساس د فتیګ د اغیزي پوهیدنه د ستاتیک او دینامیک تحلیل سره اړینه ده او باید وشي.

د ستاتیک تحلیل کړنلارې په پرتله د موادو د ستړیا تیوري نسبتاً نوې د تحلیل لاربنونه ده. د موادو د ستړیا پوهیدو اړتیاوی وروسته له هغه راپورته شوی کله چی صنعتی انقلاب فولاد په جوړښتونو کی معرفی کړل، خاصتاً د اورګاډی پټلي، پلونه او د کانونو تجهیزات.

په کال 1837 کی ویلیم البرټ ( Wilhelm Albert) د فتیګ په اړه لومړی مقاله خپره کړه او یوه ازموینه یي د کانونو تجهیزاتود ماتیدو په اړه تر سره کړه. په کال ۱۸۷۰کی واهلر (Wohler) د ریل پټلی په اکسلونو کي د خپل کار لنډیز وړاندې کړ، هغه دې پایلې ته ورسید چی د پر له پسی فشار پلی کیدو سایکلونو د حد له اعظمی فشار په پرتله ډیر د اهمیت وړ دی اود ذغملو فشار اندازه (endurance limit) یي معرفي کړه. په کال ۱۹۱۰کی باسکوین (O.H. Baswquin) د S-Nګراف جوړه ولو لپاره د لاګ - لاګ (Log-Log) محورونه او اړیکو وړاندیز وکړ او د واهلر د ازمویني ارقام یي پدی طرحه سره وښودل. په ۱۹٤٥کی اي ام ماینر (A.M. Miner) او پالمګرین (Palmgreen) خطی یوځای کیدل او د ژوبلی راټولول (damage) د عملي ډیزاین فرضیي په توګه معرفی کړه . په ۱۹٥٤کی ایل ایف کوفن ( L.F.Coffin ) او اس اس مانسن (S.S. Manson) د هغه درز چی پلاستیک حد یي د فتیګ له امله وده کوی یوه لیکنه په نشر وسپارله.

د فتیګ نظریه په ازموینه او د ازمینو په احصاییوی پایلو باندی استواره ده. د فتیګ ټولی معادلی د ازمینوله نتیجو حاصل شوي. هر جوړښت چی د وخت تابع بهرنی بارورباندی عمل کړي باید د فتیګ

لپاره تحلیل شي. د مثال په توګه د څرخید وماشینونه ، پمپونه، توربینونه، پکي، شافتونه، د فشارکځوری (pressure vessel) د ځمکی پر سر موټرونه، د اوبو ګاډي، الوتکی، پلونه، کرینونه، او داسی نور جوړښتونه چی دینامیک پر له پسی بار وربانذی عمل کړي.

یو ساده او آسانه د فتیګ ازمویني مثال پدی لاندی انځور کی ښودل شوي.




*انځور 11-10* د پر له پسی بار د ازمویني یوه نمونه

په انځور ( 11-10) ښودل شوی بیم د ازمویني لپاره لدی لاندی پر له پسی بار، د مثال په توګه، کار اخیستل کیدی شي.




انځور 11-11 پر له پسی بار کشش- او تیل وهل

## 11.1 د جوړښتونو د شنني ساحی ته کتنه:

کله چی یو جوړښت ددیزاین په مرحله کی وی باید یو لړپوښتنو ته ځواب وویل شي: د مثال په توګه د جوړښت په ژوند کی څومره سایکله پر له پسی بار عمل کړي. آیا غوارړی چی لا یتنهایي سایکلونه په ژوند کی په نظر کی ونیول شي. او د جوړښت د ژوند موده ، څه ډول وقفي راځی چی د هغو له مخه جوړښت وکتل شی.

## 11.2 فتيک د شنني ساحه

د تحليل لپاره بايد دالا ندی موضوعات  په نظر کی ونيول شي:

١ د فتيک د تحليل طريقه

٢ د بارونو ډول

٣ د فتيک  فکتورونه

۴ د اوسط سترس په نظر کی نيول

۵ د فتيک بارونه

## 11.3 د پر له پسی بار ډولونه او نموني

کله چی د اعظمی او اصغری پر له پسی بارونو  حد مساوی وی  دا په نامه د ثابت لوړوالی (Constant amplitude) بار پيژندل کيږی.  انځور ( 12-11) .  او که چيری توپير ولري په هغه صورت کی متغير لوړوالي يا تغيريدونکي امپليتيود (variable amplitude) بار په نامه ياديږی




انځور  12-11  د پر له پسی بار ثابت امپليتيود او بشپړ ډول بيرته را ګرځيدونکي




انځور 11-13 د پر له پسی بار اصغري بار صفر او اعظمی مثبت




انځور -11-14 متغیر امپلیتیود بار او د پلی کیدو د وخت تاریخچه یی

په دی لاندی انځور کی پرله پسی بار (Cyclic Load) اغیزه د سلندر به پتوکی کی د داخلی فشار خرنګوال بنودل شوي.




انځور 11-15 پر له پسی بار د یوه سلندر په پتوکی کی




انځور 11-16 پر له پسی بار د یوه سلندر په پتوکی کی

## 11.4 د پر له پسی بار (Cyclic Load) خاصیتونه او تعریفونه

په دی لاندی انځور کی د پر له پسی بارچی اوسط سترس صفر ندی بنودل شوي:




$$R = \frac{\sigma_{min}}{\sigma_{max}}$$

انځور 11-17 پر له پسی بار او د اوسط فشار بنودل

**د فشار اندازه(Stress Range)** $\Delta\sigma = \sigma_{max} - \sigma_{min}$ (11-1)

د فشار د لوړوالي حد اندازه (**Stress amplitude**) $\sigma_a = ½(\sigma_{max} - \sigma_{min})$ (11-2)

**د فشار اوسط حد اندازه (Mean Stress)** $\sigma_m = ½(\sigma_{max} + \sigma_{min})$ (11-3)

**د بار د کچی تناسب (Load ratio)** $R = \frac{\sigma_{min}}{\sigma_{max}}$ (11-4)

## 11.5 د سترس- سالمی مودي تګ لاره (Stress Life Theory)

د سترس – ژوند مودي تګلاره (Stress Life Theory) د سترس په ستاتیک خطی اړیکو استواره ده، او ستاتیک خطی ارزښتونو ته اړتیا لري. که چیری بار د پلستیستي حد په عضو کی را مینځ ته کړی په هغه حالت کی د سترین سالمی مودي (Strain Life Theory) له طریقی کار اخیستل کیدي شي.

د سترس- سالمی مودي (stress-life) کړنلاری بنسټ ، د ولر (Wohler) اس-ان (S-N) دیاګرام دی. دا ډیاګرام د پر له پسی سترس (□) اندازه او د سایکلو شمیر چی په موادو کی درز جوړه وی بنه یی او هغه موده اټکل کوی چی تولله شوی ژوبله یوه **ماتیدو حد** ته رسیږی او برخه درز پیدا او وده کوی چی په پایله کی جوړښت ماتیږي . د جوړښت د موادو ماتیدو سایکلونه د اس- ان (S-N) له دایګرامه پیدا کیدی شي.

د دی کړنلاري یوه لویه نیمګړتیا داده چی ټول سترین (strain) ایلستیک فرضیږی او هغه ریښتني اړیکی د سترس او سترین (true stress strain relation) په حساب کی نه نیول کیږی. دا فرضیه په هغه حالت کی د اعتباروړ ده کله چی د پلاستیکی برخه په ټول سترین کی وړه وی. په عامه توګه د فولادی (steels) موادو د ستړیا موده اوږده وی او وړه برخه یی پلاستیکی سترین جوړه وی، پدی اساس د فولادی جوړښتونو لپاره له دی کړنلاري کار اخیستل کیدی شي.

## 11.6 د اس- ان شمیره یی ډایګرام (S-N curve)

د موادو د پر له پسی سټریا (فتیګ) اس- ان دایګرام (S-N curve) د یو لړ ازموینو د پایلو له معلوماتو په لاس راځي. که چیری د پلی شوی سټرس اندازه او د پر له پسی بارونو شمیر چی په موادو کی درز رامینځ ته کوی په یو دایګرام ښکاره کړو، دا لاندی انځور چی اس- ان دایګرام نومیږي ورځینی جوړیږي.




انځور 11-18 د پر له پسی بار د زغملو حد

د ازموینی اوسط ارقام په لاګ-لاګ (Log-Log) محوررونو ښودل کیږي. فلزونه عموماً کله چی د فشار اندازه پکښي له یوه حده ټیټه وی لا محدوده سالمه موده (Infinite life) لری او دا په یوه افقی کرښه په اس ان (S-N) ګراف کی ښودل کیږي. د دی حد ارزښت د ازموینې په واسطه پیدا کیږي اودا حد ($N_e$) په نامه د زغملو حد یا ایندورنس لیمت (Endurance Limit) پیژندل شوي.

یو لړ مواد شته چی د زغملو حد (Endurance limit) نلري . د زغملو حد هغه سټرس دی چی تر هغه حد لږ د جوړښت مواد د پر له پسی بار لا یتناهی شمیرو د تحمل توانایي لری او درزونه پکی مینځ ته نه راځي. پام کی باید وی که چیری ډیر لوړ بار (Over Load) پری عمل وکړی بیا دا د تحمل توان حد له مینځه ځي.




انځور 11-19 د پر له پسی بار د زغملو حد

د فولادی موادو اس-ان ډایګرام لپاره د دی لاندی اړیکیو څخه کار اخستل کیدی شي:

$S = 10^C N^b$ (for $10^3 < N < 10^6$) (11-5)

د b او C ارزښتونه لدی لاندی اړیکو پیدا کیدی شي::

$$b = -\frac{1}{3} \text{Log}_{10} \frac{S_{1000}}{S_e} \quad (11\text{-}6)$$

$S_e$ = endurance Limit د زغملو حد

$$C = \text{Log}_{10} \frac{(S_{1000})^2}{S_e} \quad (11\text{-}7)$$

په پورتنی معادله کی $S_{1000}$ سترس ارزښت په $10^3$سایکلو کی دی.

د غړی د موادو سالمه موده لدی لاندی اړکي ، له اړوښتونکی سترس سره پیدا کیدی شي

$$N = 10^{(-C/b)} S^{(1/b)} \quad (11\text{-}8)$$

د اس-ان ډایګرام د معادلی په جوړه ولو کی له دی لاندی اټکل کار اخیستل شوی:

$$S_{1000} = 0.90 S_u, \text{ and } S_e = 0.50 S_u \quad (11\text{-}9)$$




انځور 20-11 د پر له پسی بار د زغملو حد

## 11.7 د جوړښت د موادو د ستړیا سالمه موده (Fatigue Life)

د هغه سترس شدت او پر له پسی بار سایکلونو شمیري چی د جوړښت مواد له سالمه حد څخه وباسي، د موادو د ستړیا سالمه مودی په نومه یادیږي. د جوړښت د موادو سترس او ستړیا موده کله چی دی حد ته ورسیږي درز پیدا کیږي او بلاآخره درز وده کوي او د جوړښت مواد ماتیږي.

د درز وده او لوییدل یي یو څه وخت نیسي او تر څو چی یوه خطر ناک حالت ته ورسیږي او جوړښت مات کړي. ټول جوړښتونه چی پر له پسی بارونو ورباندی عمل کړی د موادو د ستړیا له امله ماتیدي شي.

## 11.8 ماتی شوي سطحی فزیکی لیدنه:

کله چی ماته سطح تر میکروسکوپ لاندی ولیدل شي دوه بیلي سیمی پیژندل کیدی شی

لومړی یوه اواره سیمه لیدل کیږی، چی کرک یا درز د پر له پسي بار له امله وربانذی وده کړي او د ساحلی نښي (Fatigue Beach Mark) په نامه یادیږي. او دا ممکن د کرک د شروع ځای هم څرګند کړي.

دوهم سیمه یوه زیږه سیمه (Rough region) ده چی درز په آخره مرحله کی پوښلي او جوړښت ماتیږی (Fracture) او مقطع د نور بار اخستلو توان نلري.




انځور 11-21 ماته شوی سطحه

## 11.9 د جوړښت د موادو د زغملو فشار حد (Endurance Limit)

دا هغه اندازه ($\sigma_e$) د سترس (stress) ده که چیری د بهرنی بار پلی شوی فشار په جوړښت کی لدی لږ وی جوړښت لا محدوده (infinite) سالمه موده لري. که چیری د موادو د زغملو فشار تعریف شوی نه وی کیدی شی چی د ($10^7$) شمیری ځخه ګټه واخلو.

اکثراً فلزات یو داسی د ستړیا حد لری که چیری بهرنی بار چی ارزښت یي لدی حده کم وی په جوړښت کی ژوبله نه جوړه وی او پدی حالت کی د اس-ان کربنه د سایکل (N) په لور افقی کیږي. دا حد په نامه د موادو د زغملو حد (Endurance Limit) پیژندل شوي. د زغملو حد هغه فشار دی چی د هغونه به ټیټ ارزښت کی مهمه نده چی د سایکلونو شمیر څومره زیات وی.

د پر له پسی بارولو مجموعی قاعده د ماینر کرړنلاره (Minor Rule) په نامه هم پیيژندل شوي .

د ماینر قاعدی په اساس که چیري د جوړښت ټوله ژوبله پدی لاندی معادله کی یو واحد اندازه شي

د جوړښت سالمه موده پای ته رسیری په موادو کی درزونه پیل کیږی او جوړښت ماتیږي

$$\sum_{i}^{n} \frac{n_i}{N_{fi}} = 1 \qquad (11.10)$$

پدی معادله کی د ($\sigma_i$) سترس د پر له پسی بار شمیره ($n_i$)، او ($N_{fi}$) د هغه سترس ($\sigma_i$) شمیره چی په اس-ان دایګرام د موادو ماتیدل را وړي. د موادو ماتیدل د ستړیا له امله هغه وخت مینځ ته راځی کله چی مجموٴعه د پورتني معادلی یو واحد شي.

د پلی شویو بارونو ترتیب کوم اثر نلري.(اما په واقعیت کی د بارونو ترتیب دا چی درز ځنګه مخ په لویدو کیږي خورا اغیزه من دي). دا مسله په ځلور ډوله پروفایل په لاندی انځورونو کی ښودل شوي.













انځور 11-22 بارونو د ترتیب نمونې

د پورتنيو څلورو پرله پسی بار نمونو ارزښتونه په اس-ان دايګرام کی په دی لاندی انځور کي ښودل شوي.




انځور 11-23 بارونو ښودل په اس-ان دايګرام

په انځور (11-23) کی د جمعي قانون له مخی، دا چی کوم رقم اول راځی يا دوهم راځی په معادله کی کوم تو پير نراځی او مجموعه د ژوبلی به تغير نه مومي.

په عامه توګه د اس-ان دايګرام او د ژوبلی معلومول پدی لاندی انځور کی ښودل کيږی.




انځور 11-23 د پر له پسی سايکلونو ښودل په اس-ان دايګرام




انځور 11-24 د پر له پسی بار پروفایل

په لاندی معادله کی د جوړښت راتولشوی ژوبله پیدا کیږی.

$$\frac{N_1}{N_{f1}} + \frac{N_2}{N_{f2}} + \frac{N_1}{N_{f3}} + \frac{N_4}{N_{f4}} + \ldots\ldots = 1 \qquad (11.11)$$




انځور 11-25 د پر له پسی بار د سترس بنودل په اس-ان دایگرام کی

فشار $\sigma_1$ چی د $n_1$ پرله پسی سایکله کی پلی کیږي ژوبله يي D مساوی ده په $D_1 = n_1/N_{f1}$ او کله چی د فشار اندازه $\sigma_2$ وی اود $n_2$ سایکله پرله پسی عمل نه راتول شوی ژوبله يي $D_2= n_2/N_2$ ده. په ورته ډول د $n_i$ سایکلونو چی د فشار اندازه يي $\sigma_n$ وی ژوبله يی عبارت ده په $D_i = n_i/N_{fi}$ . پدی ترتیب د جوړښت دماتیدو وړاندوینه کیږی کله چی د ټولو تناسبونو مجموعه یو یا سل په سلو کی شي.

## 11.10 مثال

دا لاندی لوډ پروفایل په یو فولادی جوړښت عمل کړی. غواړو چې د فتیګ له مخی د جوړښت ژوبله معلومه کړو.




انځور 11-26 د پر له پسی بار د سترس بنودل په اس-ان دایګرام

بهرنی لوډ دا لاندی فشارونه جوړه وی:

$\sigma_1 = 550$ Mpa

$\sigma_2 = 450$ Mpa

$\sigma_3 = 700$ Mpa

د جوړښت دا ارزښتونه په اس-اد (S-N) دایګرام کی ګورو، کیدی شي چې د جوړښت په عضوه کی راټول شوی ژوبله او د سالمی مودی څرنګوالی پیدا کړو.




انخور 11-27 د فولادی موادو سالم ژوند – اس –ان سایکل گراف

که د جوړښت را تولہ شوي ژوبله = D

$$D = \frac{n_1}{N_1} + \frac{n_2}{N_2} + \frac{n_3}{N_3}$$ د جوړښت د فتیک ژوبلی اندازه = (11.12)

$$D = \frac{5}{300{,}000} + \frac{10}{1{,}200{,}000} + \frac{10}{50{,}000} = 2.25 \times 10^{-4}$$

د جو ړښت سالمه موده ددی پروفایل لپاره عبارت ده: 1/D= 4444 cycles . پدی معنی چی که چیری د پورته پروفایل بار پر له پسی 4,444 سایکل په جوړښت عمل وکړی پدی جوړښت کی ژوبله مینځ ته راځي او مات به شي.

## 11.11 دوهم مثال

د یو ماشین عضو کله چی دوه کیلو نیوټنه ( 2 kN) بار ور باندی پلی شي ($3x\ 10^8$) پر له پسی سایکله سالم ژوند لري. او که چیری د فشار اندازه دری کیلو نیوټنه ( 3 kN) وی د سالمی مودی توان یی ($4 \times 10^7$) پر له پسی سایکله دي.

که چیری دا عضو ( 80 %) د وخت  دوه کیلو نیوتن (2 kN) او شل په سلو دوخت (20 %) دری کیلو نیوتن (3kN) تر بهرنی بار لاندی وی څومره پر له پسی سایکله د سالمی مودی پاتی کیدو تمه وکړو.

حل:

که چیری ټول پلی شوی سایکلونه (n) وی ، د سایکلونو شمیر په دوه کیلو نیوتن (2 kN) به (0.8 n) وی، او په  دری کیلو نیوتن (3 kN) کی به (0.20 n) وی.

د عضو راټول شوی ژوبله عبارت ده له:

$$D = \frac{n_1}{N_{fi}} + \frac{n_2}{N_{fi}} = \frac{0.8n}{3\,x 10^8} + \frac{0.20\,n}{4\,x\,10^7} = 7.67 \times 10^{-9}\ \ n \qquad (11.13)$$

د عضو ی سالمه موده هغه وخت پای ته رسیږی کله چی د پر له پسی را ټول شوي ژوبله مجموعه مساوی په یوه  (1) شی. او داسی لیکلی شو:

$(D)\ \ (7.67 \text{x } 10^{-9}\ \ n\ ) = 1$

$\frac{1}{D}$ د عضو سالم  ژوند موده  عبارت ده له

$n\ =\ (1)/(7.67 \times 10^{-9}\ )\ \ =\ 1.30 \times 10^{8}$ Cycles    د پر له پسی سایکلونو شمیره

## 11-12 د اوسط فشار اغیزي:

کله چی د اوسط فشار په هکله بحث کړو دا لاندی اړیکی او تعریفونه باید و پیژندل شي:

د فشار حد (Stress Range) $\Delta\sigma = \sigma_{max} - \sigma_{min}$ (11.1)

د فشار د لوړوالي حد (Stress amplitude) $\sigma_a = ½(\sigma_{max} - \sigma_{min})$ (11.2)

د فشار اوسط حد (Mean Stress) $\sigma_m = ½(\sigma_{max} + \sigma_{min})$ (11.3)

د بار د کچی تناسب (Load ratio) $R = \frac{\sigma_{min}}{\sigma_{max}}$ (11.4)




انځور 11-28 پر له پسی بار سپيکترم اوسط فشار صفر ندی

اصغری سترس $(\sigma_{min})$

اعظمی سترس $(\sigma_{max})$

د سترس لوړ والي $(\sigma_a)$

اوسط سترس $(\sigma_m)$

د سترس رينج $(\Delta\sigma)$

ارزښتونه د يو لړ عام حالت بارونو لپاره پدی لاندی ډول دی

R= -1, A = ∞ (Fully reversed ) په بشپړ توګه بیرته (11.14)

R= 0, A = 1 (Zero to Max) له صفر تر اعظمی حد (11.15)

R= ∞ , A = -1 (Zero to min) له صفر تر اصغری حد (11.16)

د سټریا توانايي او اوسط سترس ارزښت اړیکو پیداکولو کی له دی لاندی معادلو کار اخیستل کیدی شي.

$$\frac{\sigma_a}{S_e} + \frac{\sigma_m}{S_u} = 1$$ (Goodman 1899) د ګودمن معادله (11-17)

$$\frac{\sigma_a}{S_e} + \left(\frac{\sigma_m}{S_u}\right)^2 = 1$$ (Gerber 1874) د ګر برمعادله (11-18)

$$\frac{\sigma_a}{S_e} + \frac{\sigma_m}{\sigma_f} = 1$$ (Morrow 1960) د مارو معادله (11-19)

## مثال 11.12A

د جوړښت یوه عضوه تر پر لپسی فشارلاندی ده کله چی د اعظمی حد د فشار 800 Mpa او اصغری ارزښت یی 80 Mpa دی. د فولادی عضو اعظمی توان ($S_u$) یي 1200 Mpa او د پرلپسی سټریا توان حد (endurance limit = 400 Mpa) او مکمل بیرته راتلونکی فشار په 1200 cycles سایکل اوفشار یی $S_{1200}$= 800 Mpa دی.

د ګودمن معادلی په اساس ددی عضو د سټریا د توانايي موده يي پیدا کوو.

**حل:**

لمړي د د فشارد لوړ والی حد یا امپلیتود ($S_a$ ) او اوسط فشار ($S_m$) ارزښتونه پیدا کوو:

**(Mean Stress) د فشار اوسط حد** $\sigma_m = ½(\sigma_{max} + \sigma_{min}) = ½(800 + 80) = 440$ **Mpa** (11.20)

**(Stress amplitude) د فشار د لړلوالي حد** $\sigma_a = ½(\sigma_{max} - \sigma_{min}) = ½(800 - 80) = 360$ **Mpa** (11.21)

د فشار پوره سرچپه (fully reversed stress) ارزښت له د لاندی معادلی پیدا کوو

$$\frac{\sigma_a}{S_n} + \frac{\sigma_m}{S_u} = 1 \qquad (11.22)$$

$$\frac{360}{S_n} + \frac{440}{1200} = 1 \qquad (11.23)$$

$$S_n = 568 \text{ Mpa}$$

کله چی دا فشار د اس-ان په گراف کی داخل کړو د سټریا سایکلونه چی په عضوه کی درز راولی لاس ته راځی او ددی حالت لپاره د سایکلونو شمیره $3x10^4$ په لاس راځی.




انځور 11-29 د مثال فشار ښودنه په اس-ان دایگرام کی

په ( 11-29) انځورکی، کله چی د جوړښت د فشار ارزښت 568 Mpa شی د پر له پسی بار شمیره د $(N_f = 3 \times 10^4)$ کیږی او د ژوند سالمه موده پاي ته رسيږي.

د سټريا درزونه معمولا د اجزاو له سطحي څخه پيل کيږي. دا مرحله په نامه د درز د پيدا کيدو اوله مرحله يادیږي. د لندمهاله موديِ وروسته ، دوهمه مرحله وده کوي. کله چی درز پيداشو دا په

عمودی کرښه د جوړ شوی سترس یا داخلی فشار مخ په ډیریدو وی تر څو چی درز بی ثباته کیږی او فرکچر یا ماتیدل مینځ ته راځی.




انځور 11-30 په یو عضو د درز جوړیدل او وروسته ماتیدل یي

خورا ډیر آزمویني او زدکړی په ورستیو کلونو کی شوی چی د مختلفو فکتوررونو اغیزي او تجربوی پوهه بنه اس-ان دایګرام تر لاسه کیدی شی. هغه متغیرونه چی پلټل شوی عبارت دی له د پر له پسی بار اندازه، د پرله پسی بار نوعیت، د غړی سطحه، د تودوخی حالت او چاپیریال . د هر متغیر له پاره یو لړ اصلاحی فکتورونه جوړ شوی چی په تحلیل کی په نظر کی ونیول شی. ددی فکتوررونو ارزښتونه د موادو او د جوړښت د جوړیدونکیو سره تړون لری.

## 11.13د فشار تمرکز (Stress Concentration)

د جوړښتونو ډیری اجزاوی په مبهم ډول جیو میتریک تغیرات یا هندسي بی نظمی شکل لری، لکه کونجونه، سوري، او ناڅاپی بدلون په مقطع کی او همدارنګه غیر ارادي زیان لکه کرښه په سطح (scratch) او درزونه او داسی نور شکلی ناخوالي د غړیو په سطح کي. دا ډول شکلي بي نظمي د فشار د غلظت موقعیتونه دی او معمولا د فشار د جګوالی (stress riser) او درزونو را مینځ ته کولو لپاری منل شویی سیمی دي.




انځور 11-31 د فشار غلظت د هندسی تغیر په نږدي کي

په دی پورتنی انځور (31-11) کی وینو چې د بهرنی بار داخلی کربښي کله چې د شکل سوری یا د شکل بدلون ته نیږدی شي یو بل ته نیږدی او را ټولیږي او دا راټولیدل د فشار تمرکز جوړه وي.
د فشار غلظت اکثرا د فشار زیاتوالي یا د فشار لوړوالي په نوم یادیږي. هندسی انځور تغیرونه د اوسط یا نوری ساحی به نسبت د فشار د زیاتوالي لامل کیږي. د فشار لوړوالي اغیزې په اسانی، ساده طریقه، په عنصر کی د فشار غلظت په $K_t$ ښودل کیږي

$$\sigma_{max} = \sigma_{average}\,(k_t) \qquad (11.24)$$

د فشار د غلظت عنصر ($K_t$) عبارت دی له اعظمی فشار تقسیم پر ورته لوړ فشار. د فشار جګوالی کولی شی په موادو کی داخلی عیبونه وی. د فشار ټولونکي ځایونه ، د اجزاوو په سطح کی موندل کیږي چې د درزونو لپاره قبول شوی ځایونه دی.

$$K_t = \frac{\sigma_{max}}{\sigma_{nom}} \qquad (11.25)$$

د $K_t$ فکتور په عمده ډول په هندسی بدلون پورې تړلي او په موادو پورې اړه نه لري. د $K_t$ ارزښتونه په نورمال ډول د جیومتری د ارقامو او دایګرامونو څخه لاسته راوړل کیږي، او یوازې د سخت ایلستیکی غړیو لپاره د اعتبار وړ دي. د $K_t$ ارزښتونه د ازموینو د پا یلی لخوا ټاکل کیدی شي. د $K_t$ ارزښتونه د یو په یو هندسی بدلونونو او درزونو لپاره په اسانی سره نه پیدا کیږی.

ډیری نور فکتورونه شته چې ممکن د $K_t$ سره ورته ښکاري ، مګر په احتیاط سره با ید د دوی توپیر وشي.

## 11.14 د سترین اړیکی:

د سترین لپاره هم $K_t = \varepsilon_{max} / \varepsilon_{ave}$ تعریف شوی، چیرې چې $\varepsilon_{ave} = \sigma_{ave} / E$ په ورته ډول د فشار شدت فکتورونو لوی شمیر د فریکچر میخانیک (Fracture Mechanic) کی تری کار اخستل کیږی، مګر د دوی تعریف او استعمال توپیر لري.

د درزونو (Cracks) لپاره د تمرکز فیکتور او اعظمي فشار د شعاع د کږوالي په ساحه کې پېښيږي. که چیری یو درز چی اوږدوالي یي (2a) او عرض یي (2b) د پلي شوي بهرني فشار ( σ ) لاندی چی اعظمی فشار ($\sigma_{max}$) د محوررونو په پای کې عبارت دی :

$$\sigma_{max} = \sigma(1 + 2(a/b)) = \sigma\left(1 + 2\sqrt{\frac{a}{\rho}}\right) \qquad (11.26)$$




انځور 11-31A اعظمی فشار د شعاع د کږوالي په ساحه کي

په پورته معادله کی ρ د درز د شعاع کږوالي دي او فشار(σ) دی. ځنګه چې د کږوالي شعاع اندازه صفر ته رسيږي ، نو اعظمي فشار يي لا يتنهايي (انفينيت) ته رسي. په ياد ولرئ چې د فشار غلظت تابع د درز د جيوميترى دي ، نه د اندازې.

ځنګه چې دا د فشار راغونديدونکی ځايونه د اجزاو په سطح کی موندل کيږی دا د درزونو يا کرک (crack) د پيل لپاره منل شوی ځايونه دي. درز هم پدی ځايونو کی شروع کوی او وروسته مخ په لوييد و حرکت کوي. د درزونو زيادت دوه ډوله بنودل شوی چې ګړندی او ورو دی. د ګړندی حرکت درز د بی ثباته درز په نامه پيژندل کيږي او حرکت يی په يوه ثانيه کی سل زره ميلی متره تخمين شوي، او کيدی شی پرته له کوم بهرنی بار دا حالت پيښ شی البته داخلی فشار په عضو کی بايد شتون ولري.

## 11.15 د غلظت فکتور محاسبه:

د فشار متمرکز عوامل د اټکل کولو لپاره ډيری لاري شته. دغلظت فکتور $K_t$ د اندازه کولو لپاره له فزيکي ازموينو او فاينايټ ايليمنټ طريقو څخه کار اخستل کيږي . د تحليلونو او تجربو لاس ته راوړني په جدولونو کی ځاي په ځای شوي چې ترې ګټه اخستل کيدی شی. هره طريقه ځانته ګټی او زيان لري.

## 11.16 سطحی فشار (Plane Stress)

کله چې د یو جوړښت ضخامت نظر نورو ابعادو ته ډیر وړوکی وی په دی حالت کی له سطحی وتلی فشار صفر دی او د پام وړ نارمل فشار د (y-z) په سطحه کی شتون لری. دا حالت په نامه د سطحی فشار (Plane Stress) په نامه پیژندل شوي.

څرنګه چې په انځور کی ښودل شوی ضخامت h له a او b څخه ډیر لږ دي h << a, b




انځور 11-32 د سطحی فشار نمونه

## 11.17 سطحی ستړین (Plane Strain)




انځور 11-33 د سطحی فشار نمونه

په پورته انځور کی د جسم ضخامت خورا زیاد دی او جسم په هغه جهت خوځیدي نشي.

## 11.18د جوړښت د طرحی تګ لاري

| د دیزاین تګلاری پیژندل شوی نوم | د دیزاین تګلاری معیار | د کارولو ساحي | د تګلاری مثال |
|---|---|---|---|
| د سلامتیا مودی دیزاین<br>(Safe Life Design) | د ستړیا په میتود د جوړښت د سالمی مودی پیدا کول . کله چی دا موده د جوړښت پای ته ورسیږي جوړښت باید ترمیم، او یا بیا روغونه یی وشي | وسپنیز وداني، د پلونو ګادرونه او وسپنیز ستني، الوتکی، موټرونه، کرینونه او داسی نور جوړښتونه | د پر له پسی بار سالمه موده (N) سایکله ده. او ددی سا یکل په رسیدو جوړښت باید بدل یا ترمیم شي<br><br>دیزاین اعظمی حد 150 kN دی بهرنی بار له دی زیاد نه شی<br>جوړښت وزن سل کیلو نیوتن دی (100kN) |
| خوندي زیان<br>(Fail Safe) | (1) جوړښت د بار اخستلو ډیری لاري لری. که چیری یو انفرادی غړی مات شو، پاتی اعضاوی به کافی ساختمانی بشپړتیا ولری تر څود مات شوی غړی اضافي بارونه تحمل کړي.<br>(2) جوړښت د دی توان لری چی د زیان سره تر راتلونکی کتني د بار تحمل ولری تر څو زیان کشف او جولښت ترمیم شي. | وسپنیز وداني، د پلونو ګادرونه او وسپنیز ستني، الوتکی، موټرونه، کرینونه او داسی نور جوړښتونه | جوړښت د زیان سره تر تاکل شوی کتنی مودی (N cycles) خوندی وي. که چیری زیان پیدا شی غړی باید بدل یا ترمیم شي<br><br>که چیری یو غړی مات شي دا دوهم غړی تر بلی کتنی د زیان سره د بهرنی بار توانايي لری. هر یو غړی د 150 kN توان لري<br>جوړښت وزن سل کیلو نیوتن دی (100kN) |
| د زیان تحمل<br>Damage Tolerant | جوړښت د زیان برداشت په اساس دیزاین، اود ماتیدو دمخه زیان و موندل شی. د درز د ودی په اساس د کتني موده تثبیت اود جوړښت کتنه په دی وخت کی و شي. که په کتلو کی زیان پیدا شی جوړښت باید ترمیم یا بدل ښي. | وسپنیز وداني، د پلونو ګادرونه او وسپنیز ستني، الوتکی، موټرونه، کرینونه او داسی نور جوړښتونه | د درز پیدا کیدنه د پلان شوی کتني په اساس . مخکی لدی چی د جوړښت تحمل له خوندی حد لږ شي باید کتنه وشی<br><br>درز<br>بی له درز دیزاین اعظمی حد 150 kN دی اود بهرنی بار تحمل لري<br>د درز درلودلو دیزاین اعظمی حد 100 kN دی اوددی بهرنی بار تحمل لري. د درز حد له خطرناک حد لږ وی.<br>جوړښت وزن سل کیلو نیوتن دی (100kN) |

## 11.19 ستړین او دستړیا د مودی تړون (Strain Life)

په یو لړمهمو برخو د جوړښت کی لکه جرئ (notch) د موادو غبرګون په ستړین او یا خوځیدو تړلی وی. کله چی بهرنی بار لړوی د سترس او ستړین اړیکی خطي تړون لري، اما که د فشار کچه لوړه او پر له پسی بار په تیته سایکل ستړیا (Low Cycle Fatigue) حد کی وی د موادو سترس او ستړین اړیکی د ازموینی له لاری باید و موندل شی.

له ازموینو پیدا شوی چی ژوبله په پلاستیکی ستړین یا خوځیدو اړه لري. پلاستیکی ستړین او یا بیځایه کیدنه کله چی د بار فشار لوی وی له ازموینې باید پیدا شي.

په جرئ برخو کې د فشار د غلظت له امله اکثراً سترس په پلاستیکی حد کې وی. او پدی برخو کې دایلستیک سټرین برخی نیږدیوالی له پلاستیک برخی سره محدودیت رامینځ ته کوی او پدی اساس د جرئ برخی خوځیدنه د سټرین په واسطه کنټرول کیږي.

د سټرین سالمی مودی طریقه کې د درز وده نه حسابیږی. پر ځای يي د غړی له مینځه تلل هغه وخت کیږی کله چې مواد مخ په ماتیدو شي. لدی کبله سټرین سالمی مودی طریقه په نامه دی د درز پیل کیدنه بلل کیږي.

## 11.20 د موادو د سترس او سټرین اړیکی

د موادو د سترس او سټرین اړیکې پدی لاندی معادلو کې ښودل شوي

$$\sigma = \frac{P}{A}$$ سترس (11.27)

$$e = \frac{l - l_0}{l_0} = \frac{\Delta l}{l_0}$$ انجینری سټرین (11.28)

پدی پورتنی معادله کې:

$P =$ بهرنی بار

$l_0 =$ اصلی اوږدوالی

$A_0 =$ اصلی مساحت

$l =$ آني اوږدوالی




انځور 11-34 د سلندر هندسي شکل

$$\varepsilon = \int_{l_0}^{l} \frac{dl}{l} = \ln \frac{l}{l_0}$$ اصلی سترین (11.28)

$$l = l_0 + \Delta L$$ (11.29)

$$\varepsilon = \ln \frac{l_0+\Delta l}{l_0} = \ln(1+e)$$ (11.30)




انځور 11-34 د سترس او سترین دایګرام

فرض کوو چې د موادو حجم تر سترین لاندی موده کی ثابت پاتی کیږی مو‌ږ لیکلی شو:

$$A_0\ell_0 = A\ell =$$ ثابت ارزښت (11.31)

پورتنی معادله داسی هم لیکلی شو

$$\frac{A_0}{A} = \frac{\ell}{\ell_0}$$ (11.32)

ریښتیاني یا اصلی سترین عبارت دی په:

$$\varepsilon = \int_{l_0}^{l} \frac{dl}{l} = \ln \frac{l}{l_0} = \ln \frac{A_0}{A}$$ (11.33)

$$\frac{A_0}{A} = 1 + \varepsilon$$ (11.34)

د جرئ سترین ارزښت = ایلستیک برخه + پلاستیک برخه

$$\varepsilon = \varepsilon_p + \varepsilon_e$$ (11.35)

ډیری فلزاتو د پاره ریښتني پلاستیک سترین او ریښتنی پلاستیک سترس خطی اړیکی فرض شوي. او پدی اساس لیکلی شو:

$$\sigma = K (\varepsilon_p)^n \qquad (11.36)$$

پدی معادله کی k د موادو ضریب (coefficient) او n د ستړین کلکیدونکی طاقت یا ایکسپوننت (strain hardening exponents) دی

په عامه توګه د n ارزښتونه د جوړښت موادو لپاره دا لاندی خاصیت لري

د جوړښت مواد د پر له پسی بار له امله کلکیږی n > 0.20

د جوړښت مواد د پر له پسی بار له امله نرمیږي n < 0.20

د پلاستیک ستړین اړیکی داسی لکلی شو

$$\varepsilon_p = \left(\frac{\sigma}{K}\right)^{1/n} \qquad (11.37)$$

$$\sigma_f = K (\varepsilon_f)^n \qquad (11.38)$$

ماتیدونکی سترس او ستړین اړیکی لیکلی شو

$$\varepsilon_p = \varepsilon_f \left(\frac{\sigma}{\sigma_f}\right)^{1/n} \qquad (11.39)$$

همدارنګه پلاستیک ستړین اړیکی لیکلی شو

د جری ستړین ارزښت = ایلستیک برخه + پلاستیک برخه

په دی معادله کی $\varepsilon_t$ ټول ستړین ، $\varepsilon_e$ آیلستیک ستړین، او $\varepsilon_p$ پلاستیک ستړین دی.

$$\varepsilon_t = \varepsilon_p + \varepsilon_e \qquad (11.40)$$

$$\varepsilon_e = = \left(\frac{\sigma}{E}\right) \qquad (11.41)$$

$$\varepsilon_p = \left(\frac{\sigma}{K}\right)^{1/n} \qquad (11.42)$$

بلاخره د ټول ستړین ارزښت = ایلستیک برخه + پلاستیک برخه

$$\varepsilon_t = \varepsilon_p + \varepsilon_e \qquad (11.43)$$

$$\varepsilon_t = \left(\frac{\sigma}{K}\right)^{1/n} + \left(\frac{\sigma}{E}\right) \qquad (11.44)$$

## 11.21 د پر له پسی سترس او سترین اړیکی

کله چې یو ان الاستیک (inelastic) پر له پسی بارپه یو جوړښت عمل وکړی د موادو عکس العمل به د حلقي یا هیستریسیز (hysteresis) حلقی په مثل ښکاره چې په دی لاندی انځور کی ښودل شوی وی. د حلقی ټول سور(width) عبارت دی په حد د ټول سترین ( Δε). او لوړوالی د حلقی (Δσ) مساوی په ټول حد د سترس.




انځور 11-34 د سترس -سترین حلقه

داسی لیکلي شو:

د نیمی دوری یا سایکل سترس او سترین

$$\varepsilon_e = \left(\frac{\Delta\varepsilon}{2}\right) \qquad (11.45)$$

$$\sigma_e = \left(\frac{\Delta\sigma}{2}\right) \qquad (11.46)$$

$$\varepsilon_t = \varepsilon_p + \varepsilon_e \qquad (11.47)$$

$$\Delta\varepsilon_t = \Delta\varepsilon = \Delta\varepsilon_p + \Delta\varepsilon_e \qquad (11.48)$$

د حلقی د ننه ساحه یو واحد حجم انرژی ده چې په یوه سایکل یا یوه دوره کی له منځه تللي.

$$\varepsilon_e = \left(\frac{\Delta\varepsilon}{2}\right) \qquad (11.49)$$

$$\left(\frac{\Delta\varepsilon}{2}\right) = \left(\frac{\Delta\varepsilon_p}{2}\right) + \left(\frac{\Delta\varepsilon_e}{2}\right) \qquad (11.50)$$

$$\frac{\Delta\varepsilon}{2} = \frac{\Delta\varepsilon_p}{2} + \frac{\Delta\sigma}{2E} \qquad (11.51)$$

## 11.22 د پلستیکی سټرین او سټرس اړیکی

د پلاستیک سترین او ریبنتینی سایکلیک سترس که په لاګ-لاګ دایګرام کی وښودل شي دا لاندی انځور تری جوړیږی.




انځور 11-35 د پلاستیکی سترین او سترس ضریب اړیکي

د سایکلیکی سټرس سترس معادله داسی لیکلی شو:

$$\varepsilon_p = \left(\frac{\sigma}{K`}\right)^{1/n`} \qquad (11.52)$$

$\varepsilon_p$ = سایکلیک پلاستیک سترین لوړوالي

$\sigma$ = سیکلیک سترس لوړوالي

K` سایکلیک سترس ضریب

n` = سایکلیک سترین د کلکوالی طاقت

چی حد یي له (0.1) تر (0.25) پوری دی

ټول سترین چی مجموعه د ایلستیکی او پلاستیکی سترین ده داسي ده:

$$\varepsilon_t = \left(\frac{\sigma}{K`}\right)^{1/n`} + \left(\frac{\sigma}{E}\right) \qquad (11.53)$$

که چیری په دی لاندی ګراف کی یو ټکی $P_1$ په سترس سترین کربنه ولرو او ارزښتونه په دی ټکی کی $\sigma_1$ او $\varepsilon_1$ وی. دا ارزښتونه په لاندی معادله کی یوبل سره دا اړیکی لری:




انځور 11-36 د سټرین او سټرس دایګرام

$$\varepsilon_1 = \left(\frac{\sigma_1}{K`}\right)^{1/n`} + \left(\frac{\sigma_1}{E}\right) \qquad (11.54)$$

$$\Delta\sigma_1 = = 2\,\sigma_1 \qquad (11.55)$$

$$\Delta\varepsilon_1 = 2\varepsilon_1 \qquad (11.56)$$

$$\sigma_1 = \left(\frac{\Delta\sigma_1}{2}\right) \qquad (11.57)$$

$$\varepsilon_1 = \left(\frac{\Delta\varepsilon_1}{2}\right) \qquad (11.58)$$

او داسې لیکلی شو:

$$\frac{\Delta\varepsilon_1}{2} = \left(\frac{\Delta\sigma_1}{2k`}\right)^{1/n`} + \frac{\Delta\sigma_1}{2E} \qquad (11.59)$$

دواړه اړخونه د معادلې ضرب د دو کوو:

$$\Delta\varepsilon_1 = 2\left(\frac{\Delta\sigma_1}{2k`}\right)^{1/n`} + \frac{\Delta\sigma_1}{E} \qquad (11.60)$$

## 11.23 مثال

د یو جوړښت مواد دا لاندې خواص لري:

$E = 21.0 \times 10^4$ Mpa ($30 \times 10^6$ psi)

n` = د سایکلیک سټرین د کلکوالی طاقت (exponent ) = 0.204

K` = د سایکلیک توان ضریب (coefficient) =1200 Mpa

په یو جوړښت، مکمل دورانی سټرین سایکل Δε ، چی حد یي 0.03 دی عمل یي کړي . غواړو د جوړښت د موادو د سټرس- سټرین عکس العمل پیدا کړو.

## 11.24 د مثال حل

دا لاندی انځور د سټرین پروفایل چی په جوړښت یي عمل کړی شودل کیږي.




انځور 11-36 د سټرین او ټول سټرین اړیکيو مثال

$$\Delta\varepsilon_1 = \left(\frac{\Delta\sigma_1}{k`}\right)^{1/n`} + \frac{\Delta\sigma_1}{E}$$

$$0.03 = \left(\frac{\sigma_1}{1200}\right)^{1/0.204} + \frac{\sigma_1}{21 \times 10^4}$$

$$\sigma_1 = 575 \text{ Mpa } (83.4\text{ksi})$$

$$\Delta\varepsilon_1 = 2\left(\frac{\Delta\sigma}{2k`}\right)^{1/n`} + \frac{\Delta\sigma}{E}$$

$$0.06 = 2\left(\frac{\Delta\sigma}{2 \times 1200}\right)^{1/0.204} + \frac{\Delta\sigma}{21 \times 104}$$

$$\Delta\sigma = 1150 \text{ Mpa } (166.8\text{ksi})$$




انځور 11-37 د پورته مثال سترین او سترس حلقه

$$\varepsilon_2 = \varepsilon_1 - \Delta\varepsilon$$

$$\varepsilon_2 = 0.03 - 0.06 = -0.06$$

$$\sigma_2 = \sigma_1 - \Delta\sigma$$

$$\sigma_2 = (575 - 1150)$$

$$\sigma_2 = -575 \text{ Mpa}$$

## 11.25 سترین ژوند کربنه

باسکوین (Basquin) لوړوالی د اصلی سترس په لاګ -لاګ ګراف پدی لاندی معادله ښودل کیدي شي:

$$\frac{\Delta\sigma}{2} = \sigma'_f (2N_f)^b \qquad (11.61)$$

په معادله کی :

$\frac{\Delta\sigma}{2}$ = د ربښتيني سترس لوړوالي

د دوران بیرته راګرځول (*reversals*) تر ماتیدو= $2N_f$ (1 cycle = 2 reversal)

b = (د باسکین طاقت) د فتیګ قوت طاقت

$\sigma`_f$ = د فتیګ قوت ضریب




انځور 11-38 د مثال پر له پسی بارسپکترم اوسط

پدی معادله کی ($\sigma`_f$) او b د موادو د فتیګ خاصیتونه دي. د فتیګ ضریب $\sigma`_f$ تخمین کیږی چی مساوی په $\sigma_f$ دی . د فتیګ قوت طاقت (b) چی ارزښت يي د (-0.05) او(-0.12) په منځ کی دي.

کافن (Coffin) او منسن (Manson) دواړو د پلاستیک سترین سالمه موده ($\varepsilon_p$- N) کله چی په لاګ-لاګ ګراف وښودل شی داسی لیکلی شو:

$$\frac{\Delta\varepsilon_p}{2} = \varepsilon`_f\,(2N_f)^c \qquad (11.62)$$

د دوران بیرته راګرځول (reversals) تر ماتیدو= $2N_f$ (1 cycle = 2 reversal)

$\varepsilon`_f$ = د فتیګ ډکتیلیتي (Ductility) ضریب

c = د فتیګ ډکتیلیتي طاقت

پدی معادله کی ($\varepsilon`_f$) او c د موادو د فتیګ خاصیتونه دي. د فتیګ ډکتیلیتي ضریب $\varepsilon`_f$ تخمین کیږی چی مساوی په ($\varepsilon`_f$) ریښتین ډکتیلیتي.

د فتیګ ډکتیلیتي طاقت (c) چی ارزښت د (-0. 5) او(-0.7) په منځ کی دي.

کافن (Coffin) او منسن (Manson) دواړو د پلاستیک سټرین - موده (ε_p- N) کله چې په لاګ-لاګ ګراف وی داسی لیکلی شو:

امپلیتود ټول سټرین د ایلستیک سټرین او پلاستک سټرین مجموعه ده

$$\frac{\Delta \varepsilon}{2} = \left(\frac{\Delta \varepsilon_e}{2}\right) + \frac{\Delta \varepsilon_p}{2} \qquad (11.63)$$

$$\frac{\Delta \varepsilon_e}{2} = \frac{\Delta \sigma}{2E} = \frac{\sigma'_f (2N_f)^b}{E} \qquad (11.64)$$

$$\frac{\Delta \varepsilon_p}{2} = \varepsilon'_f (2N_f)^c \qquad (11.65)$$

$$\frac{\Delta \varepsilon_e}{2} = \frac{\sigma'_f (2N_f)^b}{E} + \varepsilon'_f (2N_f)^c \qquad (11.66)$$

پورتنی معادله (11.66) د سټرین- ژوند (strain-life) کښلاره معادله ده

## 11.26 مثال

اول :

په لاندی جدول کی د آزموینی ارقام د دری فولادی جوړښت موادو لپاره ښودل شوي د اس-ان ډایګرام د هر یوه يي جوړ کړي. له لاګ-لاګ محورونه کار واخلي

د جوړښت مواد اوله نمونه

| Stress (Mpa) | cycles |
|---|---|
| 222,701 | 45,000 |
| 208,911 | 240,000 |
| 192,364 | 800,000 |
| 165,474 | 1,500,000 |
| 158,579 | 2,700,000 |
| 151,685 | 7,800,000 |
| 151,685 | 10,000,000 |
| 151,685 | 26,000,000 |

Su = 300 Mpa

د جوړښت مواد دوهمه نمونه

| Stress (Mpa) | $N_f$ (cycles) |
|---|---|
| 561,233 | 44,000 |
| 515,038 | 85,000 |
| 493,665 | 140,000 |
| 446,091 | 630,000 |
| 428,165 | 1,000,000 |
| 399,896 | 2,900,000 |
| 379,212 | 6,400,000 |
| 365,422 | 10,400,000 |
| 310,264 | 900,000,000 |
| 310,264 | 900,000,000 |

Su = 700 Mpa

د جوړښت مواد دریمه نمومه

| Stress (Mpa) | $N_f$ (cycles) |
|---|---|
| 758,423 | 24,000 |
| 723,950 | 31,000 |
| 689,476 | 45,000 |
| 675,686 | 87,000 |
| 655,002 | 150,000 |
| 634,318 | 100,000,000 |
| 620,528 | 100,000,000 |

Su = 1200 Mpa

دوهم

د دپورتنی ارقامو لپاره د اس-ان دایگرام یو مستقیم کربنه په بین دی $\sigma_f$ =1 Mpa په یو سایکل او د مواد زغملو حد $S_e$ د سایکل حد $10^8$ سایکل دی د موادو لپاره ریښتني ماتونکی سترس ارزښت 1350 Mpa اټکل کړي.

په دی لاندی جدول کی د آزموینی په اساس د موادو سلامته موده ( > $10^7$ cycles) او د فولادی موادو چی اعظمی توان يي (ultimate strength) 850 Mpa دي جوړ شوي. د موادو د زغملو حد (Endurance Limit) (700 Mps) اټکل شوی دی. د ماتیدو سترس $s_f$ مساوی په اعظمی سترس (655 Mpa) تخمین شوي.

پیدا کړي:

اړوبښتونکی سترس (alternating stress $s_a$) :

اوسط سترس Mean stress $\sigma_m$

د سترس لوړوالی A

کله چی دا ارقام د گوډمن د اس-ان دایگرام په طریقه پیدا کړي.

| اصغری سترس (Mpa) | اعظمی سترس (Mpa) |
|---|---|
| -415 | 415 |
| -370 | 400 |
| -300 | 455 |
| -225 | 580 |
| 0 | 670 |
| 200 | 690 |
| 350 | 700 |

## 11.27 مثال

په یو ه فولادی غړی پر له پسی بار چې اوسط سترس يي 180 Mpa میګا پسکل ($\sigma_m$ =180Mpa) دی وربانڊی پلی شوي. ددی غړی سالمه موده پیدا کړی کله چې د سترس لوړوالي يي 470 میګا پسکل ($\sigma_a$ =470 Mpa stress amplitude) وی.

**حل:**

دا فولادی موادو دا لاندی خواص لری:

$$\sigma`_f = 1800 \quad , \quad b = -0.098$$

$$\frac{\Delta\sigma}{2} = \sigma`_f (2N_f)^b$$

د حل د آسانتیا لپاره ټول ارقام د فورمول په لاندی جدول کی ښودل شوي. د مارو (Morrow) له معادلی کار اخلو: د مارو معادله پدی لاندی ډول ده:

$$\frac{\sigma_a}{S_e} + \frac{\sigma_m}{\sigma_f} = 1 \qquad (11.67)$$

$$S_e = \frac{\sigma_a}{1-\frac{\sigma_m}{\sigma_f}} \qquad (11.68)$$

| د حل لپاره د فورمول د برخو ارزښتونه | | | | | | فتیګ قوت ضریب ( Fatigeu coefficient) | اوسط سترس (mean stress) | سترس لوړوالی (amplitude) | د موادو نوم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $N_f = (1/2) * (S_e/\sigma'_f)^{(1/b)}$ | $(Se/\sigma'_f)^{(1/b)}$ | $S_e/\sigma'_f$ | b | $S_e = \frac{\sigma_a}{1-\frac{\sigma_m}{\sigma_f}}$ | $\frac{\sigma_m}{\sigma_f}$ | $\sigma'_f$ (Mpa) | $\sigma_m$ (Mpa) | $\sigma_a$ (Mpa) | د موادو نوم |
| 158,364 | 316,729 | 0.290 | -0.098 | 522.22 | 0.10 | 1800 | 180 | 470 | فولاد |
| | | | | | | | | | |

د غړی سالمه موده 158,364 سایکله ده.

## 11.28 مثال

یو پر له پسی بار (انځور 11.39) په یوه فولادی غړي پلی شوی. غواړو چې د سترس د لوړوالي حد ($\Delta\sigma$) ارزښت او دا چې سالمه موده ددی غړي څومره ده پیدا کړو. دری ډوله اعظمی او اصغری بارونو چې پر له پسی عمل کړی په دی لاندی جدول کی ښودل شوي.

ددی فولادی موادو د ماتیدو سترس ($\sigma_f$ = 1800 Mpa) او د b ارزښت يي (b = -0.10) دی.




انځور 11-39 د مثال پر له پسی سپکترم

| $n_i$ | $\sigma_{min}$ (Mpa) | $\sigma_{max}$ (Mpa) | $\sigma_a$ (Mpa) | $\sigma_m$ (Mpa) | $\sigma_f$ (Mpa) | b | 1/b | $\frac{\sigma_m}{\sigma_f}$ | $(1-(\sigma_m/\sigma_f))$ | $S_e = \frac{\sigma_a}{1-\frac{\sigma_m}{\sigma_f}}$ | $(S_e/\sigma_f)^{(1/b)}$ | $N_f = (1/2) * (S_e/\sigma_f)^{(1/b)}$ | $\Sigma n/N_f$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 0 | 1000 | 500 | 500 | 1800 | -0.100 | -10.000 | 0.28 | 0.72 | 692 | 14,117 | 7.06E+03 | 7.08E-04 |
| 30 | 400 | 900 | 250 | 650 | 1800 | -0.100 | -10.000 | 0.36 | 0.64 | 391 | 4,242,075 | 2.12E+06 | 1.41E-05 |
| 15 | 300 | 700 | 200 | 500 | 1800 | -0.100 | -10.000 | 0.28 | 0.72 | 277 | 134,627,433 | 6.73E+07 | 2.23E-07 |

D= 7.23E-04

1/D ~= 1300

د جو ړښت سالم موده ددی پروفایل لپاره عبارت ده ( 1/D = 1/7.23E-04=1,300) . پدی معنی ک چیری دا پروفایل پر له پسی 1300 ځلي په جوړښت عمل وکړی پدی جوړښت کی د موادو د سترړیا ژوبله مینځ ته راځي درز جوړيږي او وده به وکړي او غړی به مات شي.

## 11.29 د ماتیدو میخانیکیت (Fracture Mechanics)

په نولسمه پیړۍ کې، په جوړښتونو کی د فلزاتو پراخه کارول، لامل د زیادو پیښو او مرگ ، ژوبلی شول. یوازی په بریتانیا کې په آتلسمه پیړي کی، د اورگاډي ټکرونو کې، د وژل شویو خلکو شمیر کوم سلګونه کسانو ته رسید لي وه، او لا هم مخ په زیاتیدو وه. ډیری پیښې د ویلونو، اکسلونو، یا ریلونو د ماتیدو له امله رامینځته شوي وي. ځینې حادثات د ډیزاین نیمګړتیاوو له امله رامینځته شوې ، مگر له څیړنو وموندل شوه چې په موادو کی د مخکنې نیمګړتیاو شتون کولی شي په جوړښت کی درز وسعت ومومي او ماتیدل پیل کړي.

کله چې ویلډینګ د جوړښتونو په جوړه ولو کی رواج پیدا کړ، دا ډول پیښې نوري هم مخ په زیاتیدو شوې. یو زیاد شمیر جنگی بیړی د دا ډول پیښو له امله دوه ټوټې او ماتی شوی. ورته پیښو پلونه او نور جوړښتونه هم زیانمن کړل. اکثرا دا ډول زیانمنی پیښې د ټیټ فشار لاندې شرایطو کې رامینځته شوی وی، او دی حالت حیارانتیا را مینځ ته کړه. هغه پراخه تحقیقات چې پدی باره په امریکا متحدو ایالاتو کی پیل شوي وه را څرګنده یي کړه چې د د ډول پیښو (جوړښتونو ماتیدل) علت ، دیزاین نیمګړتیاوې او د فشار غلظت دی.

په عامه توګه ، هغه جوړښتونه چې د لوړ مقاومت ( high strength ) موادو سره ډیزاین شوي وی، د خوندیتوب حد یي (Margin of Safety) لږ وي. دا پدې معنې که چیري پخوانی ناخوالي په موادو کی شتون ولري یا د لوړ فشار غلظت (stress concentration) شتون ولري په داسی حالت کی عادی فشارونه کولای شي چې درزونه پیل کړي. د لوړ مقاومت مواد له دی کبله د درز مقاومت لږ لری ځکه د ماتیدو سختیوالي (Fracture Toughness) یي نسبتاً لږ دی. او هم د درزشتون په حالت کی یي پاتي شوي پیاوړتیا (Residual Strength) یي کم راځي.

د وړو درزونو، او ټیټ فشار، او داسی نورو پیښو چې د جوړښتونو ماتیدلو سبب شوي یوه نوي د جوړښتونو تحلیل تګ لاره د ماتیدو میخانیک (Fracture Mechanics) په نامه مینځ ته راوستله.

د ماتیدو میخانیک یا فریکچر میخانیک کولی شي یو نوي د تحلیل کړنلاره وړاندې کړي ترڅو د عنعنوي ډیزاین مفاهیمو ته مرسته ورسیږي. د عنعنوي ډیزاین معیارونه د کشش مقاومت (tensile strength )، د ییلد مقاومت (yield strength)،او بکلینګ (buckling) فشارونه د هغو سالم ډیزاین جوړښتونو لپاره چې د درزونو احتمال په کښې ښتون ولري کافي نه دي.

یو جوړښت په کوم کې چې درز شتون لري په پام کی نیسو . د بار پلي کیدو او یا د چاپیریالي قواوو له امله دا درز په وخت سره وده کوي. هر څومره چې درز اوږد وی د فشار غلظت به یي لوی وی. دا پدې معنی ده چې د درز کچه به د وخت سره لوړه شي. او دا په دی لاندی انځور کی ښودل کیدی شي.




انځور 11-40 د درز وده

د درز شتون له امله د جوړښت پياوړتيا له اصلي پياوړتيا چې د دې لپاره ډيزاين شوې وه ټيټه کيږي. او د جوړښت پاتې شوې مقاومت (Residual Strength ) د درز ډيروالي سره په تدريجي ډول کميږي ، لکه څنګه چې په لاندې شکل کې ښودل شوي. د يو ټاکلي وخت وروسته پاتې پياوړتيا دومره ټيټ وی چې جوړښت نشي کولی د ناڅاپي بارونو سره مقاومت وکړي.




انځور 11-41 د جوړښت پياوړتيا دايګرام

او د دې شيبي څخه د جوړښت د ماتيدو امکانات ډيريږی. او درز به وده وموميي ترهغي پورې چې دجوړښت سالم پاتي کيدو پياوړتيا کچه دومره ټيټه شي چې ماتيدل د نورمال بارولو له مخې مينځ ته راځي. په ځانګړي توګه هغه جوړښتونه کله چې دمخه نيمګړتياوې يا د فشار غلظت په کښې شتون ولري، ډيزاينر بايد د درز د شتون احتمال اټکل کړي، او په پايله کې يې بايد خطره ومني چې جوړښت يې يوازې محدود اندازه سالم ژوند حد لرې.

په عامه توګه د جوړښتونو غړي يو څه ډول تغيرونه لري ، د بيلګې په توګه سوري ، فليټونه ، جرې او داسې نور. که چيرې ددی تغيرونو هندسه يا جاميټري يې ښه تعريف کړي ، نو معمولا د تمرکز غلظت $K_T$ ټاکل کيدی شي. ، او د دې جيوميټريو لپاره سيمه ايز اعظمي فشار $\sigma = (k_t)(\sigma)$ فشار په کارولو سره محاسبه کيدی شي. په حقيقت کې ، د ډيری جوړښتونو لپاره ، ډيزاينر معمولا د فشار تمرکز شاوخوا بار توزيع کولو پدی معادله باندې تکيه کوي او دا د قناعت وړ پروسه شميري. په هرصورت ، که چيرې د فشار تناقض سخت وي ، د مثال په توګه که تيز درز شتون ولري د درز په څوکه کی شعاع صفر ته رسيږي ، بيا پروسه يې د قناعت وړ نده.

د دې ټکي د روښانه کولو لپاره راځئ چې د فشار غلظت د يو بيضوی (Elliptical) شکل ووينو لکه څنګه چې په شکل 11.2 کې ښودل شوي




انځور 11-42 په جوړښت کی بيضوی درز

$$K_t = \frac{\sigma_{max}}{\sigma_{nom}} = 1 + 2a/b \quad (11.69)$$

د بیضوی (ellipse) لپاره

$$\sigma_{max} = \sigma(1 + 2(a/b)) \quad (11.70)$$

د یو تیز درز لپاره

$$a >> b$$

$$\sigma_{max} = \sigma_{nom}(2a/b) \quad (11.71)$$

څنګه چې د کږوالي شعاع اندازه صفر ته رسیږي د $K_t$ ارزښت ډیریږی، نو اعظمي فشار یې لا یتنهایي (انفینیت) ته رسي. په یاد ولرئ چې د فشار غلظت تابع د درز د جیومیتری دي ، نه د اندازې. د درز په څوکه کی د اعضمی محور په پای کی د شعاع ارزښت لیکلی شو $r = b^2/a$ .

د یو تیز درز لپاره داسی لیکو:

$$a >> \rho$$

$$\sigma_{max} = \sigma_{nom}\left(1 + 2\sqrt{\frac{a}{\rho}}\right) \quad (11.72)$$

$$K_t = \frac{\sigma_{max}}{\sigma_{min}} = 2\sqrt{a}/\rho \quad (11.73)$$

په دې توګه ، د تیز درزونو لپاره ، $\rho=0$ ته رسیږي ، او د فشار غلظت میتود کارول بې معنی کیږي، ځکه $K_t$ لایتناهی حد ته رسیږي. ددی ستونزی له منځه وړلو له پاره له یوی نویی تحلیلي میتود چې د فشار غلظت سره توپیر لري او په نامه د فرکچر میخانیک یا د ماتیدو میخانیک په نامه یادیږی ګټه اخلو.

د درز لرونکي برخو د تحلیل لپاره د فریکچرمیخانیک چلند لومړی انالیسس د ګریفیت ( .A Griffith) لخوا رامینځته شوی. اوس مهال د داسې اجزاو لپاره د فریکچر میخانیک چلند کولی شي غوره تحلیل وشي. د ګریفیت فریکچر معیارونه او د فریکچر میکانیزم ځینې لومړني تحلیلونه ، معادلې او اړیکې به وروسته دلته وړاندې شي.

ددی لپاره چې د جوړښت د خوندیتوب ډاډ ترلاسه شي باید وړاندوینه وشي، چې درزونه څومره چټک وده کوي او څومره ژر پاتې شوی پیاوړتیا یې کمیږي. د دې وړاندوینو کول او د وړاندوینې میتودونو پیژندل د ماتیدو میخانیک یا د فریکچر میکانیک کړنلاره ده .

درز څومره موده نیسي ترڅو له ابتدایي اندازې څخه خورا مهمی اندازې ته وده وکړي؟ د جوړښت په سالمه خدمت موده کی موجود نیمګړتیاوو کومي اندازې ته اجازه ورکول کیدی شي ؟ څو ځلی او په کومو وخت کی د جوړښت لیدنه و شي. ددی ټولو ځوابونه د فرکچر میکانیک تحلیل له لاری پیدا کولاي شو.

فریکچر میکانیک ددی وړتیا لري چی د جوړښت پیاوړتیا کله چی درز شتون ولري معلومه کړو. او دا هم کولاي شو معلوم کړو، چی په کومه اندازه درز جوړښت په عادی حالت کی زغملي شي. او یا د خطر ناک حد درز په جوړښت کی څومره دي.

د یو جوړښت په جامد غړیو کی کیدی شی چی درز په بیلابیل دری حالتونو کې، تر فشار لاندی راشي . لکه څنګه چي په لاندی انځورونو کي ښودل شوي.

## 11.30اول مود -د چاکیدو مود:

عمودی فشارونه د " چاکیدو مود“ (opening mode) یا اول موډ بار جوړه وي. پدی حالت کی درز بیځایه کیدل یي په سطحه د درز عمودي دی .




انځور 11-43 د جوړښت اول مود درز

## 11.31 دوهم مود (ښویدنه مود) (Sliding Mode )

شیر په جوړښت داسی عمل کړی یوه سطح پر بله لاندی سطح د بهرنی بار په لور خوځیږي او دا په نامه د دوهم موډ (Mode II) یا “ښویدنه حالت“ (Sliding Mode) پیږندل شوي.




دوهم موډ يا ښويدنه

انځور 11-44 د جوړښت دوهم موډ درز

## 11.32دريم موډ د څيرلو حالت:

د “څيرلو حالت" (Tearing Mode) يا دريم موډ (Mode III) د هغه شيرله امله چې په سطح د جامد غړي عمود وی رامينځ ته کيږي.




دريم موډ يا د څيرلو موډ

انځور 11-45 د جوړښت دريم موډ درز

د همدي دري حالتونو سوپر پوزيشن د بهرني بار د جوړښت په غړی کی عمومي قضيه تشريح کولاي شي .

د اول موډ حالت له تخنيکي پلوه خورا معتبر دی او زموږبه پدي بحثونو کی اول موډ حالت ته محدود وي.

په اول موډ کی د فشار ارزښتونه پدی لاندی ډول حساب کيدی شي.

یو درز چی د مقطع له ضخامت تیر شوی په پام کې نیسو، د درز د اوږدوالي اندازه 2a ده. او یو وړوکی برخه dxdy چې په اندازه د r او په زاویه θ کی پرته ده په نظر کی نیسو. د فشار حالت پدی معادله سره شودل کیدی شی:

$$\sigma_{ij} = \frac{K_I}{\sqrt{2\pi r}} f_{ij}(\theta) \qquad (11\text{-}74)$$

پدی معلدله کی $K_I$ عبارت په شدت د فشار (stress intensity) په اول موډ کیدی، او دا مهم فکتور د فشار حالت د درز په څوکه کی بیان وي. r فاصله ده له مبدا تر برخی پوري او θ د برخی د موقعیت زاویه ده.




انځور 11-46 د درز څوکه کی د فشارحالت

د تعادل معادله عبارت ده:

$$\frac{\partial \sigma_{ji}}{\partial j} + F_i = 0 \qquad \sigma_{ij} = \sigma_{ji} \qquad (11.75)$$

د سترین معادله

$$\varepsilon_{ij} = \frac{1}{2}\left(\frac{\partial u_i}{\partial j} + \frac{\partial u_j}{\partial i}\right) \qquad (11.76)$$

او د توافق معادله (Compatibility Equations) پدی ډول دي:

$$\frac{\partial \varepsilon_{ij}}{\partial kl} + \frac{\partial \varepsilon_{kl}}{\partial ij} - \frac{\partial \varepsilon_{ik}}{\partial jl} - \frac{\partial \varepsilon_{jl}}{\partial ik} = 0 \qquad (11.77)$$

معادله (11-74) د یو لا محدوده پلیت (plate) لپاره په انځور (11-46) کی وینو. دلته د درز اږدوالي په (2a) ښودل شوي. نظر په معیاری کنوانسیون سره کله چی درز یو څوکه ولری د هغه اوږدوالي په (a) او که چیری دوه څوکی ولری اوږدوالي په (2a) ښودل کیږي. په راتلونکیو معادلو کی دا کنوانسیون په نظر کی نیول کیږي. په انځور (11-46) کی یو درز په لا محدوده پلیت کی ګورو.

معادله (11-74) د فشار معادله ده، او (**$f_{ij}$ (θ)**) واحد نلري ، پدی اساس د $(K_I)/(\sqrt{2\pi r})$ واحد به فشار وي. او د ($K_I$) واحد به فشار ضرب د( $\sqrt{a}$) د اوږدوالي شي.

او موږ لیکلی شو:

$$K_I = \beta \sigma \sqrt{a} \qquad (11\text{-}78)$$

د یو لا محدوده پلیت لپاره د (**β**) ارزښت عبارت دی په (π) او دا معادله د لامحدوده پلیت لپاره داسی لیکلی شو:

$$K_I = \sigma \sqrt{\pi a} \qquad (11\text{-}79)$$

کله چی د پلیت عرض محدوده شي او په (w) وښودل شي د (β) ارزښت تړلي په (a/w) کیږي. او دا معادله د محدوده پلیت لپاره داسی لیکلی شو:

$$K_I = \beta \sigma \sqrt{a} \qquad (11.80)$$

د درز د څوکی فشارونو معادلی داسی لیکلی شو:

$$\sigma_x = \sigma \sqrt{\frac{a}{2r}} \cos\frac{\theta}{2} \left[1 - \sin\frac{\theta}{2} \sin\frac{3\theta}{2}\right]$$

$$\sigma_y = \sigma \sqrt{\frac{a}{2r}} \cos\frac{\theta}{2} \left[1 + \sin\frac{\theta}{2} \sin\frac{3\theta}{2}\right] \qquad (11.81)$$

$$\tau_{xy} = \sigma \sqrt{\frac{a}{2r}} \sin\frac{\theta}{2} \cos\frac{\theta}{2} \cos\frac{3\theta}{2}$$

که چیری دوه بیلی اعضاوی د جوړښت چی د مختلف اندازو درزونه لري او له یو شان موادو جوړ شوی وی تر څیړنی لاندی ونیسو. د دزر په څوکه کی فشار په دواړه اعضاوو کې په یوه معادله پیدا کیږی او عبارت دی په $\sigma_{ij} = \frac{KI}{\sqrt{2\pi r}} f_{ij}(\theta)$

$$\sigma_x = \frac{K_I}{\sqrt{2\pi r}} \cos\frac{\theta}{2}\left(1 - \sin\frac{\theta}{2}\sin\frac{3\theta}{2}\right)$$

$$\sigma_y = \frac{K_I}{\sqrt{2\pi r}} \cos\frac{\theta}{2}\left(1 + \sin\frac{\theta}{2}\sin\frac{3\theta}{2}\right) \qquad (11.82)$$

$$\tau_{xy} = \frac{K_I}{\sqrt{2\pi r}} \sin\frac{\theta}{2}\cos\frac{\theta}{2}\cos\frac{3\theta}{2}$$

که د فشار شدت د دواړو مساوي وي نو ورته والی شتون لري دواړه درزونه به ورته توګه وده کوي. که چیرې یو درز وده وکړي ، بل به یې هم کړي ، ځکه چې دواړه د ورته ارزښت څوکی فشارونو سره مخ دی.

د مثال په توګه که یو پلیټ چې (2a) درز لري تر ازموینی لاندی وکتل شي، او په هغه شیبه کی چی پلیت ماتیږي فشار معلوم کړو او بیا یي د فشار شدت د معادلی ( $K_I = \beta \sigma \sqrt{a}$ ) سر ه محاسبه کړو. دا به د فشار شدت په هغه شیبه کی راکړی کله چی عضوه ماتیږي، د فریکچر په وخت کې د فشار شدت به مشخص شي. او دا ارزښت د موادو سختوالي ($K_C$) نومیږي . پس ویلای شو چی د یو شان موادو اعضاوی ماتیدل کله چی د درز د څوکی فشار په دی حد (موادو سختوالي ) وی

ماتیرې . فریکچر ځکه پیښیږي کله چې د فشار شدت د سختۍ سره مساوي وي( موادو سختوالي = $\beta\, \sigma\, \sqrt{a}$) .

په عامه توګه د درز د څنډې فشار شدت داسي لیکلی شو:

$$K = \sigma \sqrt{\pi a}\, \beta \qquad (11.83)$$

د درز په څوکه کی د فشار فکتور
فشار د جوړښت په غړي
د درز اوږدوالي
د جیومتري د سمون فکتور

د K واحد : (ksi√in)
: MPa√m)

$$K = (\sigma_0 F_0 + \sigma_1 F_1 + \sigma_2 F_2 + \sigma_3 F_3 + \sigma_n F_n)\sqrt{\pi a} \qquad (11.84)$$

پدی معادله کی ($\sigma_n$) فشار او (F) د جیومتري فکتوردي.

که معادله $\left(\sigma_{ij} = \frac{KI}{\sqrt{2\pi r}} f_{ij}(\theta)\right)$ و څیړو دا یوه ایلستیک حالت دی. او ددرز په څوکه کی فشار $\sigma_{ij}$ لا یتناهی حد نه نیسی او موادپه پلستیک حالت بدلون مومی. او دا پدی لاندی انځور کی ښودل شوي:




انځور 11-47 د درز څوکه کی د فشارپلاستیک حالت

په انځور کی داسی لیکلی شو:

$$r_p = \frac{K_I^{\,2}}{2\pi\sigma_{yld}^{\,2}} \qquad (11.85)$$




انځور 11-48 د درز څوکه کی فشار او د درز اوږدوالي

## 11.33 د جوړښت د ماتیدو عوامل:

په عامه توګه دا لاندی دري عوامل د جوړښت په ماتولو کی رول لری:

1- د موادو سختوالی ( $K_c, K_{1c}$) . د موادو سختوالي د جوړښت د توانایي اندازه په داسی حالت کی چی په جوړښت کی جری (notch) شتون ولري ده. یا په بل عبارت سره د موادو سختوالي د جوړښت توانایي د جری شتون حالت کی او دا چی څومره بار په دی حالت کی تحمل کولاي شي ده. او دا په (plane stress) سطحی سترس حالت کی ($K_c$) او سطحی سترین حالت ($K_{1c}$) کی په خطي - ایلستیک شرایطو کي تشریح کیدی شي. د الیستیک - پلاستیک چلند لپاره، د موادو سختی د R-curve مقاومت ($J_{1c}$) او ( CTOD) د درز په خیریدو تعریف کیدی شي.

2 - د درز اندازه (a): درزونه د جوړښت د موادو له مختلف ډول غوټویو ځایونو څخه پیل کیږي. دا اختلالات کیدی شي د ویلډ (weld) له کوچني درزونو څخه وی او یا دا د ستړیا پر له پسی بار له امله وی. دا اختلالات کولی شي د پر له پسی فشار سره وده وکړي.

3– د فشار کچه :(σ) د کشش فشارونه د جوړښت د ماتیدو لپاره اړین دي. دا فشارونه د تحلیل په طریقو  پیدا کیدی شي .

ددرز دخنډي په ساحه کی د  فشار یا سترس شدت په یوه پارمیتر ($K_I$) په واسطه توضیح کیدی شي . د فریکچر میخانیکونو یو له اصلي پرنسیپونو څخه دا دی چې بې ثباتي فریکچر هغه وخت پیښیږي کله چې د درز څنډه کي د فشار شدت عنصر ($K_I$) مهم ارزښت  د موادو سختوالي ($K_c$)  ته ورسي.

## 11.34   د درز د څنډي فشار شدت:

پدی لاندی انځورونو کی وینو  د  درز د څنډی د فشار شدت  پیدا کول :

یو نازک اوار جوړښت د لوی بر (width) چی بهرنی فشار ورباندی عمل کړي په لاندی شکل کی په پام کی نیسو.  د دی جوړښت په وسط کی یو درز په اندازه د (2a) شتون لری، غواړه ددی جوړښت لپاره د فشار  د شدت معادله ووینو.




د فشار شدت ($K_I$) د درز په څوکه کی عبارت ده

$$K_I = \sigma \sqrt{\pi a} \qquad (11.86)$$

درزد جوړښت  له ضخامت وتلي

انځور   11-49   سطحی جوړښت درز

د درز د څوکی د فشار شدت ($K_I$) د لور له فشار سره تغیر مومي او دا تغیر پدی لاندی انځور کی وینو




انځور 11-50 د جوړښت د فشار شدت

کله چې بر (width) د جوړښت د برخې محدود شي لکه څنګه چې پدې لاندې انځور کې ښودل شوي د درز د څوکې د فشار شدت پدې لاندې معادله پیدا کیږي.




$$K_I = \sigma\sqrt{\pi a}\ f(g) \qquad (11.87)$$

او یا پدې معادله:

$$K_I = \sigma(\pi a)^{1/2}[(W/\pi a)\tan(\pi a/W)]^{1/2} \qquad (11.88)$$

the term ( $\pi a/w$) is given in radians.

درزد جوړښت له ضخامت وتلي د جوړښت سور (width) محدود شوی او (W) دي.

انځور 11-51 محدود شوی سطحی جوړښت درز

## 11.35 درز د جوړښت په سطحه :




درز اندازه د مقطع د ضخامت په جهت کی په a ښودل شوي اوله ضخامت ندی تیر شوی. د فشار شدت د درز په ځوکه کی عبارت ده

$$K_I = 1.12\, \sigma \sqrt{\pi\, a/Q} \qquad (11.89)$$

$$Q = \sqrt{\phi^2 - \frac{0.212\sigma^2}{\sigma_{ys}{}^2}} \qquad (11.90)$$

$$\phi = \int_0^{\pi/2} \left[1 - \sqrt{\left(1 - \left(1 - \frac{a2}{c2}\right) sin^2\phi\right]}\; d\phi \qquad (11.91)$$




Elliptical Integral = $\phi$

انځور 11-52 سطحی جوړښت درز چی له ضخامت تیر شوی ندی

د آسانی لپاره د $\phi$ ارزښت پدی لاندی معادله هم ښودل شوي:

$$\phi = \frac{3\pi}{8} + \frac{\pi\, a^2}{8\, c^2} \qquad (11.92)$$

درزد اوږدوالي په 2c ښودل شوي.

د درزد شکل اثر په $\phi$ ښودل شوي، او ارزښت يي په لاندی شکل کی وینو.

د درز په ځوکه کی د فشار شدت (tress Intensity) په $K_I$ ښودل شوي.




انځور 11-53 د درز د شکل اثر

## 11.36 د جوړښت په یوه اړخ کی درز :




درز د جوړښت په یوه اړخ کیدی

د فشار شدت د درز په څوکه کی عبارت دی

$$K_I = 1.12\sigma\sqrt{\pi a} \qquad (11.93)$$

انځور 11-54 د جوړښت په یو اړخ کی درز

کله چی بر (width) د جوړښت د برخی محدود شي لکه څنګه چی پدی لاندی انځور کی ښودل شوي




درزد جوړښت له ضخامت وتلي

د جوړښت بر (width) محدود شوی او (W) دي.

انځور 11-54 د جوړښت په یو اړخ کی درز

د درز دخوکي د فشار شدت $(K_I)$ پدی لاندی معادله پیدا کیږي

$$K = \sigma (\pi a)^{1/2}[1.12-0.23(a/W)+10.6(a/W)^2 -2.17 (a/W)^3 +30.4 (a/W)^4 ] \qquad (11.94)$$

## درز د جوړښت په دوو اړخونو کی




انځور 11-55 د جوړښت په دو اړخو کی درز

د درز د څوکی د فشار شدت $(K_I)$ داسی لیکلی شو:

$$K =\sigma(\pi a)^{1/2}[(W/\pi a)\tan(\pi a/W)+((0.2W)/(\pi a))\sin(\pi a/W)]^{1/2}$$

the term ( $\pi a/w$ ) is given in

## 11.37 درز د جوړښت له یوه دایروی سوری :

د درز  اندازه  د مقطع له ضخامت وتلي او اوږدوالی یی په  a  ښودل شوي.

د درز په څوکه کی د فشار شدت (tress Intensity) په  K  ښودل شوي.




$$K_I = \beta\, \sigma \sqrt{\pi a} \qquad (11.95)$$

$$\beta = \frac{0.87}{(0.33 + \frac{a}{r})} + 0.68 \qquad (11.96)$$

انځور  11-56  د رز په یو اړخ د سوري




انځور  11-57  د رز د اوږدوالي او بیتا فکتور اړیکي

## 11.38 د رز دلا محدوده جوړښت په وسط کی له یوه دایروی سوری څخه.

درز له ضخامت تیر شوي




انځور 11-58 د رز په دوو اړخو د سوري

$$K_I = f\left(\frac{a}{r}\right)\sigma\sqrt{\pi a} \qquad (11.97)$$

درز اندازه په a ښودل شوي او د جوړښت له ضخامت وتلی دی.

درزد اوږدوالي له سوري (hole) ښي یا چپ لورپه حرف a ښودل شوي، او د درز په څوکه کی د فشار شدت (tress Intensity) په $K_I$ ښودل شوي.

د درز اوږدوالي او سوري قطر اندازه باید له پنځه چند د سوري له قطر کم وي. کی چیری زیاد شو په هغه حالت کی دواړه خواوي درزونه او د سوری قطر یو لوي درز په واسط د جوړښت حسابیږي او د درز د څوکی شدت د فشار په هم هغه درز لپاره محاسبه کیږي (له 11.89 معادلی باید کار واخیستل شي).

$$2a + d =< 5d \qquad (11.97)$$

$$2a + 2r =< 5(2r)$$

$$a + r =< 5r$$

$$a =< 4r$$

$$a/r =< 4$$




انځور 11-59 د د رز د شعاع او د بيتا فکتور اړيکي

## 11.39 مثال

يود فشار ساتونکی جوړښت (pressure vessel) چې قطر يي 40 انچ دی له داسی موادو څخه جوړيږي چې د ماتيدو سختوالي (fracture toughness) يي $K_c = 75$ ksi √in اود يلد مقاومت $Fy = 87$ ksi دی. په فشار ساتونکی جوړښت کی داخلی فشار $P = 2500$ psi . د جوړښت ضخامت ( $t = 0.75$ in ) دی. د فشار ساتونکی جوړښت په دوراني ډول معاينه کيږي چې کيدی شي په سطح درزچی (۰.۴۰ انچ ) يا زيادتر اوږدوالی ولری کشف کړي . د سطحې درز هغه لوي ارزښت څه دی که چيري وده وکړي او مخکی لدی چې جوړښت مات شي دجوړښت داخلی فشار بيرون ته جريان پيل کړي (leak before burst) .

### حل

د جوړښت په سطحه يو درزشتون لرى او له ضخامت تير شوى يا مساوى په ضخامت يی فرض کوو. ددی درز په څوکه کی د فشار شدت وينو:

$$K_I = 1.12\, \sigma \sqrt{\pi a/Q}$$

$$Q = \sqrt{\phi^2 - \frac{0.212\sigma^2}{\sigma_{ys}{}^2}}$$




انځور 11-60 د رز په سطح د جوړښت

درزد جوړښت په سطحه دی له ضخامت تیر شوی ندی

$\phi$= بیضوی انتیګرال دی (Elliptical Interal)

$$\phi = \int_0^{\pi/2} \left[1 - \sqrt{\left(1 - \left(1 - \frac{a2}{c2}\right) sin^2\phi\right]}\right.\ d\phi$$

او کیدی شی چی هغه پدی معادله هم تخمین کړو. دا به یو ثابت ارزښت وی چی په نسبت $\left(\frac{\sigma}{\sigma ys}\right)$ تغیر نه مومی.

$$\phi = \frac{3\pi}{8} + \frac{\pi\, a^2}{8\, c^2}$$

د $\phi$ ارزښت له انځور (11-61) پیدا کوو.

$K_c$ = 75 ksi $\sqrt{in}$

$\sigma_y$ = 87 ksi

p =2500 psi

r =d/2 = 40 in/2 =20 in

t =0.80 in

د داخلی فشار له امله سترس په پوستکی (skin) د جوړښت عبارت دی په:

$\sigma$ =pr/t = 2500 (20/0.80) = 62.5.0 ksi

د پوستکی د فشار او د موادو د مقاومت نسبت:

$\sigma/\sigma_y$ = 62.5/87 = 0.72

کله چی د درز ژوروالي (a) مساوی یا له ضخامت زیاد شي داخلی فشار بیرون ته وځي. او دا د فشاری ساتونکیو جوړښتو ددیزاین غوښتنه ده.

که چیری درز له ضخامت نه وی تیرشوی او په سطحه د ضخامت په لور وده کی وی د درز په څوکه کی د فشار شدت عبارت دی په ($K_I$) او د جوړښت په سطحه د درز په څوکه کی پیدا کوو.

$$K_I = 1.12\ \sigma \sqrt{\pi\, a/Q}$$

دلته فرض کوو چی درز تر ضخامت رسیدلی ، پدی لحظ کی د Q ارزښت پیدا کوواو هم درز وده کړي پدی معنی چی د فشار شدت د درز په څوکه کی د موادو د ماتیدو سختوالي ($K_C$) زیاد شوي.

$K_I = K_c$

$$= 75 = (1.12)(62.5)\sqrt{3.14\frac{0.80}{Q}}$$

$$(75)^2 = [(1.12)(62.5)]^2\left(3.14\frac{0.80}{Q}\right)$$

$Q = 2.19$




انځور 11-61 د رز او بيضوي انتيګرال اړيکي




انځور 11-62 د رز او د شکل اړیکي (د نړۍ ویب پاڼه)

د ارزښت په پورتني انځور کي وینو او دا لاندي ارزښتونه په لاس راځي:

Q = 2.19

$\sigma/\sigma_y = 62.5/87 = 0.72$

$$\frac{a}{2c} = 0.45$$

a = 0.80

c = 0.89 “

2c = 1.78 “

کله چی درز له ضخامت وزی اوږدوالي به (”1.78) وي او دا ارزښت د لیدنی توانایي ارزښت چی (”0.40) دی ډیر دی . پدی معنی مخکی لدی چه درز یو خطرناک حد ته ورسیږي په دوراني لیدني سره به درز وموندل شي او کیدی شی چی جوړښت ترمیم شي.

## 11.40 دوهم مثال

د جوړښت په سطحه یو درز شتون لري . ددی سطحی سور (width) محدود شوی ندی. د دی جوړښت د موادو د ما تیدو د فشار شدت له ازموینی پیدا شوی او عبارت دی په ($K_c = 66\ MPa.m^{1/2}$) او هم د سترس (فشار) اندزه د بهرنی بار له امله مساوی ده په ( $\sigma=138\ MPa$) غواړو د درز اندازه کوم چی جوړښت د ماتیدو حالت ته رسوی پیدا کړو . د موادو د یلد مقاومت ($F_y = 552\ MPa$) .




$K_I = \sigma\sqrt{\pi\, a}$

درزد جوړښت له ضخامت وتلي

انځور 11-63 د رز په وسط د سطحی جوړښت

$$a = (66/138)^2/(3.14) = 0.0729\ m$$

$$=7.29\ cm$$

$$2a = 2x7.29\ cm\ = 14.58\ cm = 145.8\ mm$$

که چیری د موادو د فشار شدت ارزښت تغیر ومومي او زیادت وکړي د ماتیدو درز اندازه به هم تغیر وموميِ. او دا تغیر په دی لاندی انځور کی ښودل شوي.

$$K_I = Kc = 66MPa.\ m^{1/2} = 138\ (\sqrt{\pi\, a})$$




انځور 11-64 د درز اوږدوالي او فشار اړیکي

په پورتني انځور کی وینو کله چی د موادو د ماتیدو سختی (Kc) ارزښت لوړ شی د ماتیدو درز هم اندازه یي لوړیږي. جوړښت کولاي شی چی اوږد درز تحمل کړي.

د درز د څوکی د فشار شدت باید همیشه له د موادو له سختی لږ وی، دا د دیزاین یو مهم او با ارزښت غوښتنه ده.

## 11.41 دریم مثال

د یوه پله ګادر وروسته لدی چی لیدنه یي وشوه دا لاندی معلومات د پله انجینر په ډاګه کړل:

د ګاډر تیته برخي فلنج برخه کی درز شتون لری.

درز په تیته برخه فلنج کی اوږدوالي یي = 12.5 cm

د فلنج سور = 41 cm

غواړو چی د فشار شدت $(K_I)$ د درز په څوکه کی پیدا کړو




انځور 11-65 موندل شوي درز د پله د ګاډر مقطع کي

په هغه لحظ کی چی بی ثباتی مینځ ته راځی د فشار شدت  تیته خوا فلنج تر یو مساویانه (uniform) فشارچی مؤمنت را پیدا کړي اود اسی پیدا کولا ی شو:

$$K = \sigma \sqrt{\pi a}\sqrt{\sec \pi a/W}$$




انځور   11-66  موندل شوی د رز په تیته خوا د ګادر مقطع کي

$$K = 83 \ \sqrt{\pi 6.25}\sqrt{\sec \pi (6.25/41)}$$

$$K = 37 \text{ Mpa} \sqrt{m}$$

## 11.42 سترين انرژي:

کله چی په یو جوړښت بهرنی بار عمل وکړي دا بهرنی بار په جوړښت کار کوی او د سترين انرژي په شکل په جوړښت کی زیرمه کيږي.

د یو واحد محوری بار له امله دا انرژي په واحد حجم کی عبارت ده:

$$U_o = ½ (\sigma\varepsilon)$$

توله انرژي زیرمه شوی په جوښت کي مساوی ده په:

$$= (½) (\sigma^2/E) \qquad (11.98\ )$$




انځور 11-67 سترين انرژی

$$U = \iiint_0^{volume} U_0 DV \qquad (11.99)$$

انرژي د سترس او سترين پدی ډول ليکلی شو:

$$U_o = (1/2E)\,[\sigma_{xx}^2 + \sigma_{yy}^2 + \sigma_{zz}^2] - \nu/E\,[\sigma_{xx}\sigma_{yy} + \sigma_{yy}\sigma_{zz} + \sigma_{zz}\sigma_{xx}] + (1/2G)[\tau_{xy}^2 + \tau_{yz}^2 + \tau_{zx}^2] \qquad (11.100)\,)$$

د سترين له اجزاوو سره

$$U_o = \lambda/2\,[\varepsilon_{xx} + \varepsilon_{yy} + \varepsilon_{zz}] + G[\varepsilon_{xx}^2 + \varepsilon_{yy}^2 + \varepsilon_{zz}^2 + 2\varepsilon_{xy}^2 + 2\varepsilon_{yz}^2 + 2\varepsilon_{zx}^2] \qquad (11.101)$$

$$\gamma_{xy} = 2\varepsilon_{xy},\; \gamma_{yz} = 2\varepsilon_{yz},\; \gamma_{zx} = 2\varepsilon_{zx}, \qquad G = E/[2(1+\nu)] \qquad (11.102)$$

$$\lambda = \frac{(\nu E)}{(1+\nu)(1-2\nu)}$$

## 11.43 احتمالي انرژي (Potential Energy) :

لاندی جوړښت يو مساوی ويشل شوی فشار سره مخامخ دی او درز پکښي شتون نلري. ددی جوړښت انرژی په واحد حجم کی عبارت ده :

$$\sigma^2/(2E). \qquad (11.103)$$




انځور 11-68 ویشل شوی بار په جوړښت پلي شوي

کله چې یو درز په اندازه د (2a) په دی عضو کی جوړ شي د موادو یو اندازه سترین انرژي په لوړه برخه او ددرز لاندی برخه د درز خو شي کیږي.




انځور 11-69 په جوړښت کی درز او بهرني ویشلشوی بار شتون لري

داسی فرض کوو چی دا برخه چې سترین انرژي خوشی کړی هغه یو مثلث چی لوړوالي (b) دی څنګه چې په انځور کی ښودل شوي. حجم ددی برخی مساوی دی په

$$\beta a^2 t/2 + \beta a^2 t/2 = \beta a^2 t \qquad (11.104)$$

خوشي شوی انرژي په واحد ضخامت کی عبارت ده:

$$U = (\sigma^2)/(2E)\beta a^2 \qquad (11.105)$$

د سطحی فشار (Plane stress) لپاره دا انرژي عبارت ده: $(\beta=\pi)$

$$U = (\sigma^2)/(2E)\pi a^2 \qquad (11.106)$$

مشتق د انرژی نظر د درز اوږدوالی:

$$du/da = (\sigma^2/E)\ \pi a \qquad (11.107)$$

## 11.44 سطحی انرژی (Surface energy) :

د درز په جوړیدو یو اندازه انرژی مصرف شوه، او ددی لپاره چی درز په هره څوکه کی وده وکړی باید یو اندازه نوره انرژی په سیستم ور اضافه شي.

$$W_s = 2A\gamma_s \qquad (11.108)$$

$$A = \beta 2a/2 = \beta a \qquad (11.109)$$

پدی معادله کی $W_s$ سطحی انرږي ده.

(A) مساحت د ساحی (مثلث) دی.

$(\gamma_s)$ د جوړښت د موادو حجمی وزن دی

د سطحی انرژی (Surface energy) لاس ته راوړل = کشش په سطح ضرب د د درز سطحی مساحت= $(\gamma 2a)$

د ایلستیک انرژي له لاسه ورکول یا زیان یي = ځانګړي ایلستیک انرژي ضرب د د فشاره صاحی مساحت = $((\sigma^2/2E)\ \beta a^2)$

## 11.45 د ګریفت (Griffith) تیوري

د فریکچر میکانیکس لوی ځیرنه او وضاحت په ۱۹۲۰ کي د ګریفیت تیوری سره راغی. دا تیوري اکثره په ماتیدونکیو (brittle) موادو کې چی پلاستیک خوځیدل شتون نلري تطبیق کیږي.

هغه باور درلود چې په موادو کې ډیرې مایکروسکوپي درزونه شتون لري ، او فشارونه د دې درزونو له امله لوېږي. په نتیجه کې  درزونه ډیر ګرندي وده کوي ، او د ماتیدو لامل کیږي. په موادو کې کونجونه ، یا د موادو داخلي ساحه کې خالي ځایونه هم د فشار غلظت رامینځته کولو لامل کیږي ، او ډیری وختونه ، ماتیدل له دې برخو څخه پیل کیږي.

د ګریفیت تیورې د ماتیدونکې موادو لپاره د ایلاستیک سترین انرژي مفاهیمو پراساس ولاړه ده . د ګریفیت په وینا کله چې درز وسعت پیدا کوی سطحی انرژي زیادت نیسي اوکله چې دا  سطحې انرژي لاسته راوړنه د سترین  انرژي له لاسه ورکولو سره مساوي شي ماتیدل مینځ ته راځی.

ګریفیت د سیستم میکروسکوپیک احتمالي (potential energy) انرژي پیژندلې وه او ویل یې  چې سیستم داخلي زیرمه شوي ایلستیک انرژي لري،  او د بهرنی پلې شوي بارونو احتمالي انرژي  د درز له اندازې سره تړون لري. ماتیدل د موادو له مصرف ددی انرژي سره تړاو لري .

په سیستم کې د درز توسیع لپاره موږ باید دا لاندی متغیرونه ولرو:

(a)  د د درز د څوکی مخکنې فشار باید یو څه مهم حد ته ورسیږي.

(b)  د سیستم ټوله انرژي باید په اندازه  د درز د زیاتوالي سره کمه شي

هغه اندازه د انرژي چې د یو درز ودی لپاره اړین ده یو ثابت حد لري. (پدی معنی هغه اندازه انرژي چې د یوه اتوم تړون د درز په څوکه کې مات کړي،  او دا انرژي د یو بل اتوم تړاو ماتولو ورته ده . پدی شان د نورو ټولو راتلونکی اتومود تړاو ماتیدلو لپاره) له دی امله سطحی انرژي ($W_s$)   د درز د ودي سره په خطي توګه  زیادت مومي. پدی اساس  مثبت دی ځکه  دا سیستم ته داخل شوی انرږي ده چې نوی سطحه جوړه کړي  (لاندی شکل وګوري).

د د دی لپاره چې درز له شروع (صفر) تر  یو حد  ( a ) وده وکړي سیتم اضافه انرژی ته اړتیا لري. په عین حال کی کله چې درز له یو اندازه (a) تر ($a_{eq}$) وده کوي  پدی حالت کی یو اندازه انرژي مصرف کیږي, او درز  ګرندی وده کوی نظر هغه انرژی ته چې سیستم ته داخلیږي. دا حالت پدی لاندی انځور کی ښودل شوي.




انځور   11-70  سترین انرژي په جوړښت کی او د تعادل حالت

د ګریفیت تیوری لپاره راځئ چې دا لاندی وګورو.

تحلیل د داسي مفکورې پر بنسټ ولاړ دی چې په ایلستیک موادو کی ، درز د ماتیدلو سبب هغه وخت ګرځي کله چې د درز په څوکه کي ایلستیک انرژي د درز د توسیع له امله، زیادت یا مساوی په هغه ایلستیک انرژي چی د درز د زیات والي په جریان کې د درز په څوکه کی جوړه شوي مساوي وي یا ډیر وي.

یو داسی اوار سطحی (plate) غړی چی ډیر زیاد (لا محدود) سور (width) لری او واحد ضخامت لري په پام کی نیسو. او په دی پلیت یو درز چی اوږدوالي (2a) دی او یو کشیدونکی فشار (σ) ورباندی پلی شوي . د سیستم ټول احتمالي انرژي U عبارت ده :

$$U = U_0 - U_a + U_s \qquad (11.110)$$

ایلستیک انرژی د پلیت کله چی درز شتون نلري $U_0 =$

د ایلستیک انرژی کموالي کله چی درز په دی پلیت راپیدا شو $U_a =$

$$U_a = \frac{\pi \sigma^2 a^2}{E} \qquad (11.111)$$

د درز پیدا کیدو له امله د ایلستیک انرژی زیاتوالي په سطحه د پلیت کی $U_s =$

سطحی ایلستیک انرژي ($U_s$) مساوی ده په د موادو سطحی کشش ($\gamma_e$) ضرب د نوی درز سطحی مساحت:

$$U_s = 2\,(2a\gamma_e) \qquad (11.112)$$

پدی معادلو کی E او $\gamma_e$ د موادو خاصیتونه دی.

ایلستیک انرژی د ټول سیستم عبارت ده په:

$$U = U_0 - \frac{\pi \sigma^2 a^2}{E} + 2\,(2a\gamma_e) \qquad (11.113)$$

اوس که چیری مشتق د پورتني معادلی (U) نظر په اوږدوالي a د درز ونیسو او د تعادل حالت لپاره بیا معادله حل کړو:

$$\left(\frac{2E\gamma_e}{\pi}\right)^{0.5} = \sigma\sqrt{a} \qquad (11.114)$$

نو د معادلي چپ اړخ یو ثابت حد لری او هغه د موادو ځانګړتیا ده.

له دی معادلی داسی معلومیږي چی د درز غزیدل د پلی شوی فشار σ اود درز د اوږدوالي a محصول او د موادو د خاصیت سره تړلی دی.

په پایله کی دا معادله په ګوته کوي چی د درز زیاتوالي یا توسیع هغه وخت پیشیږي چی ( $\sigma\sqrt{a}$) یو ثابت حد ته ورسیږي. د دې ثابت قیمت ارزښت د تجربې له پلوه د فریکچر فشار اندازه کولو سره ټاکل کیدی شي.

دا معادله داسی هم لیکلي شو:

$$2E\gamma_e = \left(\frac{\pi\sigma^2 a}{E}\right) \qquad (11.115)$$

دا ښي اړخ د دی معادلي د انرژي خوشي کولو اندازه ($\gamma$) ده، او هغه وړاندیز د ایلستیک انرژي په واحد د درز سطحی مساحت چی د درز د توسیع لپاره شتون لري دی.

او دا معادله داسی هم لیکلی شو:

$$\left(\frac{\pi\sigma^2 a}{E}\right)\; G = \left(\frac{K_I^2}{E}\right)(1-v^2) \qquad (11.116)$$

هغه د ضرورت وړ فشار چی درز غزیدل شروع کړي عبارت د ی په

$$\sigma_B = \sqrt{\frac{2\gamma E'}{\pi a}} \qquad (11.117)$$

دلته (E') د یانګ ماجولس (Young Modulus) د نازک صفحی لپاره چی فشار وربانذی عمل کړي او ($\nu$) د پویزانس نسبت دي.

دا معادله داسی هم لیکلی شو:

$$\sigma_f = \sqrt{\frac{G_c E'}{\pi a}} \qquad (11.118)$$

$$G = \frac{K^2}{E'}$$

$E' = E$ plane stress (11.119)

$E' = E/(1-\nu^2)$ plane strain

جی آر آرون (G.R. Irwin) په ۱۹۵۰کلونو کې د ګریفیت تیوری کی لږ څه زایتوالی راوست . هغه ویل چی په ایلستیک انرژي یو ټاکلی پلاستیک انر ژي هم ور اضافه شي. چې د ګریفیت لخوا په نظر کې نیول شوې وه ترڅو د ماتیدونکیو موادو لپاره کار وکړي ، او دا هغه څه رامینځته کوي چې د سترین انرژي خوشي کولو اندازه (strain energy release rate) په نوم پیژندل کیږي.

ارون د کرک شاوخوا د فشار ساحه په پام کې ونیوله. د فشار شدت د درز په ځوکه کې د ورکړل شوي کشش فشار او درز جامیتری او د درز په جیومتری د فشار عنصر د فشار شدت عنصر $K_I$ ارزښت لخوا ټاکل کیږي .

یو شمیر نورو پوهانو په ۱۹٤۰ او ۱۹٥۰ کې د فریکچر میخانیک تیوری په باره کې ډیر توضیحات اضافه کړي.

## 11.46 مثال

په دی لاندی جوړښت کې د اعضمی درز اندازه مشخص کوو:

جوړښت له فولادی موادو جوړشوی او د $K_{1c}$ ارزښت $30\ \text{Mpa}\sqrt{m}$ دی




$\sigma = 60\ \text{MPa}$

$K_I = \sigma\sqrt{\pi a}$

$K_I = K_c = \sigma\sqrt{\pi a}$

$50 = \sigma\sqrt{\pi a}$

$\sigma = (50^2)/(\pi a)$

$a = (50^2)/((\sigma^2)\pi))$

$a = (30^2)/((60^2)\pi)) = 0.08\ \text{m}$

$a = 8\ \text{cm}$

$2a = 16\ \text{cm}$

د درز اوږدوالي عبارت دی:

## 11.47 د درز خوځیدل

کله چې یو پر له پسی بار عمل کړی د درز د ځوکی فشار په هر ټکی د پر له پسی بار پدی لاندی معادله سره پیدا کولای شو:




انځور 71-11 پر له پسي بار او شتون يي په يو جوړښت

په عامه توګه دا معادله داسی هم لیکلی شو:

که چیری له آزموینی د یو نوع موادو د جوړښت جی پر له پسی بار ورباندی عمل کړی د درز د ودی اندازه او هم د فشار شدت د بار په شیبو کی معلوم او په دی لاندی ګراف کی وښودل شی:




انځور 72-11 پر له پسي فشار او شتون يي په يو جوړښت




انځور 11-73 د درز د ودی او سایکلو میلان

$$K_{max} = \sigma_{max}\sqrt{\pi a} \qquad (11.120)$$

$$K_{min} = \sigma_{min}\sqrt{\pi a} \qquad (11.121)$$

$$\Delta K = K_{max} - K_{min} \qquad (11.122)$$

$$= f(g)\, \Delta\sigma \sqrt{\pi a} \qquad (11.123)$$




انځور 11-74 د درز د خوکل فشار شدت (K) او سایکلو اړیکی

کله چی د درز د ودی میلان د فشار شدت د تغیر (ΔK) په ګراف کی واچوو دا لاندی ګراف ورځینی جوړیږي




انځور 11-75 د درز د ودي میلان او د فشار شدت تغیر (DK) د ازمویني ارقامو په اساس

کله چې لدی ارقامو د لاګ-لاګ (log-log) ګراف جوړ شي، دلته دری برخی لیدل کیږي.

د ا ګراف په دریو سیمو ویشل کیدلی شي. د ټیټ فشار شدت سیمه چې د ($\Delta K_{th}$) سره تړاو لري .

د مینځ سیمه (Region II) دا کرشه د جوړښت عکس العمل یو خطی خاصیت لري او د درز وده په دی سیمه کی معلومیدلي شي.

دریمه سیمه کی درز په ډیر سرعت وده کوی او درز باید دی سیمی ته ونرسی.

## 11.48 اوله سیمه (Region I)

دا سیمه د ترشهولډ (Threshold) اغیزو سره تړاو لري، کله چې د فشار شدت له ترشهولډ ټیټ وی درز وده نه کوي او اندازه کول یې هم ګران دي. د درز وده د ډیری فلزاتو اتومونو تر مینځ واټن سره لږدی.

د فولادو لپاره = ($\Delta K_{th}$)= 5-15ksi sqrt in

## 11.49 دوهمه سیمه (Region II)

دا سیمه کی د درز وده په یو خطی رویه تشریح کیدلي شي.  پدی سیمه کی د میلان د ګراف نژديٍ خطی دی . دی سیمی لپاره د فرکچر میکانیک یو لړ پوهانو معادلی وړاندی کړي تر څو د درز وده په موادو کی توضیح کړي. د مثال په توګه، واکر (Walker)، پاریس (Paris)، فورمن (Forman)  او داسی نور.

Paris Equation:

او د سایکلونو شمیره (N)  له  $a_i$  تر  $a_f$  پوري مساوی ده په:

$$da/dN = C(\Delta K)^m \qquad (11.124)$$

$$N_f = \int da/(C(\Delta K)^m \qquad (11.125)$$

د واکر (Walker) معادله د درز د ودی  معلومولو لپاره عبارت ده په:

$$\mathbf{da/dN = C[\Delta K(1\text{-}R)^{(m\text{-}1)}]^{n}} \qquad (11.126)$$

$R$ = Min $\sigma$ / Max $\sigma$

m - controls magnitude of data shift

As m increases, the shift decreases.

فورمن (Forman) معادله د درز د ودی  معلومولو لپاره په دی شان ده:

$$da/dN = C\,\Delta K^{n}/[(1 - R)Kc - \Delta K] \qquad (11.127)$$

## 11.50 دریمه سیمه (Region III)

کله چی د فشار شدت زیادشي  د درز وده ګړندی کیږي د درز په څوکه کی فشار زیادت مومی او په نهایت کی فرکچر یا ماتیدل د غړي را مینځ ته کیږي. پدی سیمه کی سرعت د درز د ودی خورا زیاد وی چټکتیا يي زیاده ده ، درز باید دی سیمی ته ونرسیږی. د درز وده له کنترول  وزي او دا برخه لدی کبله د درز په وده کی د حساب وړ نه ده.

## مثال 11.51

دیوه جوړښت په یوه اړخ کی درز شتون لري غواړو چی د سټرېا سالمه موده يي پيدا کړو.

د $\Delta K$ لپاره له دی لاندی معادلی کار اخلو:




$K_I = 1.12\sigma\sqrt{\pi a}$

درزد جوړښت په یوه اړخ کیدی

انځور 11-76 درز د سطحی جوړښت په یو اړخ کی

$$\Delta K = K_{max} - K_{min}$$

$$= f(g)\, \Delta\sigma \sqrt{\pi a}$$

$$\Delta K = 1.12\, \Delta\sigma \sqrt{\pi a}$$

د درز د ودی لپاره د پارس (Paris) له معادلي کار اخلو:

د پارس د درز دودي معادله :

$$da/dN = C(\Delta K)^m$$

$$da/dN = C\,(1.12\, \Delta\sigma \sqrt{\pi a})^m$$

د درز آخر برخه داسی ده:

$$K = f(g)\, \sigma \sqrt{\pi a}$$

$$a_f = (1/\pi)\, [Kc/(\sigma\, f(g))]^2$$

$$= (1/\pi)\, [Kc/(1.12\sigma_{mx})]^2$$

## 11.51a د درز د ودی مثال

د یوه جوړښت د موادو دا لاندي  خاصیتونه پیژندل شوي:

A514 steel, $\sigma_{ys}$ =100 ksi

$K_{1c}$ = 150 ksi

$a_0$ =0.3 in

$\sigma_{max}$ = 45 ksi

$\sigma_{min}$ = 25 ksi

$\Delta\sigma$ =20 ksi

$K_I = 1.12\,\sigma\sqrt{\pi a}$

غواړو د درز  بهرا ني یا خطرناک حد معلوم کړو او هم د هغو سایکلونو شمیره تر دی اندازي پوري معلومه کړو.

## 11.52 مثال

د یو پله د ګاډرد فلنج په یو اړخ کی یو درز چی یو سانتی متر(1 cm) اوږدوالی لری موندلی شوی.
غواړو چی د اعظمی درز حد ، او هم پیدا کړو چی دا درز به وروسته له څو سایکلونو خطرناک حد او په پایله کی د ماتیدو سبب شي.




د ګادر مقطع




انځور 11-77 درز د د گاډر په یو اړخ کی

د پله گادرله فولادو جوړ شوی او مواد دا لاندی خاصیتونه لري:

د بهرنی بار له امله دا لاندی فشارونه په گادر کی پیدا شوي:

| | |
|---|---|
| فولاد, $\sigma_{ys}$ =552 Mpa | |
| $K_{1c}$ = 143 Mpa $m^{0.5}$ | |
| $a_0$ = 0.001 m | |
| $\sigma_{max}$ =276 Mpa | |
| $\sigma_{min}$ = 103. MPs | |
| $\Delta\sigma$ =173 Mpa | |
| $K_I = 1.12\ \sigma \sqrt{\pi a}$ | (د یوه اړخ درز) |

**$da/dn = A\ (\Delta K)^m$**

A, m are constant material dependent

| | | | |
|---|---|---|---|
| $A = 2.54 \times 10^{-11}$ د دی نوع فولادو لپاره فرض کوو | | | |
| m = 2.2 | | | |

$\Delta K_I = 1.12 \ \Delta\sigma \ \sqrt{\pi} \ a_{avg}$

| |
|---|
| $da/dN = 2.54 \times 10^{-11} \ (\Delta K_I)^{2.2}$ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| $\Delta N = \{\Delta a \ / \ (2.54 \times 10^{-11} \ [1.12 \ \Delta\sigma \ \sqrt{3.14} \ a_{avg)} \}$ | | | | |
| = cycles | | | | |

$$a_{cr} = \left(\frac{1}{\pi}\right) \left(\frac{K}{1.12 \ x \ \sigma_{max}}\right)^2$$

| $\sigma_{max}$ | $K_C$ | $\pi$ | $(K/1.12\sigma_{max})^2$ | $a_{cr}$ ( m) |
|---|---|---|---|---|
| 276 | 143 | 3.14 | 0.21 | **0.068** |
| | | | $a_{cr}$ = 6.8 | cm |

$a_{cr}$ = 6.8 cm

| $a_0$ (m) | $a_f$ (m) | $a_{avg}$ (m) | $\Delta a$ (m) | $\Delta\sigma$ (Mpa) | m | A (m/cycle) | $\Delta K$ (MPa sqrm) | $\Delta K^n$ | $(A)(\Delta K^n)$ | $\Delta N$ (cycles) | $\Sigma N$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2.2 | 2.54E-11 | 0.00 | 0 | 0.0000E+00 | 0 | 0 |
| 0.001 | 0.00350 | 0.00225 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 16.29 | 4.64E+02 | 1.1780E-08 | 212,226 | 212,226 |
| 0.0035 | 0.00600 | 0.00475 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 23.67 | 1.06E+03 | 2.6798E-08 | 93,290 | 305,516 |
| 0.0060 | 0.00850 | 0.00725 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 29.24 | 1.68E+03 | 4.2669E-08 | 58,590 | 364,106 |
| 0.0085 | 0.01100 | 0.00975 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 33.91 | 2.33E+03 | 5.9108E-08 | 42,295 | 406,401 |
| 0.0110 | 0.01350 | 0.01225 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 38.01 | 2.99E+03 | 7.5979E-08 | 32,904 | 439,305 |
| 0.0135 | 0.01600 | 0.01475 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 41.71 | 3.67E+03 | 9.3199E-08 | 26,824 | 466,130 |
| 0.0160 | 0.01850 | 0.01725 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 45.11 | 4.36E+03 | 1.1072E-07 | 22,580 | 488,710 |
| 0.0185 | 0.02100 | 0.01975 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 48.27 | 5.06E+03 | 1.2849E-07 | 19,457 | 508,167 |
| 0.0210 | 0.02350 | 0.02225 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 51.23 | 5.77E+03 | 1.4649E-07 | 17,066 | 525,233 |
| 0.0235 | 0.02600 | 0.02475 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 54.03 | 6.48E+03 | 1.6469E-07 | 15,180 | 540,413 |
| 0.0260 | 0.02850 | 0.02725 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 56.70 | 7.21E+03 | 1.8308E-07 | 13,655 | 554,068 |
| 0.0285 | 0.03100 | 0.02975 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 59.24 | 7.94E+03 | 2.0164E-07 | 12,398 | 566,466 |
| 0.0310 | 0.03350 | 0.03225 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 61.68 | 8.68E+03 | 2.2036E-07 | 11,345 | 577,812 |
| 0.0335 | 0.03600 | 0.03475 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 64.02 | 9.42E+03 | 2.3922E-07 | 10,451 | 588,262 |
| 0.0360 | 0.03850 | 0.03725 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 66.29 | 1.02E+04 | 2.5821E-07 | 9,682 | 597,944 |
| 0.0385 | 0.04100 | 0.03975 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 68.48 | 1.09E+04 | 2.7734E-07 | 9,014 | 606,958 |
| 0.0410 | 0.04350 | 0.04225 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 70.60 | 1.17E+04 | 2.9659E-07 | 8,429 | 615,388 |
| 0.0435 | 0.04600 | 0.04475 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 72.65 | 1.24E+04 | 3.1595E-07 | 7,913 | 623,300 |
| 0.0460 | 0.04850 | 0.04725 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 74.66 | 1.32E+04 | 3.3542E-07 | 7,453 | 630,754 |
| 0.0485 | 0.05100 | 0.04975 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 76.61 | 1.40E+04 | 3.5499E-07 | 7,042 | 637,796 |
| 0.0510 | 0.05350 | 0.05225 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 78.51 | 1.48E+04 | 3.7466E-07 | 6,673 | 644,469 |
| 0.0535 | 0.05600 | 0.05475 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 80.36 | 1.55E+04 | 3.9442E-07 | 6,338 | 650,807 |
| 0.0560 | 0.05850 | 0.05725 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 82.18 | 1.63E+04 | 4.1428E-07 | 6,035 | 656,842 |
| 0.0585 | 0.06100 | 0.05975 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 83.95 | 1.71E+04 | 4.3422E-07 | 5,757 | 662,599 |
| 0.0610 | 0.06350 | 0.06225 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 85.69 | 1.79E+04 | 4.5425E-07 | 5,504 | 668,103 |
| 0.0635 | 0.06600 | 0.06475 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 87.40 | 1.87E+04 | 4.7436E-07 | 5,270 | 673,373 |
| 0.0660 | 0.06850 | 0.06725 | 0.0025 | 173 | 2.2 | 2.54E-11 | 89.07 | 1.95E+04 | 4.9454E-07 | 5,055 | 678,428 |




انځور 11-78 درز د ودي پر مخ تګ

| | |
|---|---|
| **$da/dn = A\,(\Delta K)^m$** | |
| **$\Delta K_I = 1.11\ \Delta\sigma\ \sqrt{\pi}\ a_{avg}$** | steel, $\sigma_{ys}$ =690 Mpa |
| | $K_{1c}$ = 165 Mpa $m^{0.5}$ |
| A, m are constant material dependent | $a_0$ =0.001 cm |
| $A = 0.10 \times 10^{-9}$ د دی نوع فلز لپاره فرض کوو | $\sigma_{max}$ =150 Mpa |
| $m = 3.0$ | $\sigma_{min}$ = 50 Mpa |
| **$da/dN = 4 \times 10^{-9}\ (\Delta K_I)^{3.5}$** | $\Delta\sigma$ =100 Mpa |
| **$\Delta N = \{\Delta a / (4 \times 10^{-9}\ [1.11\ \Delta\sigma\ \sqrt{3.14\ a_{avg})}\ \}$** | $K_I = 1.11\ \sigma\ \sqrt{\pi a}$ (په وسط د پنل کې درز) |
| **= cycles** | |

**$\Delta K_I = 1.11\ \Delta\sigma\ \sqrt{\pi}\ a_{avg}$**

$$a_{cr} = \left(\frac{1}{\pi}\right)\left(\frac{K}{1.11 \times \sigma_{max}}\right)^2$$

| $\sigma_{max}$ | $K_C$ | $\pi$ | $(K/\sigma_{max})^2$ | $a_{cr}$ (M) |
|---|---|---|---|---|
| 150 | 165 | 3.14 | 0.98 | **0.313** |
| | | | $a_{cr}$ = 0.313 m | |




درز د جوړښت په سطحه دی
له ضخامت تیر شوی دی

انځور 11-79 درز له مقطع تیر شوي




انځور 11-80 د درز د ودی پر مخ تګ

| $a_0$ (m) | $a_f$ (m) | $a_{avg}$ (m) | $\Delta a$ (m) | $\Delta\sigma$ (Mpa) | n | A (m/cycle) | $\Delta K$ (MPa sqrm) | $\Delta K^n$ | $(A)(\Delta K^n)$ | $\Delta N$ (cycles) | $\Sigma N$ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 0 | 0 | 0 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 0.00 | 0 | 0.0000E+00 | 0 | 0 |
| 0.00100 | 0.01350 | 0.00725 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 16.75 | 4.70E+03 | 4.6975E-07 | 26,610 | 26,610 |
| 0.01350 | 0.02600 | 0.01975 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 27.64 | 2.11E+04 | 2.1121E-06 | 5,918 | 32,528 |
| 0.02600 | 0.03850 | 0.03225 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 35.32 | 4.41E+04 | 4.4072E-06 | 2,836 | 35,364 |
| 0.03850 | 0.05100 | 0.04475 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 41.61 | 7.20E+04 | 7.2037E-06 | 1,735 | 37,099 |
| 0.05100 | 0.06350 | 0.05725 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 47.06 | 1.04E+05 | 1.0424E-05 | 1,199 | 38,299 |
| 0.06350 | 0.07600 | 0.06975 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 51.95 | 1.40E+05 | 1.4018E-05 | 892 | 39,190 |
| 0.07600 | 0.08850 | 0.08225 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 56.41 | 1.80E+05 | 1.7950E-05 | 696 | 39,887 |
| 0.08850 | 0.10100 | 0.09475 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 60.54 | 2.22E+05 | 2.2194E-05 | 563 | 40,450 |
| 0.10100 | 0.11350 | 0.10725 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 64.41 | 2.67E+05 | 2.6728E-05 | 468 | 40,918 |
| 0.11350 | 0.12600 | 0.11975 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 68.07 | 3.15E+05 | 3.1534E-05 | 396 | 41,314 |
| 0.12600 | 0.13850 | 0.13225 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 71.53 | 3.66E+05 | 3.6598E-05 | 342 | 41,656 |
| 0.13850 | 0.15100 | 0.14475 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 74.83 | 4.19E+05 | 4.1907E-05 | 298 | 41,954 |
| 0.15100 | 0.16350 | 0.15725 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 78.00 | 4.75E+05 | 4.7451E-05 | 263 | 42,217 |
| 0.16350 | 0.17600 | 0.16975 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 81.04 | 5.32E+05 | 5.3220E-05 | 235 | 42,452 |
| 0.17600 | 0.18850 | 0.18225 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 83.97 | 5.92E+05 | 5.9206E-05 | 211 | 42,663 |
| 0.18850 | 0.20100 | 0.19475 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 86.80 | 6.54E+05 | 6.5400E-05 | 191 | 42,854 |
| 0.20100 | 0.21350 | 0.20725 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 89.54 | 7.18E+05 | 7.1797E-05 | 174 | 43,029 |
| 0.21350 | 0.22600 | 0.21975 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 92.20 | 7.84E+05 | 7.8389E-05 | 159 | 43,188 |
| 0.22600 | 0.23850 | 0.23225 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 94.79 | 8.52E+05 | 8.5172E-05 | 147 | 43,335 |
| 0.23850 | 0.25100 | 0.24475 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 97.31 | 9.21E+05 | 9.2140E-05 | 136 | 43,470 |
| 0.25100 | 0.26350 | 0.25725 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 99.76 | 9.93E+05 | 9.9288E-05 | 126 | 43,596 |
| 0.26350 | 0.27600 | 0.26975 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 102.16 | 1.07E+06 | 1.0661E-04 | 117 | 43,714 |
| 0.27600 | 0.28850 | 0.28225 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 104.50 | 1.14E+06 | 1.1411E-04 | 110 | 43,823 |
| 0.28850 | 0.30100 | 0.29475 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 106.79 | 1.22E+06 | 1.2177E-04 | 103 | 43,926 |
| 0.30100 | 0.31350 | 0.30725 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 109.03 | 1.30E+06 | 1.2960E-04 | 96 | 44,022 |
| 0.31350 | 0.32600 | 0.31975 | 0.0125 | 100 | 3 | 0.0000000001 | 111.22 | 1.38E+06 | 1.3759E-04 | 91 | 44,113 |




انځور 11-81 د درز د ودی پر مخ تګ

## 11.53 د لوړو او ټیټو بارونو اثر اود درز د پرمختګ ورو کول ( Load Interaction (Retardation

کله چې یو لوړ فشار په دوامداره بار کې شتون ولري ، د درز وده سمدلاسه د لوړ فشار عمل څخه وروسته د نظر د لوړ فشار مخ په پرتله خورا ورو کیږي.

د درز وده کیدی شي چې د ٤-٥ فکتور په اندازه کمه شي. د لوړ بار وروسته په تدریجي ډول د درز اصلي وده بیا پیل کیږي. دا پدیده د شا تګ (Retardation) په نوم پیژندل کیږي. د درز ودی تحلیل د یو تغیر وړ بار لپاره او د متغیر بار اثر او اغیزه بدون د شا تګ (retardation) اثر معلومول امکان نلري. د یو لوړ بار شتون د جوړښت په موادو کی په عوض د کشیدو د تیلوهلو (Compression)

حالت راولي.  دا به ښه وی چې د لوړ بار (Overload) تاثيرات چې په نامه د ريتارديش (Retardation)  ياديږی دلته توضيح شي.

د درز د څوکی سره د پلا ستيک سيمي اندازه د پلی شوی بار اندازي پوري تړاو لري.




انځور   82-11   د لوړلو او ټيټو بارونو اثر د درز په وده باندي

د لوی بار پلی کيدو وروسته، د نوي را مينځته شوي  پلاستيکی ساحي بهر السټيکي مواد ( Elastic Material) هڅه کوی خپل پخوانی حالت ته و خوځيږي. او په نتيجه کی السټيکی مواد د پلاستيک ساحی موادو کي پاتي شوي فشارونه جوړه وي.




انځور 11-83 د لوړبار اثر د پلاستيک ساحی جوړه ول درز مخ کي

ويلر د شاتګ موډل (Wheeler's Retardation Mode):
په هغه لحظه کی چی لوي بار پلي شي د درز شا تګ اعظمی حد کی وی ، او کله چی درز وده وکړي شاتګ مخ په کميدوکيږي.

شاتګ اغيزه پای ته رسيږي کله چی ($\phi$ = 1.0) د پلستيک ساحه د بار له جوړه شوی پلاستيک ساحی څخه ډير شی. د درز نوی اندازه داسی محاسبه کيږي:




انځور 11-84 د لوړبار اثر د پلاستيک ساحی جوړه ول درز مخ کي

$$a_{j+1} = a_j + \phi_j \Delta a_j \qquad (11.128)$$

پدی معادله کی د $(\phi_j)$ ارزښت داسی محاسبه کيږي:

$$\phi_j = [\frac{r_{pj}}{r_{p0} - (aj - a_0)}]^m \qquad 0.0 < \phi_j =< 1.0 \qquad (11.129)$$

پدی معادله کی د (m) ارزښت د موادو ازموینی ارقامو او د پلی شوی بار معلوماتو په اساس لاس ته راځي.




انځور 11-85 د (m) ارزښت د ازموینی او تحلیل له ارقامو

## 11.54 د بار متقابل عمل- لوی بار او وړوکی بار (Overloads/Underloads)

کشش لوی بار ( Tensile overloads) د درز ودی مخنیوي کوي او تیلوهلو ( Compressive underloads) وړوکی بار کولاي شی د درز وده ګړندی کړي.




انځور 11-86 د لوړ بار بشودل په یو پر له پسی بار کي




انځور 11-87 د درز وده د لوړ بار او کله چې شتون ونلری







انځور 11-88 د درز وده د تیلوهنکي بار او کله چې شتون ونلری

د درز د ودی پروسه پدی لاندی گراف تفصيل شوي او کيدی شي چی ددي گراف په اساس کمپيوتری پرگرام جوړ شي او د کرک وده معلومه شي.




انځور 11-89 د درز د ودي فلو چارت

## 11.55 د جوړښتونو کتنه یا تفتیش

د یو جوړښت خوندیتوب او د زیان زغمل د دیزاین په داسی تګ لاره ولاړ دی چی د زیان په شتون کي جوړښت خوندي او د کار اخستلو وړ پاتی شي. په دې اساس انجینر دا ګمان باید وکړي چې نیمګړتیاوې په ټولو بحراني موقعیتونو کي شتون لري او دا نیمګړتیاوې به تر راتلونکي لیدني دورې په جریان کي وده وکړي. دا پروسه د نیمګړتیاو اندازو ته اړتیا لري او حدود یی ( د درز اوږدوالي او شمیر یي) باید اندازه شي. ساحې باید تفتیش شي . د تفتیش سیستمونه په احتمالي شرایطو سره د درز یا کریک کوچني اندازې را څرګندی کړي. هیڅ تضمین نشي کیدی چی د NDI په واسطه به ټولې نیمګړتیاوې کشف شي.

یو انجینر باید دا په نظر کی ونیسي چی د لیدو یا تفتیش وسایلوله توان ( NDI- Nondestructive Inspection) ښخه لوی درزونه احتمال لری چی ونه موندل شي او هغوی به تر راتلونکی کتني د مخه خطر ناک حد ته وده وکړي. پس د جوړښت د ړنګیدو احتمال ارتباط نیسي د درز د کتنی په وسیله او میتود او د هغه د پیدا کولو احتمال سره.

د جوړښت تفتیش او بیا کتنه دری بنستیز اړخونه لری او هغه پدی لاندی انځور کی خلاصه **شوي**




انځور 11-90 د درز تفتیش دری پایي

یو انجینر باید دا په نظر کی ونیسي چی د لیدو یا تفتیش وسایلوله توان ( NDI- Nondestructive Inspection) ښخه لوی درزونه احتمال لری چی ونه موندل شي او هغوی به تر راتلونکی کتني د مخه خطر ناک حد ته وده وکړي. پس د جوړښت د ړنګیدو احتمال ارتباط نیسي د درز د کتنی په وسیله او میتود او د هغه د پیدا کولو احتمال سره.

دا لاندی یو لړ د کتني (NDI) میتودونه دی:

- ایدیی جریان (Eddy Current)
- آلترا سانیک (Ultrasonic)
- رادیو گرافی (Radiography)
- پینیتر ینت (Penetrant)
- د سترگو لید (Visual)

## 11.56 د سترگو لید کتنه

د تفتیش لومړني میتود دی چې د کیفیت کنټرول او د شتمنیو ساتنه کې ور ځیني کار اخیستل کیږي.

دا د سترګو لیدنه او تفتیش دی چې بدون د ان ډی آی تجهیزاتو کارولو سره نیمګړتیاوې په جوړښت کې پیدا کیدي شی. د سترګو لټون د لید معاینه کولو ترټولو عام میتود دی

## 11.57 د ایدی جریان (Eddy Current)

په جوړښت کی نیمګړ تیاوی د ایدی جریان او د بریښنایی مقناطیسي تحرک په اساس کشف وي.

بریښنایي اغیزو حد (Electrical Impedance) د هغه مخالفت اندازه کول چې سرکت یا د سرکت برخه یی بریښنایی جریان ته وړاندی کوي. بریښنایي اغیزو د بدلون حد په مقناطیسي کویل (coil) کی نظر په د موادو خاصیت (metallurgical) تغیر مومي.

ډ ایدی جریان د کتنی وسیلی په ذریعه کیدی شی چې د جوړښت سطحی اوپه سطحه کی داخل درزونه کشف شي.

ایدی جریان دوه ډول دي یو یي د لوړي فرکونسی په نامه او بل د ټیټي فریکونسي جریان

په نامه یادول کیږي.

کله د ایدی بریښنایي جریان له مقناطیسی کویل (coil) او د جوړښت له موادو تیرشي او که چیری د جوړښت په موادو کی کوم زیان راپیدا شوی وي پدی جریان کی د بریښنایي اغیزو له امله د بدلون احساس او په جریان کی تغیر راځي. دا بدلون په دی معنی چې په جوړښت کی زیان شتون لری. او له دی لارې رامینځته شوي زیان او نیمګړتیاوې په جوړښت کی کشف کیدی شي.

ایدي جریان رامینځته شوي زیان په جوړښت کی د مقناطیسي کویل (coil) بریښنایي اغیزو د بدلون احساس کولو چې نظر په د موادو خاصیت (metallurgical) له امله تغیر مومي له لارې نیمګړتیاوې کشفوي




انځور 11-91 د درز تفتیش د ایدی په واسطه

## 11.58 الټراساؤنډ کتنه (Ultrasound Inspection)

کله چی د الټراسانک لوړ فریکونسی څپي د جوړښت له یوی برخی تیری شی د لوړو فریکونسی څپو انعکاس په څارلو سره نیمګړتیاوې موندل کیدی شی. که چیری د لوړو فریکونسی څپو انعکاس تغیر ومومي دا پدی معنی چی د جوړښت پدی ساحه کی نیمګړتیا شتون لري.

## 11.59 راډیوګرافی کتنه (Radiographic Inspection)

د ایونایزې وړانګې د جوړښت برخې له بشپړه ضخامت څخه نفوذ کوي، او د ضخامت پر برعکس اړخ کی ایکس رې فلم یا ډیجیټل کشف کونکی وسیله کېښودل کیږي . پدی ډول د ایکس وړانګې تولید کوي . که چیری په جوړښت کی داخلی نیمګړتیاوی وی موندل کیداې شي.

## 11.60 فلورسنټ پینیټرانټ کتنه (Fluorescent Penetrant Inspection)

د فلوروسینټ رنګونو نفوذ او جذبیدلو په واسطه سطحی نیمګړتیاوی (درزونه) پیدا کیدلی شي. په مات شوی سطحه کی مایع جذب پیدا کوي او پدی ډول د درزونو شتون څرګندوي او درزونه کشف کوي.

هر میتود د ځانګړي فزیکي اصولو په کارولو سره په جوړښت کی نیمګړتیاوی کشف کوي. دا د NDIمتخصص مسؤلیت دی چي په جوړښت کی د نیګړتیاوو کشف لپاره د NDI مناسب میتود مشخص کړي. هر میتود د یو مشخص جوړښت تفتیش ترسره کولو لپاره ګټي او محدودیتونه لري چي باید په پام کي ونیول شي .

# دولسم فصل

## د جوړښت د تحلیل پایلی راپور لیکنه
## (Final Report of Structural Analysis )

### 12.0 راپور لیکنه

دا لاربنود د جوړښت د تحلیل راپور لیکني لپاره دی. دلته ښودلکیری چی راپور لیکنه کوم ډول اړتیاوې لري او د راپور مینځپانګي لپاره وړاندیزونه کوم دي .

مهمه ده چې راپوربنایی دقیق ، لنډ ، او د لوستلو وړ وي ، تر څو وکولاي شی د جوړښت د ژوند او بشپړتیا لپاره د رسمي سند په توګه ورځینی کار واخیستل شي.

یو ښه مستند شوی د تحلیل او څیړنی راپور هغه دی چې د هرچا لخوا کوم چې د جوړښتونو په ډګر کې پوهه ولري په آسانی لوستلي او مطالعه کیدی شي مګرهغه جوړښت چې تحلیل یې دلته شوی وربادنی بلد ندي.

### 12.1 د راپور هدف

د راپور هدف د داسی سند برابرول او چمتو کول دی چې د جوړښت د بشپړتیا او د ژوند سالمی مودي د تصدیق لپاره ورځینی کار واخیستل شي.

### 12.2 راپور مینځپانګه

د راپور مینځپانګي باید د جوړښت ډیزاین او د ژوند د سالمی مودی معلومات ولری. د تحلیل محاسبې شوي شمیري او میتودونه روښانه او د مسؤل انجینرانو لخوا تایید شوی وی. د تحلیل ټول راپورونه باید سپیځلی، د منل شویو لارو سره سم، او په اسانی سره د لوستلو وړ وي.

### 12.3 د تحلیل حد او اندازه

ټول جوړښتونه چی بار وړی باید تحلیل شي. هغه ټول جوړښتونه چی په اسمبلی ډراوینګ کی لیست شوی باید تحلیل شي او په راپور کی یې تحلیل ته ځای ورکړل شي. په تحلیل کې کوم د پام وړ داخلي

بارونه چې ترى ګټه اخستل شويې په راپور کې ښايي په لنډه توګه وښودل شي. د داخلي بارونو جلا راپورونه (لکه د فاينت ايليمنت اناليسيز) د پروژې د انجينر لخوا د جوړښت د ژوند تر پايه ساتل کيږي او د هغې کاپي د ټاکل شوي د جوړښت مشر يا د هغه له استازي سره هم بايد و ساتل شي .

تکراري جوړښتونه (لکه بيم، کالم، او داسى نور) د هرې ډلې خورا مهم بار وړونکي جوړښت تحليل سره يوښل کيدى شي. د ټولو برخو نمبرونه يا نمونه په يوه لنډيز جدول کى سره د دوى له حساسو بارونو چې د ورته والي لخوا يوښل شوي د راپور په هغه برخه کې شامل شي چيرې چې خورا مهم برخه تجزيه کيږي. د ورته جدول هدف دا دى چې راپور لوستونکي ته اجازه ورکړي چې لودونه يا بارونه پرتله کړي ترڅو داډ ترلاسه کړي چې خورا مهم اړخ تحليل شوى ، او همدارنګه که چيري کوم وخت تغير  په بار کى راشى د خونديتوب درجه په  ګړندي توګه چمتو او معلومه کړي .

$$\text{د خونديتوب حد (Margin of Safety)} = \left(1 - \frac{\text{قبول شوى ارزښت}}{\text{د تحليل پيدا شوى ارزښت}}\right)$$

د جوړښت هغه برخې چې د تحليل کونکو لخوا غير ساختماني يا بار وړونکى نه ګڼل کيږي ، نو بايد د راپور په يوه جلا برخه کې په ګوته شي چې ولې دوى غير ساختماني ويل شوي .

## 12.4 د شننې تفصيل

د تحليل هر راپور بايد روښانه ، لنډ ، لوستلو وړ، او بشپړ وي. دا بايد د ستونزې کتنې سره پيل او د توضيحاتو لاندې کار وکړي. راپور بايد دا لاندې ښودل شوي  برخې ولري:

a. هغه څه چې تحليل کيږي ، د برخې شميره ورکول ، د سلسلې کولو ترتيب ، موادو نوعيت ، او داسې نور بايد توضيح شي..
b. ولې دا تحليل کيږي.
c. دا څنګه شننه کيږي (ميتودونه)
d. کارول شوي بارونه او هغوى څه ډول پلي کيږي (ټل شرايط او مآخذ ورکړئ).
e. محاسب او د ستريس او اجازتونو جدولونه.
f. وروستى پايلې (د خونديتوب حدونه چې د حد يا حتمي بار په واسطه چې دوه ځله لاندې يې کرښه ليکل شوي. همدارنګه د بار ډول  او شرايطو حالت يې) .

## 12.5 تکراري محاسبات

ټولې تکراري او ساده محاسبې بايد له مينځه ويستل شي. په هرصورت يو نمونه محاسبه بايد لومړى ځل وښودل شي چې اړتيا ورته وي او ورپسې محاسبې د جدول يا ګرافيکي په شکل لنډيز کيدى شي.

ښودل شوي ټول ارقام بايد د هغه معلوماتو څخه د محاسبې  وړ وي چې هغه په  راپور کى ورکړل شوي يا د ياد شوى ريفرينس په واسطه ورکړل شوي. هغه ارقام چې پرته د حساب ورکونې څخه ښودل

شوي لكه د كمپيوټر پايلې ،د جوړښت د مقطع ارزښتونه، د برخې حالتونه ، او داسې نور بايد د ورکړل شوي شميرو لپاره اساس ولري تر څو دوی و موندلی شي. د شميرو ابعاد په عنعنوي واحدونو سيستم وښودل شي.

د ارقامو ساده کول يا بل لوي شميری ته نږدی کول (round off) غير لدې چې محاسبه يې په راپور کې ښودل شوی وی سمه نده. يوځل چې يو شميره وټرل شوه ، په راپور کی په منظم ډول تر آخرهغه وساتي. د تکرار وړعين شميرې لوستونکي ته ډاډ ورکوي چې په ارزونه کې سم ارزښت کارول شوی .

## 12.6 د ملا تړ تحليل نوټونه

د ملاتړنوټونه چی په راپور کی ندي وړاندې شوي د هغه بشپړ دوسيه بايد د اصلي انجنيرئ لخوا د بياکتنې لپاره د فشار تحليلي پرسونل لخوا وساتل شي. دا ملاتړ شوي تحليل نوټونه بايد تر هغه وخته خوندي پاتی شي تر هغه چې جوړښت ژوند بشپړ کړي .

## 12.7 د راپور فارمت

دا ضرور دی چی د راپور معلومات په يو ثابت او مشخص فارمت وړاندې کړل شي. لاندې پراګرافونه د راپور ليکلو او ترتيب په اړه معلومات ورکوي چې د فشار راپور لپاره بايد وکارول شي.

## 12.8 د جوړښتونو د راپور ليکنې ترتيب

د فشار تحليلي راپورونه بايد لاندې مادي په ترتيب سره ولري. پدې هر يوه کې د مينځپانګو په اړه معلومات په لاندې برخو کې ورکړل شوي دي .

a. سرليک مخ (Title Page)

b. خلاصه (Abstract)

c. فهرست (Table of Content)

d. د نښانو جدول (Table of Symbols)

e. د خونديتوب لږترلږه حدونه (Minimum Margin of Safety)

f. مؤخذونه (References)

g. سريزه (Introduction)

h. د بار د شرایطو لنډیز (Summary of Load conditions)

i. د موادو خاصیتونه او د منلو وړ اندازه (Material Properties and allowable)

j. د ازمویني پایلو لنډیز (اختیاري) (Summary of Test Results)

k. تفصیلي تحلیل (د راپورمهمه برخه) (Detailed analysis- body of the report)

l. ضمیمې (Appendices)

## 12.8.1 سرلیک پاڼه

د راپور سرلیک پا ڼه په څرګند شکل د راپور د ټاکل شوی شمیره او د بیاکتنې یاداشتونو ، د سرلیک ویل، د لیکوالانو نومونه او د اداری تصویب ، او د خپروني نیټې پورې اړوند دي. د سرلیک پا ڼه لپاره وړاندیز شوی فارمت په لاندی انځور کې ښودل شوی.

د راپور ټاکل شوی سرلیک باید د راپور مینځپانګې توضیح کړي او باید لنډ او توضیح کیدونکی وي. دا باید مشخص ، ځانګړی ، او

لنډ وي. مخففون باید پرته له تعریف څخه په سرلیک کې ونه کارول شي .

**سر لیک پاڼه**

لیکونکي:________________________

تصویب شوی: ________________________

تصویب شوی: ________________________

تصویب شوی: ________________________

| بیا کتنه | نیته | د بیا کتندوی نوم | د راپور صفحې | ملاحضات او څرګندونی |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |

## 12.8.2 خلاصه

خلاصه د راپورعمده ټکي وړاندې کوي .په لوستلو سره يي اصل مطلب مشخص کيږي اولوستونکي پريکړه کولاي شي چي آيا راپور له پيل څخه تر پای ولولي ، يا يوازې څو برخې يي ولولي، يا يې په راتلونکې نيټه وروسته ولولي.

انځور 12.1 سرليک پاڼه

په عمومی توګه د راپور خلاصه او د مطالبو فهرست پاڼه ډير لوستل شوی برخی دي.

د سرليک پا ڼه اود مينځپانو ترکيب لوستونکي ته څه شی چي په راپور کی دی ښه لمړنی معلومات ورکوی.

د راپور خلاصه بايد يو لنډ پراګراف وي چي د جوړښت د تحليل دليل، د طريقو په اړه معلومات ، اصلي موندنی ، پايلی، او وړانديزونو په هکله روښانه ښودنه وی. تاريخي معلومات ، ورځني کړنلارو توضيحات ، يا د پايلو اوږد بحث بايد ونشي. ښايی يواځی حقايق او يولړ هغه څه پکې شامل کړئ کوم چي نوي او مهم دي.

## 12.8.3 ليک لړ يا فهرست

ليک لړلوستونکيو ته هغه روش په ګوته کوي چي د راپور د موادو په تنظيمولو کې ورځينی کار اخيستل شوي او همدارنګه ښيی چي په کوم يا نه کي به ځانګړې برخه وعمومي. دا برخی په ترتيب سره د هری برخې سرليکونو د ليست له لارې عمومي ترتيب تعقيب کوي . ليست معمولا د لومړي - دوهم - سرليکونو څخه جوړ شوی لکه څنګه چي په لاندې انځور کې ښودل شوي. د دريم او څلورم - سرليکونو کارول بايد مخنيوی وشي ځکه چي دا د راپور عمومي شکل ډير تفصيلي او ګډوډوی.

<u>د راپور برخه</u> <u>د راپور پاڼه</u>

| | |
|---|---|
| 0.1 | بياکتنه |
| 0.2 | خلاصه |
| 0.3 | د مندرجاتو جدول |
| 0.4 | د سمبولونو جدول |
| 0.5 | د بارونو ډولونه |
| 0.6 | خونديتوب اصغری ارزښتونه |
| 0.7 | ريفرينسونه |
| 1.0 | معرفي |
| 1.1 | عمومي |
| 1.2 | لسم پوړ فرش |

### 12.8.4 د نښانو یا د سمبولونو جدول

ټول سمبولونه او مخففات چې په راپور کی کارول شوي وی باید په یوه جدول کی تعریف شي او د پلي کیدو په صورت کې ابعادي واحدونه یې هم وښودل شي. که چیری دوی تعریف نشي د بهرني ژباړې معرفي کولو ته ورته دي او دا د پام وړد ګډوډي لامل کیږي. که په ځانګړي ډول ورته سمبول چیری د څو تعریفونو لپاره وکارول شي، یو ځانګړی لیست ته اړتیا نه لري او دا په لومړي ځل په متن کې تشریح کیدی شي او لوستونکی د بیا څرګند کیدو په صورت کی کولی شي هغه په یاد ولری. که چیرې له یو څو ځایونه ډیر ښکاره کیږی نو بیا د ټولو سمبولونوسره د سمبولونو په جدول کې په ځای کیږی. د سمبولونو جدول د الفبا په ترتیب سره باید ترتیب او په لاندې لومړیتوبو کې تنظیم شي:

a. انګلیسي توري

b. یوناني توری

c. لاندی توري (Subscripts)

d. پورته خوا توري (Superscripts)

### 12.8.5 د خوندیتوب حد (Margin of Safety)

د لږترلږه خوندیتوب حد لنډیز په یو جدول کی و ښودل شي . د لږترلږه خوندیتوب حد لوستونکي ته د تحلیل پایلو نتیجه څرګندوي. یو وړاندیز شوی مثال په لاندی انځور کې وړاندې شوي. د دې ارقامو باید یادونه وشي چې د هرې برخې شمیره یوازې یوځل لیست کیږي حتی د دې له لارې ممکن د محاسبې لنډیز څو پرتلې وي او دا لږترلږه خوندیتوب حد په جدول کی د ډیزاین مهم حالت څرګندوي دی.

$$\text{د خوندیتوب حد (Margin of Safety)} = \left(1-\frac{\text{قبول شوی ارزښت}}{\text{د تحلیل پیدا شوی ارزښت}}\right)$$

### 12.8.6 ماخذونه

په راپور کې د ټولو هغو مآخذونو لیست چې به تحلیل کی تری ګټه اخستل شوی وی ښایي چې شامل شي ترڅو په تحلیل کې د معلوماتو سرچینې مستندی کړي. د مرجع لیست نمونه په متن یا انځور کی ښودل شوی. ټول اسناد چې ښودل شوی باید د لوستونکي لخوا په اسانی سره د قناعت وړ وي او په دودیزه توګه دا معلومات مطالعه کیدی شی. که چیری کوم انالیسس ته مراجعه کیږي ، اړونده معلومات باید د فشار په راپور کې شامل شي. که دا معلومات د راپورپه هغه ځای کې نشي داخل کیدی چیرته چې ورته اړتیا وه نو بیا ښایی راپور ته ضمیمه شي.

### 12.8.7 سریزه

د راپور سریزه لیکوال او لوستونکی ګډې پوهې ته رسوي ترڅو د هغه معلوماتو وړاندې کول یا تبادله کولو پروسه اسانه شي. لاندې معلومات پام وکړئ چې د راپور په سریزه کې شامل وي.

a. د راپور هدف
b. تاریخي شاه لید
c. د ډیزاین توضیحات ، اړتیاوې او بارونه.
d. د موندنو، پایلو نتیجه، او وړاندیزونو بیان.

د راپور سریزه برخه اوږدوالي باید لږ وساتل شي او په عین حال کی اړین معلومات روښانه بیان کړي. ډیری راپور لوستونکي ژر تر ژره د ډیرو الفاظو بیانولو سره بې حوصله کیږي

### 12.8.8 د بار شرایطو لنډیز

دا برخه د ټولو بارو تحلیل لپاره نده او د جامدو(Solid)، متحرک (Moving) ، حرارتي او داسې نورو احتمالي بارو شرایط نه تفتیش کوي تر څو د جوړښت لپاره خورا مهم بارونه مشخص کړي. پدې برخه کې د ډیزاین بارونو لنډیز او خلاصه ښودل کیږي . د راپور په دې برخه کې هغه بارونه ښودل کیږي چې د جوړښت د ډیزاین او تحلیل لپاره تری کار اخستل شوي. د لوډونو یا بارونو تفصیلي تحلیل به په یو جلا راپورکی وي او یا به د فشار راپور ته د ضمیمې په توګه شامل کیدی شی.

د بارونو لنډیز داسې وړاندې شی چې د دې په بیانولو سره بارونه له کوم ځای څخه راغلي دي ، د مثال په توګه د لوړ(High) ، متحرک (Moving) ، فشار ، او نورو له امله بارونه. که د لوستونکي لخوا ورته اړتیا وي ډاډ ترلاسه شي چې د ډیزاین او تحلیل لپاره ورکړل شوي بارونه د باور وړ دي.

#### 12.8.9 د موادو خاصیتونه او مجازه ارزښتونو لنډیزیي

پدې برخه کې د موادو ټول هغه  جایز خاصیتونو لیکل شامل دي چې په تحلیل کې د جوړښت دخوندیتوب د حد محاسبې لپاره کارول شوي. دا د لوستونکي لپاره د مرجع برخه ده، چې هغه کولی شي په اسانی سره معلومه کړي چې ایا د خوندیتوب حد ترلاسه کولو لپاره په تحلیل کې درست جایز خاصیت کارول شوي که نه. دموادو دټولو جایز ارزښتونو سرچینه به دلته لیکل کیږی تر څو د لوستونکي لخوا په اسانی سره ترلاسه شي.

## 12.8.10 د ازمويني پايلو لنډيز

پدې برخه کې د هغه ځانګړيو ازموينو پايلې شاملې دي چې ترسره شوي او د فشار اوسني تحليل ته معلومات چمتو کوي. يوازې د ازمويني لنډيز او پايلې بايد پدې برخه کې وښودل شي. پدې لنډيز کې هغه معلومات شامل وي چې څه ډول ازموينى شوي ، ولې ترسره شوي ، او پايلې يې کومې دى. دا ډيټا بايد راپور ته معلومات چمتو کړي. لکه د کارول شوي فاينايت ايليمنت ارتباط د داخلي بارونو په هکله او فشارونو ترلاسه کول ورځينى، او يا د وړ ډيټا رامينځته کول لکه د ځانګړي کالم ازموينې ، ځانګړي بولټ ازموينې ، او داسې نور. په واضح ډول د ازمويني راپور شميره او حتى د پايلې شميره وښودل شى که چيرې شتون ولري. دا بايد په ياد وساتل شي چې دا برخه اختياري ده او که ازموينى نه وى ترسره شوى دى برخې ته ضرورت نشته.

## 12.8.11 تفصيلي تحليلونه

د راپور پدې برخه کې د جوړښتونو مفصله شننه شامله ده. د مشخص تحليلونو چمتو کولو لپاره ځانګړي لارښود يا معيارونه د انجينرى دفتر له لارى بايد جوړ شى. د مفصل سترس تحليلي نمونې په لاندى انځور کې ښودل شوي. پادونه بايد وشي تحليل يو ځانګړى فارمت لري چې بايد د رسمي فشار تحليل لپاره تعقيب شي. د کارول شوي فارمت په اړه عمومي معلومات په وروسته برخو کې ورکول کيږي.

د انجينرۍ له ښه قضاوت څخه بايد هر وخت کار واخيستل شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د جوړښت برخه په بشپړ ډول تحليل شوې او د جوړښت د خورا مهم فشار ساحى موقعيت معلوم شوى.

| | | |
|---|---|---|
| **د جوړه ونکی انجينر نوم: خدای نظر** | **د جوړښت نوم<br>د کابل ځارندوی پنځه پوريز وداني** | **پانی شميره: 4.10** |
| چيک کونکی نوم: جان محمد | | راپور شميره:12 - BM |
| نيټه: 6/18/2021 | دجوړښت برخی نوم: دپنځم پوړ فرش | ډراوينګ شميره:HI91-15600 |
| | | ياداشت: ژوندی او سکن بارونه له مؤخذ |

بيم ABC د مؤمنت ډيستريبيوشن په طريقه:




فيکسد اينډ مؤمنتونه:




$$FEM_{AB} = +\frac{qL^2}{12} = \frac{(5)(15)^2}{12} = +93.75$$

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | -10.88 | | دريم سايکل |
| | 3.59 | 7.29 | -15.7 | |
| 1.8 | | -7.85 | | څلورم سايکل |
| | 2.6 | 5.26 | 3.64 | |
| 1.3 | | | -3.64 | |
| | | -1.82 | 2.63 | پنځم سايکل |
| | 0.6 | 1.22 | -2.63 | |
| 0.3 | | | | |
| | | -1.32 | 0.64 | شپږم سايکل |
| | 0.43 | 0.88 | -0.64 | |
| 0.22 | 0.11 | -0.32 | 0.44 | |
| | | 0.21 | -0.44 | اوم سايکل |
| 0.05 | | | | |
| 2.93 | 73.03 | -73.03 | 0 | مجموعه دآخری مؤمنتونو |




انځور 12.2 د جوړښت برخي

## 12.8.12 ضميمي

شاملي ضميمي د فشار تحليل لپاره ملاتړ کونکي ډيټا چمتو کوي. د تفصيلي بار تحليلي راپور د ملاتړ کونکو معلوماتو يوه برخه ده. لوستونکی عموما د ډيزاين بارونو سره علاقه لري چي د خونديتوب حد يې معلوم کړی او نه ادا چي ځنګه بارونه له دي ځخه حاصل شوی. په هرصورت ، که چيرې لوستونکی علاقه ولري نو بيا د بارونو تفصيلي تحليل د بياکتني لپاره بايد شتون ولري. په ضميمه کي دمخه موجود راپورونو اضافه کولو ځخه بايد مخنيوی وشي. په ځانګړي توګه که چيرې راپور په ضميمه کی ياد شوی وی او له بل ځای په آسانی سره د لاس راوړلو وړ وی. دا به د سترس تحليل کي کمک وکړي چي غير ضروري ډيټا د راپور حجم زيات نکړي.

## 12. 9 عنوان او سرليکونه

عنوان او سرليک بايد يوازي د راپور په سرليک پاڼه کي ځرګند شي. د فشار تحليل انفرادي پا نو کي د سرليک بلاکونه د برخي لومړي ترتيب سرليک چي په ليک لړ جدول کي ليست شوي لپاره دي.

د دوهم ترتيب سرليکونه ، لکه ځنګه چي د ليک لړ په جدول کي بنودل شوي ، بايد د پاڼي په بنی اړخ کي د برخي شميره سره ځای په ځای شي ، پرته له خط لاندي. دا سرليک به په هر پرله پسي پاڼه کي ځرګند شي تر څو د دې برخي تحليل بشپړ شی. د فشار تحليل کي نور سرليکونه بايد د تشريح کولو لپاره وکارول شي د مثال په توګه د لګ (Lug) انالييسس ، بولټ شتون ، او نور .

## 12.10 د پا ني او برخي نمبرونه

ټولی پا نی  پرته له عنوان باید شمیرې ولري. د نقطی او برخی شمیره د پانی شمیرلو په سیستم کی کارول کیږي. لمړي موضوع (خلاصه ، د مینځپانو جدول ، او نور) د لومړی لسیزې نقطي دمخه د صفر سره شمیرل کیږي. د راپور په جریان کې برخه باید د لومړی لسیزې دمخه د صفر څخه په لوړ عدد ذریعه شمیرل کیږي. ضمیمي د لوی تورو په کارولو سره شمېرل کیږي( د الف ، ب ، او نور).

## 12.11 لیکنه

د فشار تحلیلي راپورونه اوسنی حالت کی د دریم کس د پاره لیکل کیږي  . راپور باید په داسي ډول ولیکل شي چې ډیټا په منطقي ډول ترتیب شي لکه څنګه چې ورته اړتیا وي. لیکوال باید دا ونه ګڼي چې راپور لوستونکي د هغه په شان دومره پوهیږي چې هغه یې د جوړښت په هکله لري.

د راپورلیکلو اصلي دلیل د جوړښت تحلیل له پایلي د لوستونکیو خبرول دي. د دې هدف په پام کې ساتلو سره ، یو څه مهم شیان شته چې باید په یاد کی وساتل شي. د معنی دکه ژبه داسی وکارول شی چې په یو څو ټکیو سره ډیر جامع معلومت بیان کړی. دا یو  علمی او تخنیکی لیکنه ده  پرته له کوم ځنډ څخه حقایقو ته باید ورسیږي ، نو  هغه ژبې ته اړتیا نلري چې ممکن په لنډه کیسه ، شعر یا شخصي مقاله کې کارول کیږي. جملې باید کافي توضیحات وړاندې کړي  تر څو لوستونکي و پوهیږي چې څه پیښ شوي ، مګر دومره تفصیل نه ورکوي چې د لوستونکی لپاره ډیر درانه شي.

د داسی راپوررونو په اړه بل مهم ټکی دا دی چې دوی باید معمولا په دریم شخص او اوسني وخت بیان ګړي. دا پدې معنی چې باید شخصي ضمیرونه لکه "زه" یا "موږ" ونه کارول شي. او ټولې هغه کړنلارې چې تاسو یې په خپله مطالعه کې کارولې وي باید د هغه په اړه لیکل شوي وي لکه څنګه چې په اوسني وخت کې پیښیږي. هڅه وشي هغه ژبه وکارول شي چې هره کلیمه یو هد ف وړاندی کړی.

د فشار تحلیلي راپورونه ممکن په آخر کې  ټایپ یا کیدی شیي په لاس لیکل شوي وي. که د لاس لیکل وکارول شي ، نو دا باید پاک او د لوستلو وړ وي او که دا ممکنه نه وی  نو راپور باید ټایپ شي. په هر حالت کې ، راپور باید  ثابت او مکمل وي کله چې تکثیر شي. دا باید په یاد وساتل شي چې د فشار تحلیلي راپور به شاید د جوړښت  د کاری ژوند تصدیق لپاره د رسمي اسنادو په توګه وساتل شی.

## 12.12 د کمپیوټر تحلیل

د کمپیوټر تحلیل او پایلې به د ځینې شرایطو لاندې د فشار راپور کې د منلو وړ وي. د کمپیوټر حاصل شوی ارقام باید په بشپړ ډول د لیکوال لخوا تشریح شي ، لکه مخففات ، لنډیز ، کارول شوي طریقې، د جوړښت سرحدی شرایط، او داسې نور . د فاینات ایلیمنت ماډل باید تعریف شي ترڅو لوستونکی مهم عنصرونو او نوډ نمبرونه ومومي. د تحلیل لپاره هغه برخه چې د ډیری برخو ته ورته دي ، نو دا به اړ شي چې د لاس په واسطه لومړی محاسبات ترسره کړي ترڅو ټول هغه ملاتړ کونکي معلومات وښیي چې اړتیا ورته وي ، بیا د کمپیوټر کوډ د نورو ورته برخو لپاره چمتو کړئ ترڅود نورو برخو محاسبات تکمیل کړي. په هرصورت ، د کمپیوټر ټول حاصل شوی ارقام باید په دقت معاینه او وپوهیدل شي او په راپور کې ښایی وښودل شی چې د کمپیوټر ټولې حاصلې په خپلواکه توګه کنټل شوي.

د فاینت ایلیمنت ماډلونه د داخلي بارونو ، فشارونو ، او بیځایه کیدو لپاره د منلو وړ دي؛ په هرصورت ، د ماډل لیکوال باید پوه شي چې څنګه د کمپیوټر پایلې تشریح کړي او د ماډل لیکوال باید هغه له مخکیني او منلو وړ طریقو لخوا تصدیق شي .

## 12.13 سکیچونه

د فشار تحلیل سکیچونه باید د دې وړتیا ولري چې د لوستونکی له خوا پرته لدی چې اصلی نقشي په لاس کی ولری اویا یې ولولی ورباندی و پوهیږي. د تحلیل شوي جوړښت یوه نمونه باید چمتو شي تر څو لوستونکي ته لاندې معلومات ورکړي.

a. برخه کومه ده او څنګه ښکاري.
b. دا برخه د اصلی نقشی یا دراوینګ په کوم حصه کی موقعیت لري.
c. بهرنی بارونه په کوم ساحه کی پلي کیږي.
d. د عکس العمل بارونه یا د ټینګیدو ځایونه چیرته موقعیت لري. یو آزاد دایگرام چې بهرنی بارونه او ریکشنونه په سکیچ کی لیدل کیږي پکې شامل شي.
e. د نقشې ټولې برخې د نقشې شمیرې سره وښودل شي.
f. په تحلیل کې ټول ابعاد وښودل شی.
g. برخې او نقطې چې تحلیل کیږی سره له محوروونو په سکیچ کی وښودل شی.
h. په ښه پاک ډول سکیچ رسم کړئ.

## 12.14 د مآخذونو کارول

هر شکل، معادله ، او د تحلیل طریقه ښایی د هغې اصلیت ته په واضح ډول راجع شي. دې قاعدې ته یوازې استثناوې په لاندې ډول دي:

۱. عددونه ، معادلې ، طريقې او داسې نورچې په عين يا نه کې مونډل کيداې شي.
۲. د الجبراو مثلثاتو معادلې.
۳. د معلوماتو په جدول کی يو ځای د يادول شوی صفحی لپاره وساتي.

## 12.15 سمبولونه

a. لنډيزونه ، او ټول سمبولونه د ابعادو سره سره په متن کې معرفي کړئ. قبول شوی معياري سمبولونه او لنډيز وکاروئ.

b. هغه بارونه چې په تحليل کی کارول کيږي توضيحات يې د راپور په هغه برخه کی چې بارونه خلاصه شوی تعريف او ځای په ځاي کړي .

## 12.16 بيا کتنه يا چک کول (Check)

د راپور ليکوال او د هغونظارت کونکي به د تحليل تصديق کولو مسؤليت ولري. لاندې بياکتنه به اړين وي:

a. شمېرني محاسبې.
b. خپلواک تحليل (د غلطيو مخه نيول).
c. د تحليل طريقې (د تحليل طريقي او سرحدی حدودونو حالتونو په نظر کی نيول، او نور)
d. د لوډونو يا بارونو بشپړتيا (ټول بارونوحالتونو او د لوډونو تحقيق شوی).
e. د ليکلو وړتيا او لوستلو وړتيا. که چيری د لاس ليکنه د ويلو وړ نه وي ليکل به ټايپ ته اړتيا ولري .

د فشارونو انجينر چې دا بيا کتنه بشپړوي په هره پاڼه کې خپل نوم په هغه بلاک چې "لخوا چيک شوي" ليکل شوی لاسليک وکړي.

د راپور ليکوال سمدستي نظارت کونکی او هم د هغه لوړ جوړښت انجينر لخوا پورتنی لست شوی د ۳ له ۵ څخه په ځانګړي ډول وګوري او تصويب يې کړي. خپلواکي بيا کتنی بايد وهڅول شي ترڅو هغه غلطي ونيسي چې ممکن په ناڅاپي ډول مينځ ته راغلی وی. د بارونو خپلواک بيا کتنه په ځانګړي ډول مهم دی

## 12.17 مسؤل پرسونل

د راپور جوړه ونکي اداري يا سازمان مسؤل لوړ پوړي انجينر لاسليک به د راپور سرليک يا نه کې په "منظور شوي" بلاک کې ښکاره شي. دا تصويب په نښه کوي چې راپور جوړه ونکي اداري خپل مکلفيتونه پوره کړي. د تصويب مسؤليت په لاندې ډول دی:

a. د لیکوال نظارت کونکی مشر، د راپور مینځپانګې محتویاتولپاره مسؤل دی ، د لیکوال لاسلیک لاندې به د سرلیک پا ټه کې "منظور شوی" بلاک کی به خپل لاسلیک کړي. هغه باید یوازې وروسته له هغه چې ډاډمن شی لاسلیک وکړي کله چې د ټولو پا ڼوبیاکتنه تکمیل شي
b. د لوړې کچې مسؤل مدیر به د سرلیک په پا ڼه کی په "منظور شوي" بلاک لاسلیک کړي ترڅو دا تضمین وشي چې ټول مکلفیتونه پوره شوي .

## 12.18 راپور ته بیا کتنه (Revision)

کله چې د پام وړ د ډیزاین بدلون جوړښت ته رامینځته شی ، نو د فشار تحلیلونو نوی برخې به د هغه زړی برخې په عوض چې ډیزاین یی تغیرکړي په راپور کی بیا پلي شي. هغه نوري برخې چې لاهم په خدمت کې دي او تغیر پکښې ندي راغلي په راپور کی ساتل کیږي. د دواړو برخو شننه ، زړه او تعدیل شوی برخه، اغیزیې په واضح ډول باید وښودل شی. نوې شوې پا ڼې به د زړو برخو په شان باید وڅیړل شي.

کله چې په پخواني تحلیل کی د نوې میتودونو یا نوې ډیټا لپاره تغیرات رامینځته شي، دا نوي تحلیل او اصلې تحلیل دواړه باید وساتل شی. په هرصورت ، دا به اړینه وي چې په دواړو تحلیلونوکی د نوی او اصلی راپور مراجعه او بدلونونه په واضح ډول تشریح کړئ.

کله چې زوړ تحلیل په نوي کچه د نوي شنني لخوا بیا وکتل شي، نو د زاړه تحلیل پا ڼې به له مینځه ویستل شي او بیاکتل شوي نوي پا ڼې به په راپور کې دننه شي. نوې شوې پا ڼې به یوه یادونه ولري چې پا ڼې د" بیا کتنې "په نښه کولو سره بیاکتل شوې او دا به د "نیټې بلاک" لاندې د پا ڼې په پورتنی کونج کې د لیکوال نوم او نیټی سره وی. سربیره پردې ، پا ڼې ته بدلون به د بیاکتنې لیک سره د پاڼې په حاشیه کې عمودې تور لیک ولري. د بیاکتنې ټول لیکونه به د الف اوبا په ترتیب ساتي. بیاکتنه د سرلیک پا ڼه یا د بیاکتنې دوام پا ڼه کې هم یادونه شوې. د راپور لیکوال معمولا د توزیع لیست ساتلو لپاره مسؤل دی. کله چې یو اصلي راپور په رسمي ډول تمدید شي ، دې راپور ته نوې شوې پا ڼې باید پوښ ولري چې کارونکي ته لارښوونه ورکوي چې څنګه او چیرې پا ڼې داخل او یا حذف کړي.

## 12.19 د پا ڼې شمیره

کله چې پا ڼې د راپور په پای کې اضافه کیږي ، نو په دوامداره توګه د پا ڼې شمیرو ته ادامه ورکول کیږی.

کله چې پا ڼې د راپور په مینځ کې اضافه کیږي ، نو په پرله پسې توګه یو نوی لسیز شمیره اضافه کړئ. د مثال په توګه ، د پاڼې 2.50 پا ڼې اضافه کیدل به 2.50.1 ، 2.50.2 ، او داسې نور وي .

# اپینډ یکس

# (Appendix)

پدی اپینډیکس کی یو لړ فورمولونه چی ښایی د یو انجینر سره مرسته وکړي ځاي په ځاي شوي.

| د فيكسد ايند مؤمنت ارز بنتونه | فيكسد ايند بيم |
|---|---|
| $FEM_{AB} = -\frac{Pab^2}{L^2}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{Pa^2b}{L^2}$ |   |
| $FEM_{AB} = -\frac{PL}{8}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{PL}{8}$ |   |
| $FEM_{AB} = -\frac{wL^2}{12}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{wL^2}{12}$ |   |
| $FEM_{AB} = -\frac{5wL^2}{192}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{11wL^2}{192}$ |   |

| د فيكسد ايند مؤمنت ارز بنتونه | فيكسد ايند بيم |
|---|---|
| $FEM_{AB} = -\frac{wL^2}{30}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{wL^2}{20}$ |   |
| $FEM_{AB} = -\frac{5wL^2}{96}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{5wL^2}{96}$ |   |
| $FEM_{AB} = +\frac{Mb}{L}\left(\frac{3a}{L} - 1\right)$<br>$FEM_{BA} = +\frac{Ma}{L}\left(\frac{3b}{L} - 1\right)$ |   |
| $FEM_{AB} = -\frac{6EI\Delta}{L^2}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{6EI\Delta}{L^2}$ |   |

| د فیکسډ اینډ مؤمنت ارزښتونه | د بیم شکل |
|---|---|
| $FEM_{BA} = +\frac{3EI\Delta}{L^2}$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{3PL}{16}$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{P}{L^2}\left(b^2a + \frac{a^2b}{2}\right)$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{PL}{3}$ |  |

| د فیکسد اینډ مؤمنت ارز بنتونه | د بیم شکل |
|---|---|
| $FEM_{AB} = -\frac{45PL}{96}$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{wL^2}{8}$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{9wL^2}{128}$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{5wL^2}{64}$ |  |

| د فیکسد اینډ مؤمنت ارزښتونه | د بیم شکل |
|---|---|
| $FEM_{AB} = -\frac{3EI\Delta}{L^2}$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{2PL}{9}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{2PL}{9}$ |  |
| $FEM_{AB} = -\frac{15PL}{48}$<br>$FEM_{BA} = +\frac{15PL}{48}$ |  |
| | |

<table>
<tr><th>د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه</th><th>ساده بیم:  ثابت ویشلشوی لوډ</th></tr>
<tr><td>

$R_A = R_B = wL/2$

$V_x = w\,(L/2\ -x)$

$M_{max} = \frac{wL^2}{8}$

$M_x = \frac{wx}{2}\,(L-x)$

$\Delta_x = \frac{wx}{24\,EI}\,(L^3 - 2Lx^2 + x^3)$

$\Delta_{max} = \frac{5wL^4}{384\,EI}$

</td><td>




</td></tr>
</table>

<table>
<tr><th>د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه</th><th>ساده بیم: ویشلشوی لوډتدریجي ډیروالي یویخوا ته</th></tr>
<tr><td>

$V_1 = R_A = w/3$

$V_2 = R_2 = V_{max} = 2w/3$

$V_x = \frac{w}{3} - \frac{w\,x^2}{L^2}$

$M_{max} = 0.13wL$

$M_x = \frac{wx}{3L^2}\,(L^2 - x^2)$

$\Delta_x = \frac{wx}{180\,EIL^2}\,(3x^4 - 10L^2x^2 + 7L^4)$

$\Delta_{max} = 0.013\frac{wL^3}{EI}$

</td><td>




</td></tr>
</table>

## ساده بیم: یو تمرکزي لوډ د بیم اوږدوالي په وسط کي

### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$$R = V \quad \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots = \frac{P}{2}$$

$$M_{max} \text{ (at point of load)} \quad \ldots\ldots = \frac{P\ell}{4}$$

$$M_x \left(\text{when } x < \frac{\ell}{2}\right) \quad \ldots\ldots\ldots = \frac{Px}{2}$$

$$\Delta_{max} \text{ (at point of load)} \ldots\ldots\ldots = \frac{P\ell^3}{48EI}$$

$$\Delta_x \left(\text{when } x < \frac{\ell}{2}\right) \quad \ldots\ldots\ldots = \frac{Px}{48EI}(3\ell^2 - 4x^2)$$




## ساده بیم: ویشلشوی لوډ د بیم په یوه برخه

### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$$V_1 = R_A = \frac{wa}{2L}(2L - a)$$

$$V_2 = R_B = \frac{wa^2}{2L}$$

$$V_x \text{ (when x <a) = } RA - wx)$$

$$V_x \text{ (when x > a) =} \frac{R_A{}^2}{2w}$$

$$M_{max} \text{ (at x=} \frac{RA}{w} \text{)} = \frac{R_A{}^2}{2w}$$

$$M_x \text{ (when x <a) } = R_A x - \frac{wx^2}{2}$$

$$M_x \text{ (when x > a) = } R_B (L - x)$$

$$\Delta_x \text{ (when x <a )=} \frac{wx}{24\ EIL}\ (a^2(2L - a)^2 - 2ax^2(2L - a) + Lx^3)$$

$$\Delta_x \text{ (when x >a) =} \frac{wa^2(L-x)}{24\ EIL}\ (4xL - 2x^2 - a^2)$$



## ساده بیم: ویشلشوی لوډ په دوه برخو د بیم




### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$V_1 = R_A = \frac{w_1 a\,(2L-a)+w_2 c^2}{2L}$

$V_2 = R_B = \frac{w_2 c\,(2L-c)+w_1 a^2}{2L}$

$V_x$ (when $x < a$) $= RA - w_1 x$

$V_x$ (when $x > a$ and $< (a+b)$) $= R_A - w_1 a$

$V_x$ (when $x > a$ and $> (a+b)$) $= R_B - w_2\,(L-x)$

$M_{max}$ (at $x = \frac{RA}{w_1}$ when $R_A < w_1 a$) $= \frac{R_A{}^2}{2w_1}$

$M_{max}$ (at $x = L - \frac{RA}{w_1}$ when $R_B < w_2 c$) $= \frac{R_B{}^2}{2w_2}$

$M_x$ (when $x < a$) $= R_A x - \frac{w_1 x^2}{2}$

$M_x$ (when $x > a$ and $< (a+b)$) $= R_A x - \frac{w_1 a}{2}(2x - a)$

$M_x$ (when $x > (a+b)$) $= R_B\,(L-x) - \frac{w_2 (L-x)^2}{2}$

## ساده بیم: ویشلشوی لوډ دیروالي وسط دبیم په لور




### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$V_1 = R_A = w/2$

$V_2 = R_B = w/2$

$V_x = \frac{w}{2L^2}(L^2 - 4x^2)$

$M_{max} = \frac{wL}{6}$

$M_x = wx\left(\frac{1}{2} - \frac{2x^2}{3L^2}\right)$

$\Delta_x = \frac{wx}{480\,EIL^2}(5L^2 - 4x^2)^2$

$\Delta_{max} = \frac{wL^3}{60EI}$

| د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه | ساده بیم: یو تمرکزي لوډ د بیم اوږدوالي په هر تکي کي |
|---|---|
| $R_1 = V_1$ (max when $a < b$) . . . . . $= \frac{Pb}{\ell}$<br>$R_2 = V_2$ (max when $a > b$) . . . . . $= \frac{Pa}{\ell}$<br>$M_{max}$ (at point of load) . . . . . . . . $= \frac{Pab}{\ell}$<br>$M_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . . $= \frac{Pbx}{\ell}$<br>$\Delta_{max}\left(\text{at } x = \sqrt{\frac{a(a+2b)}{3}} \text{ when } a > b\right)$ . $= \frac{Pab(a+2b)\sqrt{3a(a+2b)}}{27EI\ell}$<br>$\Delta_a$ (at point of load) . . . . . . . . . $= \frac{Pa^2b^2}{3EI\ell}$<br>$\Delta_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . . $= \frac{Pbx}{6EI\ell}(\ell^2 - b^2 - x^2)$<br>$\Delta_x$ (when $x > a$) . . . . . . . . . . . $= \frac{Pa(\ell - x)}{6EI\ell}(2\ell x - x^2 - a^2)$ |   |

| د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه | ساده بیم: دوه تمرکزي لوډونه د بیم اوږدوالي په متوازن ډول ایښودل شوي |
|---|---|
| $R = V$ . . . . . . . . . . . . . . . . $= P$<br>$M_{max}$ (between loads) . . . . . . . . $= Pa$<br>$M_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . $= Px$<br>$\Delta_{max}$ (at center) . . . . . . . . . . $= \frac{Pa}{24EI}(3\ell^2 - 4a^2)$<br>$\Delta_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . $= \frac{Px}{6EI}(3\ell a - 3a^2 - x^2)$<br>$\Delta_x$ (when $x > a$ and $< (\ell - a)$) . . . . $= \frac{Pa}{6EI}(3\ell x - 3x^2 - a^2)$ |   |

## ساده بیم: دوه تمرکزي لوډونه د بیم اوږدوالي په نا متوازن ډول ایښودل شوي




### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

| | |
|---|---|
| $R_1 = V_1$ (max when $a < b$) . . . . . . | $= \frac{P}{\ell}(\ell - a + b)$ |
| $R_2 = V_2$ (max when $a > b$) . . . . . . | $= \frac{P}{\ell}(\ell - b + a)$ |
| $V_x$ $\left(\text{when } x > a \text{ and } < (\ell - b)\right)$ . . . | $= \frac{P}{\ell}(b - a)$ |
| $M_1$ (max when $a > b$) . . . . . . . . | $= R_1 a$ |
| $M_2$ (max when $a < b$) . . . . . . . . | $= R_2 b$ |
| $M_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . | $= R_1 x$ |
| $M_x$ $\left(\text{when } x > a \text{ and } < (\ell - b)\right)$ . . . | $= R_1 x - P(x - a)$ |

## ساده بیم: دوه نا مساوی تمرکزي لوډونه د بیم اوږدوالي په نا متوازن ډول ایښودل شوي




### دریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

| | |
|---|---|
| $R_1 = V_1$ . . . . . . . . . . . . . . | $= \frac{P_1(\ell - a) + P_2 b}{\ell}$ |
| $R_2 = V_2$ . . . . . . . . . . . . . . | $= \frac{P_1 a + P_2(\ell - b)}{\ell}$ |
| $V_x$ $\left(\text{when } x > a \text{ and } < (\ell - b)\right)$ . . . | $= R_1 - P_1$ |
| $M_1$ (max when $R_1 < P_1$) . . . . . . . . | $= R_1 a$ |
| $M_2$ (max when $R_2 < P_2$) . . . . . . . | $= R_2 b$ |
| $M_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . | $= R_1 x$ |
| $M_x$ $\left(\text{when } x > a \text{ and } < (\ell - b)\right)$ . . . | $= R_1 x - P_1(x - a)$ |

| کنتیلیور بیم: ویشلشوي لوډ د بیم په اوږدوالي ایښودل شوي | دریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه |
|---|---|
| <br> | $R = V \dots = w\ell$<br>$V_x \dots = wx$<br>$M_{max}$ (at fixed end) $\dots = \frac{w\ell^2}{2}$<br>$M_x \dots = \frac{wx^2}{2}$<br>$\Delta_{max}$ (at free end) $\dots = \frac{w\ell^4}{8EI}$<br>$\Delta_x \dots = \frac{w}{24EI}(x^4 - 4\ell^3 x + 3\ell^4)$ |

| کنتیلیور بیم: تمرکزي لوډ د بیم په آخره څنډه ایښودل شوي | دریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه |
|---|---|
| <br> | $R = V \dots = P$<br>$M_{max}$ (at fixed end) $\dots = P\ell$<br>$M_x \dots = Px$<br>$\Delta_{max}$ (at free end) $\dots = \frac{P\ell^3}{3EI}$<br>$\Delta_x \dots = \frac{P}{6EI}(2\ell^3 - 3\ell^2 x + x^3)$ |

## کنتیلیور بیم: تمرکزي لوډ د بیم د اوږدوالی په یوه تکي ایښودل شوي




## د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$$R = V \quad \dots\dots\dots \quad = P$$

$$M_{max} \text{ (at fixed end)} \quad \dots\dots\dots \quad = Pb$$

$$M_x \text{ (when } x > a) \quad \dots\dots\dots \quad = P(x - a)$$

$$\Delta_{max} \text{ (at free end)} \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{Pb^2}{6EI}(3\ell - b)$$

$$\Delta_a \text{ (at point of load)} \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{Pb^3}{3EI}$$

$$\Delta_x \text{ (when } x < a) \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{Pb^2}{6EI}(3\ell - 3x - b)$$

$$\Delta_x \text{ (when } x > a) \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{P(\ell - x)^2}{6EI}(3b - \ell + x)$$

## بیم یوه څنډه فیکسد او بله اتکاء لری: ویشل شوی لوډ ایښودل شوي




## دریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$$R_1 = V_1 \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{3w\ell}{8}$$

$$R_2 = V_2 \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{5w\ell}{8}$$

$$V_x \quad \dots\dots\dots \quad = R_1 - wx$$

$$M_{max} \quad \dots\dots\dots \quad = -\frac{w\ell^2}{8}$$

$$M_1 \left(\text{at } x = \frac{3}{8}\ell\right) \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{9}{128} w\ell^2$$

$$M_x \quad \dots\dots\dots \quad = R_1 x - \frac{wx^2}{2}$$

$$\Delta_{max} \left(\text{at } x = \frac{\ell}{16}(1 + \sqrt{33}) = .4215\,\ell\right) \quad . \quad = \frac{w\ell^4}{185EI}$$

$$\Delta_x \quad \dots\dots\dots \quad = \frac{wx}{48EI}(\ell^3 - 3\ell x^2 + 2x^3)$$

## بیم یوه څنډه فیکسد او بله اتکاء لری: تمرکزي لوډپه وسط د اوږدوالي ایښودل شوي




### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$R_1 = V_1 \ldots = \dfrac{5P}{16}$

$R_2 = V_2 \ldots = \dfrac{11P}{16}$

$M_{max}$ (at fixed end) $\ldots = \dfrac{3P\ell}{16}$

$M_1$ (at point of load) $\ldots = \dfrac{5P\ell}{32}$

$M_x \left(\text{when } x < \dfrac{\ell}{2}\right) \ldots = \dfrac{5Px}{16}$

$M_x \left(\text{when } x > \dfrac{\ell}{2}\right) \ldots = P\left(\dfrac{\ell}{2} - \dfrac{11x}{16}\right)$

$\Delta_{max} \left(\text{at } x = \ell\sqrt{\dfrac{1}{5}} = .4472\ell\right) \ldots = \dfrac{P\ell^3}{48EI\sqrt{5}} = .009317\dfrac{P\ell^3}{EI}$

$\Delta_x$ (at point of load) $\ldots = \dfrac{7P\ell^3}{768EI}$

$\Delta_x \left(\text{when } x < \dfrac{\ell}{2}\right) \ldots = \dfrac{Px}{96EI}(3\ell^2 - 5x^2)$

$\Delta_x \left(\text{when } x > \dfrac{\ell}{2}\right) \ldots = \dfrac{P}{96EI}(x - \ell)^2(11x - 2\ell)$

## بیم یوه څنډه فیکسد او بله اتکاء لری: یو تمرکزي لوډپه یو ټکی د اوږدوالي ایښودل شوي




### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$R_1 = V_1 \ldots = \dfrac{Pb^2}{2\ell^3}(a + 2\ell)$

$R_2 = V_2 \ldots = \dfrac{Pa}{2\ell^3}(3\ell^2 - a^2)$

$M_1$ (at point of load) $\ldots = R_1 a$

$M_2$ (at fixed end) $\ldots = \dfrac{Pab}{2\ell^2}(a + \ell)$

$M_x$ (when $x < a$) $\ldots = R_1 x$

$M_x$ (when $x > a$) $\ldots = R_1 x - P(x - a)$

$\Delta_{max} \left(\text{when } a < .414\ell \text{ at } x = \ell\dfrac{\ell^2 + a^2}{3\ell^2 - a^2}\right) = \dfrac{Pa}{3EI}\dfrac{(\ell^2 - a^2)^3}{(3\ell^2 - a^2)^2}$

$\Delta_{max} \left(\text{when } a > .414\ell \text{ at } x = \ell\sqrt{\dfrac{a}{2\ell + a}}\right) = \dfrac{Pab^2}{6EI}\sqrt{\dfrac{a}{2\ell + a}}$

$\Delta_a$ (at point of load) $\ldots = \dfrac{Pa^2b^3}{12EI\ell^3}(3\ell + a)$

$\Delta_x$ (when $x < a$) $\ldots = \dfrac{Pb^2x}{12EI\ell^3}(3a\ell^2 - 2\ell x^2 - ax^2)$

$\Delta_x$ (when $x > a$) $\ldots = \dfrac{Pa}{12EI\ell^3}(\ell - x)^2(3\ell^2 x - a^2 x - 2a^2\ell)$

| دریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه | بیم یوه څنده کنټیلیور او دوه اتکاء: ویشل شوی لوډپه کنټیلیور برخه ایښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 = V_1 \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; = \frac{wa^2}{2\ell}$<br>$R_2 = V_1 + V_2 \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; = \frac{wa}{2\ell}(2\ell + a)$<br>$V_2 \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; . \; = wa$<br>$V_{x_1}$ (for overhang) . . . . . . . . . $= w(a - x_1)$<br>$M_{max}$ (at $R_2$) . . . . . . . . . . . $= \frac{wa^2}{2}$<br>$M_x$ (between supports) . . . . . . . $= \frac{wa^2x}{2\ell}$<br>$M_{x_1}$ (for overhang) . . . . . . . . . $= \frac{w}{2}(a - x_1)^2$<br>$\Delta_{max}$ $\left(\text{between supports at } x = \frac{\ell}{\sqrt{3}}\right) = \frac{wa^2\ell^2}{18\sqrt{3}EI} = .03208\frac{wa^2\ell^2}{EI}$<br>$\Delta_{max}$ (for overhang at $x_1 = a$) . . . . $= \frac{wa^3}{24EI}(4\ell + 3a)$<br>$\Delta_x$ (between supports) . . . . . . . $= \frac{wa^2x}{12EI\ell}(\ell^2 - x^2)$<br>$\Delta_{x_1}$ (for overhang) . . . . . . . . . $= \frac{wx_1}{24EI}(4a^2\ell + 6a^2x_1 - 4ax_1^2 + x_1^3)$ |  |

| د ريکشن، شير، مؤمنت، او خوځيدل ارزښتونه | بيم يوه څنډه کنتيليور او دوه اتکاء: تمرکزي لوډ په کنتيليور څنډه ايښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 = V_1 \dots = \frac{Pa}{\ell}$<br>$R_2 = V_1 + V_2 \dots = \frac{P}{\ell}(\ell + a)$<br>$V_2 \dots = P$<br>$M_{max}$ (at $R_2$) $\dots = Pa$<br>$M_x$ (between supports) $\dots = \frac{Pax}{\ell}$<br>$M_{x_1}$ (for overhang) $\dots = P(a - x_1)$<br>$\Delta_{max}$ $\left(\text{between supports at } x = \frac{\ell}{\sqrt{3}}\right) = \frac{Pa\ell^2}{9\sqrt{3}EI} = .06415\frac{Pa\ell^2}{EI}$<br>$\Delta_{max}$ (for overhang at $x_1 = a$) $\dots = \frac{Pa^2}{3EI}(\ell + a)$<br>$\Delta_x$ (between supports) $\dots = \frac{Pax}{6EI\ell}(\ell^2 - x^2)$<br>$\Delta_{x_1}$ (for overhang) $\dots = \frac{Px_1}{6EI}(2a\ell + 3ax_1 - x_1^{\ 2})$ |  |

| دریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه | بیم یوه څنډه کنتیلیور او دوه اتکاء: تمرکزي لوډ په یوه ټکی د اوږدوالي ایښودل شوي |
|---|---|

$R_1 = V_1$ (max when $a < b$) . . . . . . . $= \frac{Pb}{\ell}$

$R_2 = V_2$ (max when $a > b$) . . . . . . . $= \frac{Pa}{\ell}$

$M_{max}$ (at point of load) . . . . . . . . . $= \frac{Pab}{\ell}$

$M_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . . $= \frac{Pbx}{\ell}$

$\Delta_{max}\left(\text{at } x = \sqrt{\frac{a(a+2b)}{3}} \text{ when } a > b\right)$ . $= \frac{Pab(a+2b)\sqrt{3a(a+2b)}}{27EI\ell}$

$\Delta_a$ (at point of load) . . . . . . . . . . $= \frac{Pa^2b^2}{3EI\ell}$

$\Delta_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . . $= \frac{Pbx}{6EI\ell}(\ell^2 - b^2 - x^2)$

$\Delta_x$ (when $x > a$) . . . . . . . . . . . $= \frac{Pa(\ell - x)}{6EI\ell}(2\ell x - x^2 - a^2)$

$\Delta_{x_1}$ . . . . . . . . . . . . . . . . . . $= \frac{Pabx_1}{6EI\ell}(\ell + a)$




| د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه | بیم یوه برخه کنتیلیور او دوه اتکاء وي لرى: ویشل شوی لوډپه اوږدوالي  ایښودل شوي |
|---|---|

$R_1 = V_1$ . . . . . . . . . . . $= \frac{w}{2\ell}(\ell^2 - a^2)$

$R_2 = V_2 + V_3$ . . . . . . . . . $= \frac{w}{2\ell}(\ell + a)^2$

$V_2$ . . . . . . . . . . . . . . . $= wa$

$V_3$ . . . . . . . . . . . . . . . $= \frac{w}{2\ell}(\ell^2 + a^2)$

$V_x$ (between supports) . . . . $= R_1 - wx$

$V_{x_1}$ (for overhang) . . . . . . $= w(a - x_1)$

$M_1\left(\text{at } x = \frac{\ell}{2}\left[1 - \frac{a^2}{\ell^2}\right]\right)$ . . . . $= \frac{w}{8\ell^2}(\ell + a)^2(\ell - a)^2$

$M_2$ (at $R_2$) . . . . . . . . . . $= \frac{wa^2}{2}$

$M_x$ (between supports) . . . . $= \frac{wx}{2\ell}(\ell^2 - a^2 - x\ell)$

$M_{x_1}$ (for overhang) . . . . . . $= \frac{w}{2}(a - x_1)^2$

$\Delta_x$ (between supports) . . . . $= \frac{wx}{24EI\ell}(\ell^4 - 2\ell^2x^2 + \ell x^3 - 2a^2\ell^2 + 2a^2x^2)$

$\Delta_{x_1}$ (for overhang) . . . . . . $= \frac{wx_1}{24EI}(4a^2\ell - \ell^3 + 6a^2x_1 - 4ax_1^2 + x_1^3)$



| د ریکشن، شیر، مؤمنت ارزښتونه | بیم دواړه څنډي کنتیلیور او دوه اتکاء:<br>ویشلشوي لوډ په اوږدوالي ایښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 \ldots = \dfrac{w\ell\,(\ell - 2c)}{2b}$<br>$R_2 \ldots = \dfrac{w\ell\,(\ell - 2a)}{2b}$<br>$V_1 \ldots = wa$<br>$V_2 \ldots = R_1 - V_1$<br>$V_3 \ldots = R_2 - V_4$<br>$V_4 \ldots = wc$<br>$V_{x_1} \ldots = V_1 - wx_1$<br>$V_x \text{ (when } x < \ell) \ldots = R_1 - w(a + x_1)$<br>$V_m \text{ (when } a < c) \ldots = R_2 - wc$<br>$M_1 \ldots = -\dfrac{wa^2}{2}$<br>$M_2 \ldots = -\dfrac{wc^2}{2}$<br>$M_3 \ldots = R_1\left(\dfrac{R_1}{2w} - a\right)$<br>$M_x\left(\text{max when } x = \dfrac{R_1}{w} - a\right) \ldots = R_1 x - \dfrac{w(a + x)^2}{2}$ |  |

| د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه | بیم دواړه څنډي فیکسد: تمرکزی لوډ په وسط<br>د اوږدوالي ایښودل شوي |
|---|---|
| $R = V \ldots = \dfrac{P}{2}$<br>$M_{max} \text{ (at center and ends)} \ldots = \dfrac{P\ell}{8}$<br>$M_x\left(\text{when } x < \dfrac{\ell}{2}\right) \ldots = \dfrac{P}{8}(4x - \ell)$<br>$\Delta_{max} \text{ (at center)} \ldots = \dfrac{P\ell^3}{192EI}$<br>$\Delta_x\left(\text{when } x < \dfrac{\ell}{2}\right) \ldots = \dfrac{Px^2}{48EI}(3\ell - 4x)$ |  |

## بیم دواړه څنډي فیکسد: یو تمرکزی لوډ په اوړدوالي ایښودل شوي

### د ریکشن، شیر، مؤمنت، او خوځیدل ارزښتونه

$R_1 = V_1$ (max when $a < b$) . . . . . . $= \frac{Pb^2}{\ell^3}(3a + b)$

$R_2 = V_2$ (max when $a > b$) . . . . . . $= \frac{Pa^2}{\ell^3}(a + 3b)$

$M_1$ (max when $a < b$) . . . . . . . . $= \frac{Pab^2}{\ell^2}$

$M_2$ (max when $a > b$) . . . . . . . . $= \frac{Pa^2b}{\ell^2}$

$M_a$ (at point of load) . . . . . . . . . $= \frac{2Pa^2b^2}{\ell^3}$

$M_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . $= R_1x - \frac{Pab^2}{\ell^2}$

$\Delta_{max}\left(\text{when } a > b \text{ at } x = \frac{2a\ell}{3a + b}\right)$ . . . $= \frac{2Pa^3b^2}{3EI(3a + b)^2}$

$\Delta_a$ (at point of load) . . . . . . . . . $= \frac{Pa^3b^3}{3EI\ell^3}$

$\Delta_x$ (when $x < a$) . . . . . . . . . . . . $= \frac{Pb^2x^2}{6EI\ell^3}(3a\ell - 3ax - bx)$




## بیم دری پن اتکاء لري: ویشلشوي  لوډ په نیمه برخه د اوړدوالي ایښودل شوي

### د ریکشن، شیر، مؤمنت ارزښتونه

$R_1 = V_1$ . . . . . . . . . . . . . . . $= \frac{7}{16}w\ell$

$R_2 = V_2 + V_3$ . . . . . . . . . . . . $= \frac{5}{8}w\ell$

$R_3 = V_3$ . . . . . . . . . . . . . . . $= -\frac{1}{16}w\ell$

$V_2$ . . . . . . . . . . . . . . . . . . $= \frac{9}{16}w\ell$

$M_{max}\left(\text{at } x = \frac{7}{16}\ell\right)$ . . . . . . . . . $= \frac{49}{512}w\ell^2$

$M_1$ (at support $R_2$) . . . . . . . . . . . $= \frac{1}{16}w\ell^2$

$M_x$ (when $x < \ell$) . . . . . . . . . . . $= \frac{wx}{16}(7\ell - 8x)$



| د ريکشن، شير، مؤمنت، او خوځيدل ارزښتونه | بيم دواړه څنډي فيکسد: ويشلشوي لوډ په اوږدوالي ايښودل شوي |
|---|---|
| $R = V \dots = \frac{w\ell}{2}$<br>$V_x \dots = w\left(\frac{\ell}{2} - x\right)$<br>$M_{max}$ (at ends) $\dots = \frac{w\ell^2}{12}$<br>$M_1$ (at center) $\dots = \frac{w\ell^2}{24}$<br>$M_x \dots = \frac{w}{12}(6\ell x - \ell^2 - 6x^2)$<br>$\Delta_{max}$ (at center) $\dots = \frac{w\ell^4}{384EI}$<br>$\Delta_x \dots = \frac{wx^2}{24EI}(\ell - x)^2$ | |




| د ريکشن، شير، مؤمنت ارزښتونه | بيم درى پن اتکاءوي لري: يو تمرکزي لوډ په وسط د يو برخى د اوږدوالي ايښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 = V_1 \dots = \frac{13}{32}P$<br>$R_2 = V_2 + V_3 \dots = \frac{11}{16}P$<br>$R_3 = V_3 \dots = -\frac{3}{32}P$<br>$V_2 \dots = \frac{19}{32}P$<br>$M_{max}$ (at point of load) $\dots = \frac{13}{64}P\ell$<br>$M_1$ (at support $R_2$) $\dots = \frac{3}{32}P\ell$ | |



| د ريکشن، شير، مؤمنت ارزښتونه | بيم درى پن اتکاءوي لري: يو تمرکزي لوډ په اوږدوالي ايښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 = V_1 \;\dots\; = \frac{Pb}{4\ell^3}\left(4\ell^2 - a(\ell + a)\right)$<br>$R_2 = V_2 + V_3 \;\dots\; = \frac{Pa}{2\ell^3}\left(2\ell^2 + b(\ell + a)\right)$<br>$R_3 = V_3 \;\dots\; = -\frac{Pab}{4\ell^3}(\ell + a)$<br>$V_2 \;\dots\; = \frac{Pa}{4\ell^3}\left(4\ell^2 + b(\ell + a)\right)$<br>$M_{max}$ (at point of load) $\dots\; = \frac{Pab}{4\ell^3}\left(4\ell^2 - a(\ell + a)\right)$<br>$M_1$ (at support $R_2$) $\dots\; = \frac{Pab}{4\ell^2}(\ell + a)$ |  |

| د ريکشن، شير، مؤمنت ارزښتونه | بيم درى پن اتکاءوي لري: دوه تمرکزي لوډونه په اوږدوالي ايښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 = V_1 = R_3 = V_3 \;\dots\; = \frac{5P}{16}$<br>$R_2 = 2V_2 \;\dots\; = \frac{11P}{8}$<br>$V_2 = P - R_1 \;\dots\; = \frac{11P}{16}$<br>$V_{max} \;\dots\; = V_2$<br>$M_1 \;\dots\; = -\frac{3P\ell}{16}$<br>$M_2 \;\dots\; = \frac{5P\ell}{32}$<br>$M_x$ (when $x < a$) $\dots\; = R_1 x$ |  |

| دريكشن، شير، مؤمنت ارزښتونه | بيم درى پن اتكاءوي لري: دوه تمركزي لوډونه په اوږدوالي ايښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 \dots = \frac{M_1}{\ell_1} + \frac{P_1}{2}$<br>$R_2 \dots = P_1 + P_2 - R_1 - R_3$<br>$R_3 \dots = \frac{M_1}{\ell_2} + \frac{P_2}{2}$<br>$V_1 \dots = R_1$<br>$V_2 \dots = P_1 - R_1$<br>$V_3 \dots = P_2 - R_3$<br>$V_4 \dots = R_3$<br>$M_1 \dots = -\frac{3}{16}\left(\frac{P_1\ell_1^{\,2} + P_2\ell_2^{\,2}}{\ell_1 + \ell_2}\right)$<br>$M_{m_1} \dots = R_1 a$<br>$M_{m_2} \dots = R_3 b$ |  |



| د ريكشن، شير، مؤمنت، او خوځيدل ارزښتونه | بيم درى پن اتكاءوي لري: ويشلشوي لوډ په اوږدوالي ايښودل شوي |
|---|---|
| $R_1 = V_1 = R_3 = V_3 \dots = \frac{3w\ell}{8}$<br>$R_2 \dots = \frac{10w\ell}{8}$<br>$V_2 = V_{max} \dots = \frac{5w\ell}{8}$<br>$M_1 \dots = \frac{w\ell^2}{8}$<br>$M_2 \left(\text{at } \frac{3\ell}{8}\right) \dots = \frac{9w\ell^2}{128}$<br>$\Delta_{max}$ (at $0.4215\,\ell$, approx. from $R_1$ and $R_3$) $\dots = \frac{w\ell^4}{185EI}$ |  |

| بیم دری پن اتکاءوي لري: ویشلشوي لوډ په اوږدوالي ایښودل شوي | د ریکشن، شیر، مؤمنت ارزښتونه |
|---|---|

$$R_1 \; \ldots\ldots \; = \frac{M_1}{\ell_1} + \frac{w\ell_1}{2}$$

$$R_2 \; \ldots\ldots \; = w\ell_1 + w\ell_2 - R_1 - R_3$$

$$R_3 = V_4 \; \ldots\ldots \; = \frac{M_1}{\ell_2} + \frac{w\ell_2}{2}$$

$$V_1 \; \ldots\ldots \; = R_1$$

$$V_2 \; \ldots\ldots \; = w\ell_1 - R_1$$

$$V_3 \; \ldots\ldots \; = w\ell_2 - R_3$$

$$V_4 \; \ldots\ldots \; = R_3$$

$$M_1 \; \ldots\ldots \; = -\frac{w\ell_2^{\,3} + w\ell_1^{\,3}}{8(\ell_1 + \ell_2)}$$

$$M_{x_1}\left(\text{when } x_1 = \frac{R_1}{w}\right) \; \ldots\ldots \; = R_1x_1 - \frac{wx_1^{\,2}}{2}$$

$$M_{x_2}\left(\text{when } x_2 = \frac{R_3}{w}\right) \; \ldots\ldots \; = R_3x_2 - \frac{wx_2^{\,2}}{2}$$




| ساده بیم: ویشلشوی لوډ په یوه برخه د بیم | د ریکشن، شیر، مؤمنت ارزښتونه |
|---|---|

$$R_1 = V_1 \;(\max \text{ when } a < c) \; \ldots \; = \frac{wb}{2\ell}(2c + b)$$

$$R_2 = V_2 \;(\max \text{ when } a > c) \; \ldots \; = \frac{wb}{2\ell}(2a + b)$$

$$V_x \left(\text{when } x > a \text{ and } < (a + b)\right) \; \ldots \; = R_1 - w(x - a)$$

$$M_{max}\left(\text{at } x = a + \frac{R_1}{w}\right) \; \ldots \; = R_1\left(a + \frac{R_1}{2w}\right)$$

$$M_x \;(\text{when } x < a) \; \ldots \; = R_1x$$

$$M_x \left(\text{when } x > a \text{ and } < (a + b)\right) \; \ldots \; = R_1x - \frac{w}{2}(x - a)^2$$

$$M_x \left(\text{when } x > (a + b)\right) \; \ldots \; = R_2(\ell - x)$$



| د مخ سطح (Surface Area) | (Volume) حجم | جامد هندسي شکلونه |
|---|---|---|
| $6s^2$ | $S^3$ | مكعب (Cube )  |
| 2(wh +wd +dh) | wdh | (Rectangular Prism) منشور مستطيل  |
| $\pi r \sqrt{r^2 + h^2}$ | $\frac{\pi r^2 h}{3}$ | (Right Circular Cone) مدور راست مخروط  |
| د قاعدی مساحت (Area of base) | $\frac{Ah}{3}$ | (Pyramid) هرم  |
| $4\pi r^2$ | $\frac{4\pi r^3}{3}$ |  (Sphere) كره |
| $2\pi rh + 2\pi r^2$ | $4r^2h$ | (Cylinder) سيلندر  |

| (perimeter) محیط | (Area) مساحت | سطحی هندسه (Plane Geometry) |
|---|---|---|
| $2\pi r$ | $\pi r^2$ |  دایره |
| $2\pi\sqrt{\frac{a^2+b^2}{2}}$ | $\pi ab$ |  (Ellipse) بیضوي |
| 2a +2b | ab | (Rectangle) مستطیل  |
| 2(sum of adjacent sides) | bh | (parrellalogram) متوازی الاضلاع  |
| a+b+c | 1/2 bh | (Triangle) مثلث  |
| a+b+c | $c^2=a^2+b^2$ , ab/2<br>$\sin\theta$ =a/c<br>$\cos\theta$ =b/c<br>$\tan\theta$ =a/b | (Right Triangle) مثلث قایم زاویه  |
| n x S | $n\frac{s\left(\frac{1}{2}f\right)}{2}$<br>n = تعداد ضلع | (Regular Polygon) منظم خو ضلعي  |
| a+b+c+d | (1/2(a+b)h | (Trapezoid) ذوزنقه  |

| | |
|---|---|
| Mass 1 kg = 2.205 lbm<br>1 slug = 32.2 lbm 1 ton = 2000 lbm | ثابت ارزشتونه: ( g =9.8 m/$s^2$ = 32.27 ft/$s^2$)<br>G = 6.67 x $10^{-11}$ $m^3$/kg.$s^2$<br>$\pi$=3.1416 |
| تودوخی درجه<br>***Temperature Change***<br>1 K = 1 ºC<br>= 1.8 ºF<br>= 1.8 ºR | کتله<br>Mass 1 kg = 2.205 lbm<br>1 slug = 32.2 lbm<br>1 ton = 2000 lbm<br>Area 1 acre = 4047 $m^2$ = 43,560 $ft^2$ = 0.00156 $mi^2$ |
| وخت<br>***Time***<br>1 d = 24 h<br>1 h = 60 min<br>1 min = 60 s<br>1 yr = 365 d | اندازه<br>***Length***<br>1 m = 3.28 ft<br>1 km = 0.621 mi<br>1 in. = 2.54 cm<br>1 mi = 5280 ft<br>1 yd = 3 ft |
| توانايي<br>***Power***<br>1 W = 3.412 Btu/h<br>= 0.00134 hp<br>= 14.34 cal/min<br>= 0.7376 ft·$lb_f$/s | حجم<br>***Volume***<br>1L = 0.264 gal<br>= 0.0353 $ft^3$<br>= 33.8 fl oz<br>1mL = 1 $cm^3$ = 1 cc |
| واحدونه<br>1 J = 1 N·m<br>1 N = 1 kg·m / $s^2$<br>1 Pa = 1 N / $m^2$<br>1 V = 1 W / A<br>1 W = 1 J / s<br>1 W = 1 V / A<br>1 Hz = 1 $s^{-1}$ | فشار<br>***Pressure***<br>1 atm = 1.01325 bar<br>= 33.9 ft $H_2O$<br>= 29.92 in. Hg<br>= 760 mm Hg<br>= 101,325 Pa<br>= 14.7 psi<br>1psi = 2.31 ft of $H_2O$ |

**Numbers Greater Than One**

| Power of 10 | Prefix | Abbreviation |
|---|---|---|
| $10^1$ | deca- | da |
| $10^2$ | hecto- | h |
| $10^3$ | kilo- | k |
| $10^6$ | Mega- | M |
| $10^9$ | Giga- | G |
| $10^{12}$ | Tera- | T |
| $10^{15}$ | Peta- | P |
| $10^{18}$ | Exa- | E |
| $10^{21}$ | Zetta- | Z |
| $10^{24}$ | Yotta- | Y |

**Numbers Less Than One**

| Power of 10 | Prefix | Abbreviation |
|---|---|---|
| $10^{-1}$ | deci- | d |
| $10^{-2}$ | centi- | c |
| $10^{-3}$ | milli- | m |
| $10^{-6}$ | micro- | µ |
| $10^{-9}$ | nano- | n |
| $10^{-12}$ | pico- | p |
| $10^{-15}$ | femto- | f |
